IslamHouse.com
مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com
Rabwah

# د قیامت نښې نښانې



Pashto
بشتو

# حوادث وقت

لقمان حکیم حکمت

ⓒ **المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالربوة، ١٤٤١هـ**

**فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر**

عبدالبصير، لقمان حكيم

حوادث وفتن - اللغة البشتو . / لقمان حكيم عبدالبصير. - الرياض، ١٤٤١هـ

١٥٢ ص، ١٤ سم x ٢١ سم

ردمك : ١-٤٥-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨

١- الفتن في الاسلام أ. العنوان

**ديوي ٢١٢،٣ ١٤٤١/١٥٦٠**

**رقم الايداع: ١٤٤١/١٥٦٠**

**ردمك : ١-٤٥-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨**

مركز أصول
Osoul Center

أُعد هذا الكتاب وصمِّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.

+٩٦٦ ١١ ٤٤٥ ٤٩٠٠

+٩٦٦ ١١ ٤٩٧ ٠١٢٦

ص. ب. ٢٩٤٦٥ - الرياض ١١٤٥٧

osoul@rabwah.sa

www.osoulcenter.com


بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک


| | |
|---|---|
| پیلیزه | ۱۵ |
| له فتنو نه وړاندې نېکو عملونو ته توجه | ۱۷ |
| له فتنو څخه ډار د ايمان نښه ده! | ۱۷ |
| فتنې او هغه هم د باران په څېر!! | ۱۸ |
| د مسلمان قتل لويه فتنه ده! | ۱۸ |
| د فتنو په دور کې د عبادت ثواب! | ۱۹ |
| له دنيا سره مينه د هرې فتنې سر دی! | ۱۹ |
| ډېره دنياداري د هلاکت سبب جوړې دی شي | ۲۰ |
| په ډېره دنيا مه نازېږئ! | ۲۱ |
| فتنې او هغه هم د بادونو په شان! | ۲۱ |
| دومره غټه فتنه چې مدينه به هم کنډواله شي! | ۲۲ |
| پر امت د نبي صلی الله عليه وسلم عظيمه مهرباني! | ۲۳ |
| د فتنو په مهال بايد ايمان ټينګ وساتل شي! | ۲۳ |
| د ټولواک په ضد مظاهرې لويه فتنه ده! | ۲٤ |
| جنګ جګړې د مسلمان هلاکت دی! | ۲٥ |
| د فتنو په دور کې د علماؤ دنده | ۲٥ |
| پر فتنو باندې علم انسان له فتنې څخه ساتي! | ۲٦ |
| په زړونو کې ټکي لرل هم د قيامت نښه ده! | ۲۷ |
| ولړه دې وي خو له فتنو څخه وتښته! | ۲۸ |
| بدعمله سربراهان هم فتنه ده | ۲۹ |
| ترټولو غټه فتنه ددجال فتنه ده! | ۳۰ |
| د نبي صلی الله عليه وسلم بعثت هم د قيامت نښه ده! | ۳۱ |

| | |
|---|---|
| د مسلمانانو خپل منځي جنګونه د قیامت نښه ده! | ۳۱ |
| د بوتانو عبادت د قیامت بله نښه ده! | ۳۲ |
| له حجاز څخه اور به د قیامت نښه وي! | ۳۳ |
| د قیامت نښه دا هم ده چې له حضرموت نه به اور راووځي! | ۳٤ |
| د بدانو خلکو واک د قیامت نښه ده! | ۳٤ |
| دا هم د قیامت نښه ده چې حیوانات خبرې شروع کړي! | ۳٤ |
| د مال ډېروالی د قیامت نښه ده | ۳۵ |
| د قیامت ورې نښې نښانې | ۳۵ |
| د مال کثرت او دعلم ظهور د قیامت نښې دي | ۳٦ |
| د ښځو ډېرېدل د قیامت نښه ده | ۳٦ |
| د مال او ښځو ډېرښت د قیامت نښه ده | ۳۷ |
| د شرعي علم کمېدل هم د قیامت نښه ده | ۳۷ |
| مسجد کې د امام نه شتون د قیامت نښه ده | ۳۸ |
| اخلاقي معیارونه ورکېدل د قیامت نښه ده | ۳۸ |
| د بې وسه خلکو مالي شتمني د قیامت نښه ده | ۳۹ |
| دقیامت پنځلس ناکاره نښې | ۳۹ |
| د شرابو څښل تجویزول د قیامت نښه ده | ٤۰ |
| ګاني بجاني روا ګڼل د قیامت نښه ده | ٤۰ |
| بې دینه عالمان به شادوګان شي | ٤۱ |
| د امانت ورکېدل د قیامت نښه ده | ٤۱ |
| دشرعي علم ورکېدل د قیامت نښه ده | ٤۲ |
| په اخره زمانه کې به د قران حروف پورته شي | ٤۳ |
| د قیامت نښې پېژندل د ایمان نښه ده | ٤٤ |
| د قیامت نښو پېژندلو کې د صحابه کرامو ګړندیتوب | ٤۵ |

| | |
|---|---|
| مسلمانانو ته د دريو فتنو خطره | ٤٥ |
| داسې فتنې چې هر مسلمان به په خپیره ووهي | ٤٦ |
| فتنو څخه د ځان ساتلو بیان | ٤٨ |
| ارتداد ډېرېدل هم د قیامت نښه ده | ٤٩ |
| مقتول جوړ شه خو قاتل نه | ٥٠ |
| بې دینه ټولنه د قیامت نښه ده | ٥٠ |
| د قیامت نورې نښې | ٥١ |
| لږه دینداري هم د نجات سبب ګېدای شي | ٥٢ |
| د ښو خلکو مرګ د قیامت نښه ده | ٥٢ |
| له فتنو څخه باندو ته تښتېدلو بیان | ٥٣ |
| له تیکې څخه بغیر چا ته توره ورکول حرام دي | ٥٤ |
| د اسلام اولنۍ او اخرنۍ صفت | ٥٥ |
| غرباء څوک دي؟ | ٥٥ |
| اسلام به بېرته حجاز ته غوند شي | ٥٥ |
| ایمان به هم مدینې راټول شي | ٥٦ |
| د قیامت په ورځ د غرباؤ نورانیت | ٥٧ |
| غرباء تر هر چا الله ته نژدې دي | ٥٧ |
| غرباء به د نورو په نسبت کم وي | ٥٨ |
| ورځ تر بله هغه هم بدتره | ٥٩ |
| قتل او قتال د قیامت نښه ده | ٥٩ |
| مهاجر به بېرته خپل کلي کور ته نه ستنیږي | ٦٠ |
| مسلمان باید نه قاتل وي او نه مقتول | ٦٠ |
| کافر پر مسلمان نه شي مسلط کېدی | ٦١ |
| د فتنو جنګونه نه قلاریږي | ٦٢ |

| | |
|---|---|
| په فتنه کې د ژبې کارولو بد اغېز | ٦٣ |
| په فتنو کې ژبه کنترول کړئ | ٦٤ |
| ژبه مهارول له اور څخه نجات دی | ٦٤ |
| له فتنې څخه د خلاصون ښه علاجونه | ٦٧ |
| په فتنو کې سستي کول کامیابي ده | ٦٨ |
| له فتنو څخه برطرف انسان سعادتمند دی | ٦٩ |
| د قیامت له راتګ مخکې نښې نښانې | ٧٣ |
| د رومیانو سره د جنګونو بیان | ٧٣ |
| په اعماق او دابق کې له رومیانو سره جنګ د قیامت نښه ده | ٧٥ |
| د قسطنطینې له فتحې اووه کاله وروسته به دجال راووځي | ٧٩ |
| د مسلمان پر ضد د کافر یوکېدل د قیامت نښه ده | ٧٩ |
| په فرات کې د سرو زرو غر راڅرګندېدل د قیامت نښه ده | ٧٩ |
| د شام او عراق خوراکي توکي کمېدل هم د قیامت نښه | ٨٠ |
| د نصرانیانو ډېرېدل د قیامت نښه ده | ٨١ |
| دجال به کله راوځي؟ | ٨١ |
| قحطاني باچا راتلل د قیامت نښه ده | ٨٢ |
| د جهجاه په نوم ټولواک به دقیامت نښه وي | ٨٣ |
| د وېښتانو پیزار د قیامت دنزدېوالي نښه ده | ٨٣ |
| له ترکانو سره جنګ د قیامت نښه ده | ٨٣ |
| د بصرې ودانېدل د قیامت نښه ده | ٨٥ |
| اخر به هم فتح د مسلمانانو وي | ٨٥ |
| د فتنو په مهال به شام د ایمان کور وي | ٨٦ |
| د فتنو په وخت کې د مسلمانانو پناه ځایونه | ٨٦ |
| الله پاک له دین څخه دفاع له هرچا اخستی شي | ٨٧ |

| | |
|---|---|
| د قیامت غټې نښې | ۸۷ |
| هغه وختونه چې ایمان په کې نه قبلیږي | ۸۸ |
| د توبې دروازه او بد قسمته کافر | ۹۰ |
| توبه کله قبلیږي؟ | ۹۰ |
| د هغه لوګی نښې چې د قیامت علامه ده | ۹۰ |
| د ښارونو پرمختګ )ښه کار دی خو( د قیامت نښه ده | ۹۱ |
| دجال، د هغه صفت او له ورسره شیانو بیان | ۹۱ |
| د دجال په لاس مرګ تر هر څه ستر شهادت | ۹٦ |
| دجال لوی ازمېښت دی | ۹۸ |
| د جساسه متعلق بیان | ۱۰۰ |
| د مکې او مدینې ستر قداست | ۱۰۳ |
| یهودان د دجال لښکر دی | ۱۰٤ |
| دجال تر هر څه لویه فتنه ده | ۱۰٥ |
| د دجال د جنت او اور حقیقت | ۱۰٥ |
| دجال په ښیِ سترګه شیړا دی | ۱۰٦ |
| ابن صیاد ورکوټی دجال و | ۱۰۷ |
| د دجال د راتلو سبب | ۱۰۸ |
| د دجال له فتنې نه د تحفظ چارې | ۱۰۸ |
| په ژوندینه څوک الله نه شي لیدلی | ۱۰۸ |
| یهودان او ازلي شقاوت | ۱۰۹ |
| دجال به د الوهیت او نبوت دعویدار وي | ۱۰۹ |
| د عیسی علیه السلام د نزول بیان | ۱۱٥ |
| عیسی علیه السلام به مقتدي وي | ۱۱٦ |
| د عیسی علیه السلام نیکه حکمراني | ۱۱٦ |

| | |
|---|---|
| د دجال د راتلو وخت | ۱۱۷ |
| د قيامت له سختۍ نه به مسلمان محفوظ وي | ۱۱۷ |
| د لمر راختو وروسته د دنيا بقاء! | ۱۱۸ |
| عربان به بېرته بدپرست شي | ۱۱۹ |
| په مدينه کې اوسېدل او له قيامت څخه وراندې د مدينې ابادي | ۱۱۹ |
| مدينه به محاصره شي | ۱۲۰ |
| د مدينې کنډواله کېدل د قيامت نښه ده | ۱۲۰ |
| مدينه به کله کنډواله شي؟ | ۱۲۰ |
| مدينه کې به هم ايمان لو شي! | ۱۲۱ |
| چې دين ازمېښت شي قيامت به نږدې شي! | ۱۲۱ |
| د کعبې نړېدل د قيامت نښه ده! | ۱۲۲ |
| د کعبې د ويجاړونکي نښې | ۱۲۲ |
| د کعبې ويجاړونکي نورې نښې | ۱۲۲ |
| د کعبې د ويجاړولو پيل | ۱۲۳ |
| پر مدينه باندې اقتصادي بنديز د قيامت نښه ده | ۱۲۳ |
| نېک خليفه خو د دنيا د زوال وخت | ۱۲٤ |
| د مهدي په باره کې بيان | ۱۲٤ |
| پر مدينه جنګي يرغل او د قيامت درشل | ۱۲٥ |
| د مکې په بريدګرو به خسف وشي | ۱۲٦ |
| د مهدي سخا | ۱۲۷ |
| مهدي د نبوت د کورنۍ غړی دی | ۱۲۷ |
| مهدي به د نبي صلی الله عليه وسلم همنامی وي | ۱۲۸ |
| ايا مهدي خپله عيسی عليه السلام دی؟ | ۱۲۸ |
| مسيح بن مريم او مسيح الدجال | ۱۲۹ |

| | |
|---|---|
| د دجال پیدائشي صفتونه | ۱۲۹ |
| دجال به په حقیقي مسلمان باندې هیڅ توان نه لري | ۱۲۹ |
| د دجال لښکر | ۱۳٤ |
| هر پیغمبر خپل امت له دجال نه ډارولی دی | ۱۳٤ |
| د دجال ښکاره نښې نښانې | ۱۳٥ |
| نیک عملونه له دجال څخه د خلاصون لار ده | ۱۳٥ |
| یاجوج ماجوج دومره ډېر دي | ۱۳٦ |
| فتنګر به هم د دجال په فتنه اخته شي | ۱۳٦ |
| د (ان شاء الله) د کلمې زور | ۱۳٦ |
| د دابې د راوتو ځای | ۱٤۱ |
| (دابه) به کافر او مسلمان هم پېژني | ۱٤۱ |
| د دابې تخلیقي کیفیت | ۱٤۲ |
| دابه به څنګه راڅرګنده شي؟ | ۱٤۳ |
| دابه به څومره غټه وي؟ | ۱٤٤ |
| هغه خلک چې قیامت به پرې راشي | ۱٤٤ |
| حقیقي مجاهدین به له دجال سره جنګ وکړي | ۱٤٥ |
| د دنیا ژوندګي | ۱٤٦ |
| اسلام دائمي دین دی | ۱٤۷ |
| د حق لپاره مجاهدین به تل غالبه وي | ۱٤۷ |

# پیلیزه

الحمد الله، والصلاة والسلام على خير خلق الله، وعلى اله وأصحابه و من والاه، ومن دعا بدعوته ومن اهتدى بهداه. اما بعد:

د ديني احکامو زده کړه د هر انسان فرض دي، دا چې په ديني احکامو باندې له انسان سره الله پاک محاسبه کوي، ثواب او عقاب ورکوي، جنت او دوزخ ورکوي، د حساب دغه ورځ پيژندل او تياری ورته نيول د الله د نيکو بندګانو شيوه ده.

تر هرڅه اړينه دا هم ده چې دا مهال ډېرى خلک په خپل خپل اسلوب باندې د قيامت له ځينو هغو نښو نښانو څخه انکار کوي چې اسلام يې صراحتا غږيدلی دی، لکه د عيسى عليه السلام نزول، دجال او د هغه نښې نښانې، او داسې نور...

په دې خاطر چې اسلامي دين په پاک او روڼ اسلوب تر لوستوال ورسيږي مونږ د محمد بن عبدالوهاب رحمه الله دا کتاب پښتو ته ژباړل اوجب الواجبات وګڼه، ترڅو د اسلامي احکامو او ديني جوانبو څخه منکرينو ته هم ځواب وي او هم قناعت.

په ياد کتاب کې ضعيف او کمزوري حديثونه هم شته، پر ځينو ځايونو مو تنبيه ورکړې او ځيني يې پاتې دي چې انشاء الله په راروانو چاپونو کې به لوستوال ته هغه هم روڼ او روښانه کړو.

د کومو علمي، ژباړنيزي يا املائي تيروتنو استدراک که لوستوال وکړي هيله ده په نيک نيت او د اجر او ثواب په غرض مو پرې خبر کړي، ترڅو پاتې لوستوالو ته ژباړل شوی تراث په ناسمو کلماتو ونه رسيږي او تصحيح يې وشي.

رب کائنات دې د ژباړې دا زیار زما او زما د مور او پلار او ټولې کورنۍ او جمله مسلمانانو لپاره د جهنم او قبر له عذابونو څخه د نجات سبب جوړ کړي.

امین

لقمان حکیم حکمت

Hekmat0344@gmail.com

## له فتنو نه وړاندې نېکو عملونو ته توجه

١ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، أَوْ يُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا». (صحيح مسلم كتاب الايمان: ١١٨، جامع الترمذي، كتاب الفتن: ٢١٩٥، مسند احمد: ٨٨٤٨)

له ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: د تورتمې شپې په څېر فتنو له راتګ نه مخکې نېکو عملونو ته وړاندې شئ، سړی به پګې سهار مومن او ماښام کافر وي، يا به ماښام مومن او سهار به کافر وي، خپل دين به د دنيا د سامان په بدل خرڅوي.

## له فتنو څخه ډار د ايمان نښه ده!

٢ عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: [خَرَجَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَزِعًا مُحْمَرًّا وَجْهُهُ، يَقُولُ: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ، فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ الْإِبْهَامِ، وَالَّتِي تَلِيهَا»، قَالَتْ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ الله أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ؟ قَالَ: «نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ»]. (صحيح البخاري: كتاب أحاديث الأنبياء: ٣٣٤٦، صحيح مسلم: كتاب الفتن واشراط الساعة: ٢٨٨٠، جامع الترمذي: كتاب الفتن: ٣٩٥٣).

له زينب بنت جحش رضي الله عنها نه روايت دی چې نبي كريم صلی الله عليه وسلم يوه ورځ د وېرې په حالت کې داسې راووت چې مخ يې تک سور و، او ويل يې: لااله الا الله، د هغه شر (فتنې) له کبله عربان هلاک شول چې ډېر رانږدې دی، خپله غتېه او د شهادت ګوته يې سره يو ځای کړې او وېويل: ياجوج

ماجوج په ديوال کې دومره سوری (سوراخ) وکړ، ما ورته وويل: ايا په داسې حالت کې به مونږ هلاکيږو چې نيکان خلک مو هم ترمنځ وي، هغه وويل: هو کله چې ګناهونه او فسق او فجور ډير شي.

## فتنې او هغه هم د باران په څير!!

۳ عَنْ أُسَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [أَشْرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُطُمٍ، مِنْ آطَامِ المَدِينَةِ، فَقَالَ: «هَلْ تَرَوْنَ مَا أَرَى، إِنِّي لأَرَى مَوَاقِعَ الفِتَنِ خِلاَلَ بُيُوتِكُمْ كَمَوَاقِعِ القَطْرِ»]. (صحيح البخاري كتاب الحج: ۱۸۷۸، صحيح مسلم: ۲۸۸۵، مسند احمد: ۲۱۷۴۸).

له اسامه رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د مديني په يوې غونډۍ وخوت، بيا يې وويل: ايا تاسو هغه څه وينئ چې زه يې وينم؟ زه ستاسو د کورونو تر شاوخوا فتنې (ابتلاګانې که هر ډول نوعيت ولري) د باران په څير عامې وينم

## د مسلمان قتل لويه فتنه ده!

۴ عَنْ سَالِمَ بْنَ عَبْدِالله بْنِ عُمَرَ، يَقُولُ: [يَا أَهْلَ الْعِرَاقِ مَا أَسْأَلَكُمْ عَنِ الصَّغِيرَةِ، وَأَرْكَبَكُمْ لِلْكَبِيرَةِ سَمِعْتُ أَبِي عَبْدَالله بْنَ عُمَرَ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ الْفِتْنَةَ تَجِيءُ مِنْ هَاهُنَا وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ مِنْ حَيْثُ يَطْلُعُ قَرْنَا الشَّيْطَانِ وَأَنْتُمْ يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ، وَإِنَّمَا قَتَلَ مُوسَى الَّذِي قَتَلَ، مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ، خَطَأً فَقَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُ: وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنَّاكَ فُتُونًا»]. (صحيح مسلم: ۲۹۰۵)

سالم وايي: ای عراقيانو! له ډيرو وړو تيروتنو اړوند پوښتنې کوئ او ترهر څه لويه ګناه مو ارتکاب کړې ده، ما مې له پلار عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه

اوریدلي دي چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې فتنه به له دغه اړخ څخه راپورته کیږي او مشرق ته یې اشاره وکړه له کوم ځای نه چې د شیطان ښکرونه راپورته کیږي، او ستاسو ځیني به د نورو ځینو څټونه (په توره) وهي، که څه هم موسی علیه السلام له ال فرعون څخه په تېروتنه کې قتل کړی وی خو بیا هم ورته الله وویل: تا نفس وواژه خو مونږ درته له غم څخه خلاصون درکړ او په رنګارنګ غمونو مو وازمولې.

## د فتنو په دور کې د عبادت ثواب!

٥ عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْعِبَادَةُ فِي الْهَرْجِ كَهِجْرَةٍ إِلَيَّ». (صحیح مسلم: ٢٩٤٨، سنن ابن ماجه: ٣٩٨٥، جامع الترمذي: ٢٢٠١، مسنداحمد: ٢٠٢٩٨)

له معقل بن یسار رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: د قتل (په فتنه کې) عبادت کول دومره ثواب لري لکه ماته (دمکې له فتح نه مخکې) هجرت کول.

## له دنیا سره مینه د هرې فتنې سر دی!

٦ عَبْدِالله بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنْ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «إِذَا فُتِحَتْ عَلَيْكُمْ فَارِسُ وَالرُّومُ، أَيُّ قَوْمٍ أَنْتُمْ؟» قَالَ عَبْدُالرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ: نَقُولُ كَمَا أَمَرَنَا اللهُ، قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوْ غَيْرَ ذَلِكَ، تَتَنَافَسُونَ، ثُمَّ تَتَحَاسَدُونَ، ثُمَّ تَتَدَابَرُونَ، ثُمَّ تَتَبَاغَضُونَ، أَوْ نَحْوَ ذَلِكَ، ثُمَّ تَنْطَلِقُونَ فِي مَسَاكِينِ الْمُهَاجِرِينَ، فَتَجْعَلُونَ بَعْضَهُمْ عَلَى رِقَابِ بَعْضٍ». (صحیح مسلم: ٢٩٦٢، سنن ابن ماجه: ٣٩٩٦).

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: پر تاسو چې کله فارس او روم فتح شي، نو تاسو به بیا څنګه خلک یئ؟ عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه وویل: مونږ به د الله حمد اوشکر ادا کو چې څنګه یې راته امر کړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ولې بدل به نه شئ؟ بلکې خپل منځ کې به سره دنیا کې له یو بل نه مخکې کیږئ، بیا به حسد وکړئ، بیا به له دین څخه په شا ولاړ شئ، بیا به بغض شروع کړئ، بیا به د ناداره مهاجرینو سره راپورته شئ او ځینې به په ځینو نورو واکدار جوړ کړئ.

## ډېره دنیاداري د هلاکت سبب جوړې دی شي

۷ عَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ بَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاح فَقَدِمَ بِمَالٍ منَ الْبَحْرَيْن، فَسَمعَت الْأَنْصَارُ بقُدُوم أَبي عُبَيْدَةَ، فَوَافَوْا صَلَاةَ الْفَجْر مَعَ رَسُول اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ، فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللَّه صَلَّى عَلَيْه وَسَلَّمَ انْصَرَفَ، فَتَعَرَّضُوا لَهُ، فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ حينَ رَآهُمْ، ثُمَّ قَالَ: «أَظُنُّكُمْ سَمعْتُمْ أَنَّ أَبَا عُبَيْدَةَ قَدمَ بشَيْءٍ؟» قَالُوا: أَجَلْ يَا رَسُولَ اللَّه، قَالَ: «فَأَبْشرُوا وَأَمِّلُوا مَا يَسُرُّكُمْ، فَوَاللَّه مَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ، وَلَكنِّي أَخْشَى أَنْ تُبْسَطَ الدُّنْيَا عَلَيْكُمْ كَمَا بُسطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا فَتُهْلككُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ»] (صحيح البخاري: ٦٤٢٥، صحيح مسلم: ٢٩٦١، جامع الترمذي: ٢٤٦٢، سنن ابن ماجه: ٣٩٩٧، مسنداحمد: ١٧٢٣٤).

له عمرو بن عوف رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوعبیده بحرین ته استولی و نو له هغه ځایه یې څه مال دولت راوړ، انصار چې د ابوعبیده له راتګ څخه وخبرېدل نو د سهار لمونځ ته تولو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره حاضري ورکړه، هغه ترې وپوښتل ګمان مې دی لکه چې د ابوعبیده له راتګ څخه خبر شوي یاستئ؟ هغوی وویل: هو د الله رسوله، نبي صلی الله علیه وسلم ورته وویل: مبارک مو شه او د هغه څه امید ولرئ چې تاسو به پرې خوشحاله شئ، لوړه په رب لایزال چې له فقر څخه پر تاسو ډار نه لرم، په دې

ویرېږم چې دنیا به دربانديې داسې پریمانه شي لکه په مخکنو خلکو چې پراخه شوې وه، تاسو به پکې د هغوی په څېر یو له بل نه مخکې شئ او داسې به مو هلاک کړي لکه هغوی چې یې هلاک کړي ول.

۸ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: [سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِتْنَةً أَضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ»]. (صحیح بخاري: ۵۰۹۶، صحیح مسلم: ۲۷۴۱، سنن ابن ماجه: ۳۹۹۸، جامع الترمذي: ۲۷۸۰، مسنداحمد: ۲۱۸۲۹).

له اسامة بن زید رضي الله عنه نه روایت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي ویل یې: ما له ځان نه وروسته په خلکو (نارینه و کې) له ښځو پرته بله ډېره ضررناکه فتنه نه ده پرېښې.

## په ډېره دنیا مه نازېږئ!

۹ عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الدُّنْيَا خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، وَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا، لِيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ، فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ». (صحیح مسلم: ۲۷۴۲، جامع الترمذي: ۲۱۹۱، سنن ابن ماجه: ۴۰۰۰، مسند احمد: ۱۱۱۶۹).

له ابوسعید خدري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: په یقین سره چې دنیا ډېره خوندوره او سرسبزه ده، الله پاک به پکې تاسو چارواکي ګرځوي، هغه ګوري چې څه کوئ! نو د دنیا او ښځو له فتنو نه ځان وساتئ.

## فتنې او هغه هم د بادونو په شان!

۱۰ عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [وَاللهِ إِنِّي لَأَعْلَمُ النَّاسِ بِكُلِّ

فِتْنَة هِيَ كَائِنَةٌ، فِيمَا بَيْنِي وَبَيْنَ السَّاعَة، وَمَا بي إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسَرَّ إِلَيَّ في ذَلِكَ شَيْئًا، لَمْ يُحَدِّثْهُ غَيْرِي، وَلَكِنْ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «وَهُوَ يُحَدِّثُ مَجْلِسًا أَنَا فِيهِ عَنِ الْفِتَنِ»، فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَهُوَ يَعُدُّ الْفِتَنَ: مِنْهُنَّ ثَلَاثٌ لَا يَكَدْنَ يَذَرْنَ شَيْئًا، وَمِنْهُنَّ فِتَنٌ كَرِيَاحِ الصَّيْفِ مِنْهَا صِغَارٌ وَمِنْهَا كِبَارٌ»، قَالَ حُذَيفَةُ: فَذَهَبَ أُولَئِكَ الرَّهْطُ كُلُّهُمْ غَيْرِيْ]. (صحيح مسلم: ٢٨٩١، مسند احمد: ٢٣٤٦٠)

له حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی فرمايي: قسم پر الله چې تاسو کې زه له ټولو هغو فتنو په تړاو ډېر ښه خبر يم چې زما او د قيامت ترمنځ راتلونکي دي، او دا ځکه چې ما ته يې رسول الله صلی الله عليه وسلم څه شمېر پټې ښودلې دي چې بل هيڅ چا ته يې نه دي ښودلې، په يو مجلس کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وويل چې زه هم پکې ناست وم او هغه يوه يوه فتنه شمېرله درې پکې داسې وې چې (دلوی والي له کبله به) هيڅ شی پرې نه ږدي ځينې يې د اوړې بادونو په څېر (اساني وې) چې ورې او غټې فتنې لرې، بيا حذيفه رضي الله عنه وويل: د هغه مجلس ټول غړي وفات شوي دي يو زه پکې پاتې يم.

## دومره غټه فتنه چې مدينه به هم کنډواله شي!

١١ عَنْ حُذَيْفَةَرَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: [أَخْبَرَنِي رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى أَنْ تَقُومَ السَّاعَةُ فَمَا مِنْهُ شَيْءٌ إِلَّا قَدْ سَأَلْتُهُ، إِلَّا أَنِّي لَمْ أَسْأَلْهُ: مَا يُخْرِجُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ مِنَ الْمَدِينَةِ؟] (صحيح مسلم: ٢٨٩، مسنداحمد: ٢٣٢٨١).

حذيفة رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم ما ته تر قيامته راتلونکې ټولې فتنې ښوولې دي، او د هرې فتنې باره کې مې ترې پوښتنه کړې ده خو له دې پوښتنه مې ترې نه ده کړې چې له مدينې څخه به د مدينې اوسيدونکي څه شی اوباسي؟

## پر امت د نبي صلى الله عليه وسلم عظيمه مهرباني!

۱۲ عَنْ أَبِي زَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الصُّبْحِ، ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ فَخَطَبَنَا حَتَّى حَضَرَتِ الظُّهْرُ، ثُمَّ نَزَلَ فَصَلَّى الظُّهْرَ، ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ فَخَطَبَنَا حَتَّى حَضَرَتِ الْعَصْرُ، ثُمَّ نَزَلَ فَصَلَّى الْعَصْرَ، فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ فَخَطَبَنَا حَتَّى غَابَتِ الشَّمْسُ، فَحَدَّثَنَا بِمَا كَانَ وَمَا هُوَ كَائِنٌ فَأَعْلَمُنَا أَحْفَظُنَا] (مسند احمد: ۲۲۸۸۸، صحيح مسلم: ۲۸۹۲)

له ابوزيد انصاري رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم مونږ. له د سهار لمونځ وکړ، بيا ممبر ته پورته او خطبه يې راکړه تر دې چې ماسپښين شو، بيا له ممبر نه راښکته شو او د ماسپښين لمونځ يې وکړ، بيا ممبر ته پورته شو او مونږ. ته يې خطبه راکړه تر دې چې مازديگر شو، بيا راښکته شو او د مازديګر لمونځ يې وکړ، بيا ممبر ته پورته شو او مونږ. ته يې خطبه وويله تر دې چې لمر پريوته، خو چې څومره فتنې مخکې تيرې شوې وې او څومره فتنې وروسته راځي له ټولو يې خبر کړو، په مونږ. کې پرې هغه څوک ښه خبر دی چې خبرې يې ورله ښې يادې کړې وي.

## د فتنو په مهال بايد ايمان ټينګ وساتل شي!

۱۳ عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّهُ لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ قَبْلِي إِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَيْهِ أَنْ يَدُلَّ أُمَّتَهُ عَلَى خَيْرِ مَا يَعْلَمُهُ لَهُمْ، وَيُنْذِرَهُمْ شَرَّ مَا يَعْلَمُهُ لَهُمْ، وَإِنَّ أُمَّتَكُمْ هَذِهِ جُعِلَ عَافِيَتُهَا فِي أَوَّلِهَا، وَسَيُصِيبُ آخِرَهَا بَلَاءٌ، وَأُمُورٌ تُنْكِرُونَهَا، وَتَجِيءُ فِتْنَةٌ فَيُرَقِّقُ بَعْضُهَا بَعْضًا، وَتَجِيءُ الْفِتْنَةُ فَيَقُولُ الْمُؤْمِنُ: هَذِهِ مُهْلِكَتِي، ثُمَّ تَنْكَشِفُ وَتَجِيءُ الْفِتْنَةُ، فَيَقُولُ الْمُؤْمِنُ: هَذِهِ هَذِهِ، فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُزَحْزَحَ عَنِ النَّارِ، وَيُدْخَلَ الْجَنَّةَ، فَلْتَأْتِهِ مَنِيَّتُهُ وَهُوَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَلْيَأْتِ إِلَى النَّاسِ الَّذِي يُحِبُّ أَنْ يُؤْتَى إِلَيْهِ، وَمَنْ بَايَعَ إِمَامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ، وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ، فَلْيُطِعْهُ إِنِ اسْتَطَاعَ، فَإِنْ جَاءَ آخَرُ

يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا عُنُقَ الْآخَرِ». (مسند احمد: ٦٧٩٣، صحیح مسلم: ١٨٤٤، سنن النسائي: ٤١٩١، سنن ابن ماجه: ٣٩٥٦).

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: له ما نه چې مخکې هر پیغمبر تېر شوی دی مکر دا پرې حق و چې خپل امت ته دومره خیر وښايي چې څومره پېژني، او له شر څخه يې دومره وډاروي چې څومره يې پېژني، ستاسو د دې امت عافيت په لومړيو کې دی، او اخرنيو ته به يې فتنې او نور داسې څه ورسيږي چې ستاسو له پامه بدي راځي، بيا به داسې فتنې راشي چې لومړۍ به يې پر خلکو باندې له ورستنۍ نه اسانه وي، فتنه به راشي مومن به ښکې ووايي چې دا به مې د هلاکت سبب جوړيږي خو ولې فتنه به ختمه شي او بله به راشي، بيا به مومن ووايي جې دا به مې د هلاکت سبب جوړيږي، نو که څوک غواړي چې له اور څخه سالم پاتې شي او جنت ته ولاړ شي نو په داسې حالت کې دې ورته مرګ راشي چې په الله او د اخرت په ورځ ايمان لري، او څوک چې د کوم سربراه سره بيعت او خالص عهد وکړي نو چې څومره يې توان وي نو هرومرو دې فرمانبرداري وکړي، خو که بل سربراه راشي نو په توره يې څټ ووهئ

## د ټولواک په ضد مظاهرې لويه فتنه ده!

١٤ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مَنْ كَرِهَ مِنْ أَمِيرِهِ شَيْئًا فَلْيَصْبِرْ، فَإِنَّهُ مَنْ خَرَجَ مِنَ السُّلْطَانِ شِبْرًا مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً». (صحيح البخاري: ٧٠٥٣، صحیح مسلم: ١٨٤٩، مسند احمد: ٧٠٥٤، سنن دارمي: ٢٥٦١).

له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: که د خپل سربراه نه څوک بد ووينې نو صبر دې پرې وکړي، ځکه څوک چې د باچا له اطاعت نه د لويشت په اندازه ووځي او مړ شي نو د جاهليت په مرګ به مړ شي.

## جنګ جګړې د مسلمان هلاکت دی!

۱۵ عَنْ عَبْدِاللَّه بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «تَدُورُ رَحَى الْإِسْلَامِ لِخَمْسٍ وَثَلَاثِينَ، أَوْ سِتٍّ وَثَلَاثِينَ، أَوْ سَبْعٍ وَثَلَاثِينَ، فَإِنْ يَهْلِكُوا فَسَبِيلُ مَنْ هَلَكَ، وَإِنْ يَقُمْ لَهُمْ دِينُهُمْ، يَقُمْ لَهُمْ سَبْعِينَ عَامًا». (سنن ابي داود: ۴۲۵۴، مسند احمد: ۳۷۳۰).

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د اسلام ميچن به پنځه ديرش (چې عثمان رضي الله عنه پکې شهيد شو، يا شپږ ديرش (چې جنګ جمل پکې منځ ته راغی) او يا اووه ديرش (چې جنګ صفين پکې واقع شو) کاله روانه وي، که له دې وروسته يې اختلاف وکړ نو د تېرو امتونو په څېر به هلاک شي، خو که اختلاف ونه کړي نو تر اويا کاله به يې ديني چارې خورا قوي وي.

## د فتنو په دور کې د علماؤ دنده

۱۶ عَنْ عَبْدِالله بْنِ سَلَامٍ، [لَمَّا أُرِيدَ عُثْمَانُ قَالَ لَهُ عُثْمَانُ: مَا جَاءَ بِكَ؟ قَالَ: جِئْتُ فِي نُصْرَتِكَ، قَالَ: اخْرُجْ إِلَى النَّاسِ فَاطْرُدْهُمْ عَنِّي فَإِنَّكَ خَارِجٌ خَيْرٌ لِي مِنْكَ دَاخِلٌ، فَخَرَجَ عَبْدُالله، إِلَى النَّاسِ فَقَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ كَانَ اسْمِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ فُلَانٌ فَسَمَّانِي رَسُولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَالله وَنَزَلَتْ فِيَّ: {وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى مِثْلِهِ فَآمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ} وَنَزَلَتْ فِيَّ {قُلْ كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِنْدَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ} إِنَّ لِلَّهِ سَيْفًا مَغْمُودًا عَنْكُمْ وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ قَدْ جَاوَرَتْكُمْ فِي بَلَدِكُمْ هَذَا الَّذِي نَزَلَ فِيهِ نَبِيُّكُمْ، فَاللَّهَ اللَّهَ فِي هَذَا الرَّجُلِ أَنْ تَقْتُلُوهُ، فَوَاللَّهِ إِنْ قَتَلْتُمُوهُ لَتَطْرُدُنَّ جِيرَانَكُمُ الْمَلَائِكَةَ، وَلَتَسُلُّنَّ سَيْفَ الله الْمَغْمُودَ عَنْكُمْ فَلَا يُغْمَدُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، قَالَ: فَقَالُوا: اقْتُلُوا الْيَهُودِيَّ وَاقْتُلُوا عُثْمَانَ]. (جامع الترمذي: ۳۲۵۶)

عبدالله بن سلام رضي الله عنه وايي: عثمان رضي الله عنه چې کله په شهادت رسول کېده ما ته يې وويل: څنګه راغلې؟ ما ورته وويل: ستا د مرستې لپاره، هغه وويل: خلکو ته ورشه او له ما څخه يې وشړه، که بهر ورشې له دې څخه بهتر دي چې له ماسره دننه يې، عبدالله بن سلام خلکو ته ووت او ورته يې وېويل: ای خلکو! په جاهليت کې مې فلانکی نوم و نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم راته عبدالله نوم کېښود، الله زما متعلق دا ايت هم نازل کړی دی (ژباړه د بني اسرائيلو يو ګواه د دې په مثل سره ګواهي کړې ده، پس هغه ايمان راوړ او تاسو لويي وکړه، بېشکه الله ظالم قوم ته هدايت نه کوي) او په ما کې الله دا هم نازل کړي دي (ژباړه: ته (ورته) ووايه: زما په مينځ کې او ستاسو په مينځ کې د ګواه په ډول الله بسنه کافي دی او هغه څوك (هم) چې له هغه سره د کتاب علم دی) لاهم له تاسو څخه د الله توره په تيکه کې ده، ملائک هم درسره د ښار په هغه ګاونډ کې اوسيږي چرته چې د الله نبي اوسېدلی دی، له الله څخه وډار شئ او دا سړی مه وژنئ، قسم په الله چې که مو مړ کړ خپل ګاونډيان ملايک به له ځانونو وشړئ، او په تيکه کې د الله توره به ځان پسې راوباسئ چې تر قيامته به بېرته تيکه کې نه ښودل شي، خلکو وويل: دا يهودي (عبدالله بن سلام) او عثمان دواړه مړه کړئ.

## پر فتنو باندې علم انسان له فتنې څخه ساتي!

١٧ عَنْ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: [كُنَّا عِنْدَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَقَالَ: أَيُّكُم يَحْفَظُ قَوْلَ رَسُولِ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في الْفتْنَة؟ فَقُلْتُ: أَنَا أَحْفَظُهُ كَمَا قَالَهُ، قَالَ: إِنَّكَ لَجَرِيءٌ فَهَات، فَقُلْتُ: فتْنَةُ الرَّجُلِ في أَهْلِه، وَمَالِه، وَوَلَده، وَجَارِه، تُكَفِّرُهَا الصَّلَاةُ، وَالصَّدَقَةُ، وَالأَمْرُ بِالْمَعْرُوف، وَالنَّهي عَنِ الْمُنْكَر فَقَالَ: لَيْسَ عَنْ هَذَا أَسْأَلُكَ، وَلَكنْ عَنِ الَّتي تَمُوجُ كَمَوْجِ الْبَحْرِ، فَقُلْتُ: لَا تَخَفْ يَا أَميرَ الْمُؤْمنينَ، فَإِنَّ بَيْنَكَ وَبَيْنَهَا بَابًا مُغْلَقًا، قَالَ: فَيُكْسَرُ الْبَابُ أَوْ يُفْتَحُ؟ قَالَ: قُلْتُ: بَلْ يُكْسَرُ، فَقَالَ عُمَرُ: إِذًا لَا يُغْلَقُ أَبَدًا، قُلْتُ: أَجَلْ، قَالَ: قُلْنَا: فَهَلْ يَعْلَمُ عُمَرُ

مَن الْبَابُ؟ قَالَ: نَعَمْ، كَمَا يَعْلَمُ أَنَّ دُونَ غَدٍ لَيْلَةً، وَذَلِكَ أَنِّي حُدِّثْتُهُ حَدِيثًا لَيْسَ بِالْأَغَالِيطِ، قَالَ شَقِيقٌ: فَهِبْنَا أَنْ نَسْأَلَهُ: مَنِ الْبَابُ؟ فَأَمَرْنَا مَسْرُوقًا فَسَأَلَهُ، فَقَالَ: الْبَابُ عُمَرُ]. (صحيح البخاري: ٣٥٨٦، صحيح مسلم: ١٤٤).

له حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی چې مونږ له عمر رضي الله عنه سره ناست وو هغه وويل: ايا له نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه څوک د فتنو متعلق څه ياداشت لري؟ ما ورته وويل: چې نبي صلى الله عليه وسلم هرڅه ويلي دي هغه راته ياد دي، هغه وويل: ته ډېر جرات لرې راته يې ووايه، ما ورته وويل: د انسان په اهل، مال، اولاد او ګاونډيتوب كې فتنه(واړه ګناهونه) لمونځ، صدقه، امر بالمعروف او نهي عن المنكر رژوي، هغه وويل: له دې پوښتنه درنه نه كوم، زه هغه فتنې يادوم چې د سمندر په څېر څپې وهي، ما ورته وويل: مه ډارېږه اميرالمؤمنينه! ستا او د فتنو ترمنځ بنده دروازه ده، هغه وويل: دغه دروازه به ماتيږي او كه بيرته كيږي به؟ ما ورته وويل: ماتيږي به، هغه وويل: بيا به هيڅكله بنده نه شي، ما ورته وويل، هو.. هو.. مونږ حذيفه رضي الله عنه ته وويل: عمررضي الله دروازه وپيژنده؟ هغه وويل: هو، داسې يې وپيژنده لكه د سبا ورځې چې يې وروسته د شپې راتلل پيژندل، او دا ځكه چې ما ورته يو حديث بيان كړی و چې بيخي غلط نه و، شقيق وايي: مونږ يريدو چې پوښتنه ترې وكړو چې (دروازه څوک ده؟) مسروق ته مو وويل: هغه ترې پوښتنه وكړه نو حذيفه رضي الله عنه وويل: دروازه عمر رضي الله عنه دی.

## په زړونو كې تكې لرل هم د قيامت نښه ده!

١٨ عَنْ نَصْرِ بْنِ عَاصِمٍ اللَّيْثِيِّ قَالَ: [أَتَيْنَا الْيَشْكُرِيَّ فِي رَهْطٍ مِنْ بَنِي لَيْثٍ، فَقَالَ: مَنِ الْقَوْمُ؟ قُلْنَا: بَنُو لَيْثٍ، أَتَيْنَاكَ نَسْأَلُكَ عَنْ حَدِيثِ حُذَيْفَةَ، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَلْ بَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ شَرٌّ؟ قَالَ: فِتْنَةٌ وَشَرٌّ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَلْ بَعْدَ هَذَا الشَّرِّ خَيْرٌ؟ قَالَ: يَا حُذَيْفَةُ، تَعَلَّمْ كِتَابَ اللَّهِ وَاتَّبِعْ مَا فِيهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَلْ بَعْدَ هَذَا الشَّرِّ خَيْرٌ؟ قَالَ: هُدْنَةٌ عَلَى دَخَنٍ، وَجَمَاعَةٌ عَلَى أَقْذَاءٍ، فِيهَا -أَوْ فِيهِمْ- قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، الْهُدْنَةُ عَلَى

الدَّخَنِ مَا هِيَ؟ قَالَ: لَا تَرْجِعُ قُلُوبُ أَقْوَامٍ عَلَى الَّذِي كَانَتْ عَلَيْهِ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّه، أَبَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ شَرٌّ؟ قَالَ: فِتْنَةٌ عَمْيَاءُ، صَمَّاءُ، عَلَيْهَا دُعَاةٌ عَلَى أَبْوَابِ النَّارِ، فَإِنْ مُتَّ يَا حُذَيْفَةُ وَأَنْتَ عَاضٌّ عَلَى جِذْلٍ، خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَتَّبِعَ أَحَدًا مِنْهُمْ]. (سنن ابي دواد: ۴۲۴۶).

نصر بن عاصم وايي: د بنوليث ځينو خلكو په ملتيا مونږ يشكري ته راغلو، هغه وپوښتل چې څوک يئ؟ مونږ وويل: بنوليث يو، تا ته راغلو چې دحذيفه رضي الله عنه حديث پوښتنه درنه كوو، هغه حديث ذكر كړ او بيا يې وويل: ما وويل: د الله رسوله ايا له دې خير وروسته شر شته؟ هغه وويل: فتنه او شر دواړه به وي، ما وويل: دالله رسوله! ايا له دغې شر وروسته خير شته؟ هغه وويل: اى حذيفه! او درې ځل يې وويل چې د الله كتاب زده كړه او د مافيه اتباع يې وكړه، وايي: بيا ما وويل چې د الله رسوله! ايا له دغه شر وروسته بيا خير شته؟ هغه وويل: خړې جوړجاړى او له خوګانو او عيبونو ډكه اجتماع به وي، ما وويل: د الله رسوله خړه پړه صلحه څه معنا؟ هغه وويل: د راغونډ شوو قومونو زړونه به د صلحې باوجود يو بل ته پاك نه وي، وايي: ما وويل: اى د الله رسوله! ايا له دې خير وروسته بل شر شته؟ هغه وويل: ړنده او كڼه فتنه به راپورته شئ، بلونكي به يې د اور په دروازه ولاړ وي، خو اى حذيفه! كه په داسې حالت كې مړ شې چې د بوټو په پوستكو دې ژامې ښخې كړې وي (د ولړې او اعتزال له لاسه) دا به درله له دې نه غوره وي چې په دغو خلكو كې د چا پيروكار شې.

## ولړه دې وي خو له فتنو څخه وتښته!

۱۹ عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ: [كَانَ النَّاسُ يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَيْرِ، وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنِ الشَّرِّ مَخَافَةَ أَنْ يُدْرِكَنِي، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّا كُنَّا فِي جَاهِلِيَّةٍ وَشَرٍّ، فَجَاءَنَا اللهُ بِهَذَا الْخَيْرِ، فَهَلْ بَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ شَرٌّ؟ قَالَ: نَعَمْ، فَقُلْتُ: هَلْ بَعْدَ ذَلِكَ الشَّرِّ مِنْ خَيْرٍ؟ قَالَ: نَعَمْ، وَفِيهِ دَخَنٌ قُلْتُ: وَمَا دَخَنُهُ؟ قَالَ: قَوْمٌ يَسْتَنُّونَ بِغَيْرِ سُنَّتِي، وَيَهْدُونَ بِغَيْرِ هَدْيِي، تَعْرِفُ

مِنْهُمْ وَتُنْكِرُ، فَقُلْتُ: هَلْ بَعْدَ ذَلِكَ الْخَيْرِ مِنْ شَرٍّ؟ قَالَ: نَعَمْ، دُعَاةٌ عَلَى أَبْوَابِ جَهَنَّمَ مَنْ أَجَابَهُمْ إِلَيْهَا قَذَفُوهُ فِيهَا، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، صِفْهُمْ لَنَا، قَالَ: نَعَمْ، قَوْمٌ مِنْ جِلْدَتِنَا، وَيَتَكَلَّمُونَ بِأَلْسِنَتِنَا، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، فَمَا تَرَى إِنْ أَدْرَكَنِي ذَلِكَ؟ قَالَ: تَلْزَمُ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَإِمَامَهُمْ، فَقُلْتُ: فَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُمْ جَمَاعَةٌ وَلَا إِمَامٌ؟ قَالَ: فَاعْتَزِلْ تِلْكَ الْفِرَقَ كُلَّهَا، وَلَوْ أَنْ تَعَضَّ عَلَى أَصْلِ شَجَرَةٍ حَتَّى يُدْرِكَكَ الْمَوْتُ وَأَنْتَ عَلَى ذَلِكَ]. (صحيح البخاري: ۷۰۸۴، صحيح مسلم: ۱۸۴۷)

حذيفه رضي الله عنه وايي: خلكو به له نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه د خير پوښتني كولې او ما به ترې د شر متعلق پوښتنې په دې خاطر كولې هسې نه پكې ښكېل نه شم، ما ورته وويل: اى د الله رسوله! مونږ خو په ډېر جهالت او بد حالت كې ول، الله پاک راته خير (اسلام) راكړ، ايا له دې خير وروسته شر شته؟ هغه وويل: هو، ما وويل: ايا له دغه شر وروسته څه خير شته؟ هغه وويل: هو، خو خير به خړپړ وي، ما وويل: څنګه به خړپړ وي، هغه وويل: داسې قوم به راشي چې زما له سنت پرته نورې طريقې به عملي كوي، او زما له ارشاداتو پرته به نور ارشادات مني، كله به د خير او كله به د شر كارونه كوي، ما وويل: ايا له دې خير وروسته بيا شر شته؟ هغه وويل: هو، د جهنم په دروازو به يې بلونكي ولاړ وي، كه يې څوک خبره ومني جهنم ته به يې وارتوي، ما وويل: اى د الله رسوله! ښه وضاحت يې راته وكړه، هغه وويل: ولې نه، زمونږ قام قبيل به وي، زمونږ په ژبه به خبرې كوي، ما وويل: د الله رسوله! ما ته دې څه حكم دى كه دغه وخت ته پاتې شم؟ هغه وويل: د مسلمانانو ټولې او امام سره يو ځاى شه، ما وويل: كه مسلمانان دغه مهال ټولى او امام ونه لري نو بيا؟ هغه وويل: له دغو ټولو ډلوټپلو جلا شه، كه څه هم د ونې په جرړې باندې ژامې ښخې كړې(د ولړې يا اعتزال له كبله) ترڅو مرګ درته راشي او ته په دغه حالت يې.

## بدعمله سربراهان هم فتنه ده

۲۰ وَفِي رِوَايَةِ مسلم ايضاً [يَكُونُ بَعْدِي أَئِمَّةٌ لَا يَهْتَدُونَ بِهُدَايَ، وَلَا

يَسْتَنُّونَ بِسُنَّتِي، وَسَيَقُومُ فِيهِمْ رِجَالٌ قُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الشَّيَاطِينِ فِي جُثْمَانِ إِنْسٍ، قَالَ: قُلْتُ: كَيْفَ أَصْنَعُ يَا رَسُولَ الله، إِنْ أَدْرَكْتُ ذَلِكَ؟ قَالَ: تَسْمَعُ وَتُطِيعُ لِلْأَمِيرِ، وَإِنْ ضُرِبَ ظَهْرُكَ، وَأُخِذَ مَالُكَ، فَاسْمَعْ وَأَطِعْ] (صحيح مسلم: ١٨٤٧).

د مسلم په روايت كې داسې هم دي: له ما وروسته به داسې سربراهان راشي چې زما له ارشاداتو پرته نور ارشادات او زما له سنتو پرته به د نورو طريقو پېروكار وي داسې خلک به پكې پېدا شي چې بدنا به انسانان خو زړونه به يې د شيطانانو وي، وايي: ما وويل: كه دغه مې راګير كړي نو څه وكړم؟ هغه وويل: د سربراه خبره دې واوره او ويې منه، كه څه هم په ملا (شا) ووهل شې مال او دولت دې واخستل شي خو خبره واوره او خبره ومنه.

## تر ټولو غټه فتنه د دجال فتنه ده!

٢١ وَفِي رِوَايَة: [إِنْ كَانَ لِلَّهِ خَلِيفَةٌ فِي الْأَرْضِ فَضَرَبَ ظَهْرَكَ، وَأَخَذَ مَالَكَ، فَأَطِعْهُ، وَإِلَّا فَمُتْ، وَأَنْتَ عَاضٌّ بِجِذْلِ شَجَرَة، قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: ثُمَّ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ مَعَهُ نَهْرٌ وَنَارٌ، فَمَنْ وَقَعَ فِي نَارِه، وَجَبَ أَجْرُهُ، وَحُطَّ وِزْرُهُ، وَمَنْ وَقَعَ فِي نَهْرِه، وَجَبَ وِزْرُهُ، وَحُطَّ أَجْرُهُ، قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: ثُمَّ هِيَ قِيَامُ السَّاعَةِ] (سنن ابي داود: ٤٢٤٤).

په بل روايت كې راځي: كه په ځمكه كې د الله خليفه وي او تا په شا شا هم ووهي، شتمني دې هم واخلي خو خبره يې ومنه، كه څه هم ته داسې حالت كې مړ شې چې د بوټې په جرړو دې (د ولړې يا اعتزال له كبله) خوله ټينګه ايښې وي، ما ورته وويل: بيا به څه وي؟ هغه وويل: بيا به دجال راووځي، له هغه سره به نهر (اوبه) او اور وي، كه په اور كې څوک ولوېږي اجر يې واجب شو او ګناه يې ورژيده، خو كه څوک يې په نهر كې ولوېږي ګناه يې واجب شوه او اجر ترې ورژېد، وايي: ما وويل: بيا به څه وي؟ هغه وويل: بيا به قيامت قائم شي.

## د نبي صلى الله عليه وسلم بعثت هم د قيامت نښه ده!

٢٢ عَنْ أَنَسِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ قَالَ: وَضَمَّ السَّبَّابَةَ وَالْوُسْطَى». (صحيح بخاري: ٥٣٠١ صحيح مسلم: ٢٩٥١، مسند احمد: ١٢٢٤٥)

ژباړه: له انس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: زه او قيامت داسې راغلي يو، سبابه او منځنۍ دواړه ګوتې يې سره نزدې کړې.

## د مسلمانانو خپل منځي جنګونه د قيامت نښه ده!

٢٣ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَقْتَتِلَ فِئَتَانِ عَظِيمَتَانِ، يَكُونُ بَيْنَهُمَا مَقْتَلَةٌ عَظِيمَةٌ، دَعْوَتُهُمَا وَاحِدَةٌ، وَحَتَّى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ، قَرِيبٌ مِنْ ثَلاَثِينَ، كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ، وَحَتَّى يُقْبَضَ العِلْمُ وَتَكْثُرَ الزَّلاَزِلُ، وَيَتَقَارَبَ الزَّمَانُ، وَتَظْهَرَ الفِتَنُ، وَيَكْثُرَ الهَرْجُ: وَهُوَ القَتْلُ، وَحَتَّى يَكْثُرَ فِيكُمُ المَالُ فَيَفِيضَ حَتَّى يُهِمَّ رَبَّ المَالِ مَنْ يَقْبَلُ صَدَقَتَهُ، وَحَتَّى يَعْرِضَهُ عَلَيْهِ، فَيَقُولَ الَّذِي يَعْرِضُهُ عَلَيْهِ: لاَ أَرَبَ لِي بِهِ، وَحَتَّى يَتَطَاوَلَ النَّاسُ فِي البُنْيَانِ، وَحَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ: يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ، وَحَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، فَإِذَا طَلَعَتْ وَرَآهَا النَّاسُ -يَعْنِي آمَنُوا- أَجْمَعُونَ، فَذَلِكَ حِينَ لاَ يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ، أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ نَشَرَ الرَّجُلاَنِ ثَوْبَهُمَا بَيْنَهُمَا، فَلاَ يَتَبَايَعَانِهِ وَلاَ يَطْوِيَانِهِ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدِ انْصَرَفَ الرَّجُلُ بِلَبَنِ لِقْحَتِهِ فَلاَ يَطْعَمُهُ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَهُوَ يُلِيطُ حَوْضَهُ فَلاَ يَسْقِي فِيهِ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ رَفَعَ أُكْلَتَهُ إِلَى فِيهِ فَلاَ يَطْعَمُهَا». (صحيح بخاري: ٧١٢١).

له ابوهريرة رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم

فرمايي: تر هغه به قيامت قائم نه شي چې دوه غټې ډلې سره جنګ ونه کړي، ترمنځ به يې ډېر قتلونه وشي او د دواړو دعوه به يوه وي، او ترڅو چې دېرشو ته نزدې لوی دروغجنان د نبوت دعوې وکړي او هر يو به ګمان کوي چې رسول دی، او تر دې چې علم پورته شي، زلزلې ډېرې شي، وختونه به زر تيرېږي، او فتنې به ښکاره شي، وژنې به ډېرې شي، مال به دومره ډېر شي چې مالدار به دې غم کې وي چې د صدقې اخستو څوک پيدا شي، که يې چا ته ورکوي هغه به ورته وايي: زه ورته اړتيا نه لرم، او تر دې چې خلک به په ابادۍ کې يو له بل سره ضدونه وکړي، او تر دې چې يو سړی به په قبر تېرېږي ارمان به وکړي چې کاشکې دې قبر کې زه وم، او تر دې چې لمر له لمرپرېواته نه راپورته شي، چې کله يې خلک له مغرب راپورته کېدل وويني نو ټول به ايمان راوړي، دغه وخت به له هېڅ چانه ايمان قبول نه شي مګر دا چې له مخکې يې ايمان راوړی وي او ايماني عملونه يې کړي وي، قيامت به ضرور په داسې حالت کې راشي چې دوو کسانو به ټوټه (رخت) خپور کړی وي، نه به يې پلور پېر وشي او نه به يې بېرته غونډه کړي، قيامت به هرومرو په داسې حالت کې راشي چې يو کس به اوښه لوشلې وي او شوده به يې ونه څښي، قيامت به هرومرو په داسې حالت کې راشي چې يو سړی به د اوښانو لپاره حوض اخېړ کوي خو اوښان به ترې خړوب نه کړي، او قيامت به هرومرو په داسې حالت کې راشي چې يو څوک به خولې ته نوړۍ پورته کوي خو وبه يې نه خوري.

## د بوتانو عبادت د قيامت بله نښه ده!

۲۴ عَنْ أَبي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَضْطَرِبَ أَلَيَاتُ نِسَاءِ دَوْسٍ، حَوْلَ ذِي الْخَلَصَةِ». (صحيح مسلم: ۲۹۰٦، مسند احمد: ۷٦۷۷).

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: تر هغه به د قيامت ورځ رانه شي چې د دوس قبيلې د ښځو کوناټي ذوالخلصه بوت نه د طواف له کبله وخوځېږي.

**٢٥** عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَا يَذْهَبُ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ حَتَّى تُعْبَدَ اللَّاتُ وَالْعُزَّى»، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ الله إِنْ كُنْتُ لَأَظُنُّ حِينَ أَنْزَلَ اللهُ: {هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ}، أَنَّ ذَلِكَ تَامًّا قَالَ: «إِنَّهُ سَيَكُونُ مِنْ ذَلِكَ مَا شَاءَ اللهُ، ثُمَّ يَبْعَثُ اللهُ رِيحًا طَيِّبَةً، فَتَوَفَّى كُلَّ مَنْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ، فَيَبْقَى مَنْ لَا خَيْرَ فِيهِ، فَيَرْجِعُونَ إِلَى دِينِ آبَائِهِمْ». (صحيح مسلم: ٢٩٠٧]

له عايشې رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم نه مې اوريدلي دي ويل يې: قيامت به قائم نه شي ترڅو د لات او عزی عبادت نه وي شوی، ما وويل: د الله رسوله! د دې ايت له نزول سره زما دا ګمان و چې حق به پوره شوی وي: (الله هغه ذات دی چې خپل رسول يې په هدايت او حق دين سره رالېږلی دی، د دې لپاره چې هغه (الله) دا (دين) په نورو ټولو دينونو باندې غالب کړي اګر که مشرکان (دا کار) بد ګڼي، هغه وويل: بيا به دا دين چې څومره د الله خوښه وي پاتې شي بيا به الله پاک خوندور باد راوالوځوي او ټول هغه څوک به وفات کړي چې د شړشم داني هومره ايمان هم پکې وي، او هغه څوک به پاتې شي چې هيڅ خير پکې نه وي نو د خپلو پلرونو دين ته به ستانه شي.

## له حجاز څخه اور به د قيامت نښه وي!

**٢٦** عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ [لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَخْرُجَ نَارٌ مِنْ أَرْضِ الحِجَازِ تُضِيءُ أَعْنَاقَ الإِبِلِ بِبُصْرَى]
(صحيح البخارى: ٧١١٨، صحيح مسلم: ٢٩٠٩

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: تر هغه به قيامت رانه شي چې د حجاز له ځمکې نه اور راووځي، او د بُصری(حوران) علاقه کې به پرې د اوښانو څټونه ښکاره شي.

## د قيامت نښه دا هم ده چې له حضرموت نه به اور راووځي!

۲۷ عَنْ عُمَرَ رَضيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَتَخْرُجُ نَارٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ أَوْ مِنْ نَحْوِ بَحْرِ حَضْرَمَوْتَ قَبْلَ يَوْمِ القِيَامَةِ تَحْشُرُ النَّاسَ»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: «عَلَيْكُمْ بِالشَّامِ». (جامع الترمذي: ۲۲۱۷، مسنداحمد: ۵۱۴۶)

له عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: قيامت نه مخکې به له حضرموت او يا د حضرموت له بحر څخه اور راووځي او خلک به راغونډوي صحابه و وويل: د الله رسوله ستا مونږ ته څه حکم دی؟ هغه وويل: تاسو بايد شام ته ولاړ شئ.

## د بدانو خلکو واک د قيامت نښه ده!

۲۸ عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ اليَمَانِ رَضيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَقْتُلُوا إِمَامَكُمْ، وَتَجْتَلِدُوا بِأَسْيَافِكُمْ، وَيَرِثَ دُنْيَاكُمْ شِرَارُكُمْ». (جامع الترمذي: ۲۱۷۰، ابن ماجه: ۴۰۴۱، مسند احمد: ۲۳۳۰۲)

له حذيفة بن اليمان رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی: زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما نفس يې په لاس کې دی چې قيامت به تر هغه رانه شي تر دې چې تاسو خپل امام ووژنئ، او په خپلو تورو يو بل ووهئ او د ددنيا واک مو ستاسو بدترين خلک واخلي.

## دا هم د قيامت نښه ده چې حيوانات خبرې شروع کړي!

۲۹ عَنْ أَبِي سَعِيْدِ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رُسُوْلُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُكَلِّمَ السِّبَاعُ الإِنْسَ، وَيُكَلِّمَ الرَّجُلَ عَذَبَةُ قَالَ سَوْطِهِ،

وَشِرَاكُ نَعْلِهِ، وَيُخْبِرُهُ فَخِذُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ». (جامع الترمذي: ۲۱۷۰، سنن ابن ماجه: ۴۰۴۳، مسند احمد: ۱۷۷۹۲

له ابوسعید خدري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: تر هغه به قیامت قائم نه شي چې درېندګان له انسانانو سره خبرې ونه کړي، د کوړې سر به له سړي سره خبرې وکړي، د پېزار وندنی به ورسره خبرې وکړي، ورون به يې ورسره خبرې وکړي چې له ده وروسته يې اهل څه کړي دي؟

## د مال ډېروالی د قیامت نښه ده

۳۰ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكْثُرَ الْمَالُ وَيَفِيضَ، حَتَّى يَخْرُجَ الرَّجُلُ بِزَكَاةِ مَالِهِ فَلَا يَجِدُ أَحَدًا يَقْبَلُهَا مِنْهُ، وَحَتَّى تَعُودَ أَرْضُ الْعَرَبِ مُرُوجًا وَأَنْهَارًا». (صحیح البخاري: ۱۴۱۲، صحیح مسلم: ۱۵۷، مسند احمد: ۹۳۹۵)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: تر هغه به قیامت رانه شي چې دولت به له حاجت نه ډېر شي، یو سړی به د خپل مال زکات وباسي خو څوک به يې ترې نه قبلوي، او د عربانو ځمکه به څړځایونه او نهرونه نهرونه شي.

## د قیامت وړې نښې نښانې

۳۱ عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيه وَسَلَّمَ قَالَ: «أَنَّ بَيْنَ يَدَي السَّاعَةِ تَسْلِيمَ الْخَاصَّةِ، وَفُشُوَّ التِّجَارَةِ، حَتَّى تُعِينَ الْمَرْأَةُ زَوْجَهَا عَلَى التِّجَارَةِ، وَقَطْعَ الْأَرْحَامِ، وَشَهَادَةَ الزُّورِ، وَكِتْمَانَ شَهَادَةِ الْحَقِّ، وَظُهُورَ الْقَلَمِ». (مسند احمد: ۳۸۷۰)

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: له قيامت نه مخکې به خلک په خاصو خلکو سلامونه اچوي، تجارت به ډېر شي تر دې چې ښځه به له خاوند سره په تجارت کې مرسته کوي، خپلولي به نه پالل کيږي، د دروغو ګواهي به وي او د قلم ښکاره کېدل (یعني کتابونه او لیکنې به ډېرې شي)

## د مال کثرت او د علم ظهور د قيامت نښې دي

٣٢ عَنْ عَمْرِو بْنِ تَغْلِبَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَفْشُوَ الْمَالُ وَيَكْثُرَ، وَتَفْشُوَ التِّجَارَةُ، وَيَظْهَرَ الْعِلْمُ». (سنن النسائي: ۴۴۵۶)

له عمرو بن تغلب رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: د قيامت له نښو دا هم ده چې مال به ډېر شي، تجارت به وده وکړي، او علم به ظاهر شي.

## د ښځو ډېرېدل د قيامت نښه ده

٣٣ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [لَأُحَدِّثَنَّكُمْ حَدِيثًا لاَ يُحَدِّثُكُمْ أَحَدٌ بَعْدِي، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ: أَنْ يَقِلَّ العِلْمُ، وَيَظْهَرَ الجَهْلُ، وَيَظْهَرَ الزِّنَا، وَتَكْثُرَ النِّسَاءُ، وَيَقِلَّ الرِّجَالُ، حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً القَيِّمُ الوَاحِدُ»]. (صحيح البخاري: ٨١، صحيح مسلم: ١٢٦٧، ترمذي: ٢٢٠٥، ابن ماجه: ۴٠۴۵، مسند احمد: ١٣٠٩٥)

انس بن مالک رضي الله عنه وايي: زه به درته ضرور يو حديث بيان کړم چې له ما نه وروسته به درته څوک دغه حديث بيان نه کړي، ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوريدلي دي ويل يې: د قيامت نښه دا هم ده چې علم به کم شي،

جهالت به ډېر شي، زنا به ښکاره شي، ښځې به ډېرې شي، سړي به کم شي، تر دې چې د پنځوسو ښځو به یو سرپرست وي.

## د مال او ښځو ډېر ښت د قیامت نښه ده

۳۴ عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَطُوفُ الرَّجُلُ فِيهِ بِالصَّدَقَةِ مِنَ الذَّهَبِ، ثُمَّ لَا يَجِدُ أَحَدًا يَأْخُذُهَا مِنْهُ، وَيُرَى الرَّجُلُ الْوَاحِدُ يَتْبَعُهُ أَرْبَعُونَ امْرَأَةً، يَلُذْنَ بِهِ، مِنْ قِلَّةِ الرِّجَالِ وَكَثْرَةِ النِّسَاءِ». (صحيح البخاري: ۱۴۱۴، صحیح مسلم: ۱۰۱۲)

له ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: په خلکو به خامخا داسي وخت راشي چې سړی به د خپلو سرو زرو زکات ګرځوي او داسې څوک به مونده نه کړي چې ترې واېې اخلي، له یو سړي پسې به څلوېښت زنانه وي (یو به يې سرپرست وي) د سړیو د کموالي له کبله، او د ښځو د کثرت د وجې نه.

## د شرعي علم کمېدل هم د قیامت نښه ده

۳۵ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ اللَّهَ لَا يَنْزِعُ العِلْمَ بَعْدَ أَنْ أَعْطَاكُمُوهُ انْتِزَاعًا، وَلَكِنْ يَنْتَزِعُهُ مِنْهُمْ مَعَ قَبْضِ العُلَمَاءِ بِعِلْمِهِمْ، فَيَبْقَى نَاسٌ جُهَّالٌ، يُسْتَفْتَوْنَ فَيُفْتُونَ بِرَأْيِهِمْ، فَيُضِلُّونَ وَيَضِلُّونَ». (صحيح البخاري: ۷۳۰۷، مسلم: ۲۶۷۳ جامع الترمذي: ۲۶۵۳، ابن ماجه: ۵۲،

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روایت دی چې ما له نبي صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي: کوم علم چې الله درکړی دی داسې يې درنه نه اخلي، بلکې د علماؤ په مرګ یې درنه اخلي، بیا به ناپوهه خلک پاتې شي، فتوې به ترې غوښتلی شي نو په خپلې رایې به فتوه ورکوي، خپله به هم ګمراه وي او نور به هم ګمراه کوي.

## مسجد کې د امام نه شتون د قيامت نښه ده

٣٦ عَنْ سَلَامَةَ بِنْتِ الْحُرِّ رَضِيَ اللهُ عَنهَا، قَالَتْ: [سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَتَدَافَعَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ لَا يَجِدُونَ إِمَامًا يُصَلِّي بِهِمْ»]. (سنن ابي داود: ٥٨١، سنن ابن ماجه: ٩٨٢).

له سلامت بنت الحر رضي الله عنها نه روايت دی چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي: د قيامت له نښو څخه دا هم ده چې د مسجد خلک به يو بل په زوره مخکې کوي خو د لمونځ لپاره به امام نه مومي.

## اخلاقي معيارونه ورکېدل د قيامت نښه ده

٣٧ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَيَأْتِي عَلَى النَّاسِ سَنَوَاتٌ خَدَّاعَاتُ، يُصَدَّقُ فِيهَا الْكَاذِبُ، وَيُكَذَّبُ فِيهَا الصَّادِقُ، وَيُؤْتَمَنُ فِيهَا الْخَائِنُ، وَيُخَوَّنُ فِيهَا الْأَمِينُ، وَيَنْطِقُ فِيهَا الرُّوَيْبِضَةُ قِيلَ: وَمَا الرُّوَيْبِضَةُ؟ قَالَ: الرَّجُلُ التَّافِهُ فِي أَمْرِ الْعَامَّةِ». (سنن ابن ماجه: ٤٠٣٦)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ډېر زر به په خلکو باندې ټګمار کلونه راشي، دروغجن به پکې رښتونی او رښتونی به روپکې دروغجن وګڼل شي، خيانتګر به پکې امانتګر او امانتګر به وريکې خيانتګر وګڼل شي، د خلکو په چارو کې به رويبضه خبرې شروع کړي، ورته ويل شول چې رويبضه څوک دی؟ هغه وويل: هغه سړی چې د عوامو په چارو کې علم نه لري.

## د بې وسه خلکو مالي شتمني د قيامت نښه ده

٣٨ وَفي حَديث جِبْريل: «أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَها، وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ في الْبُنْيَانِ». (صحيح مسلم: ٨، سنن ابي داود: ٤٦٩٥، سنن الترمذي: ٢٦١٠، سنن النسائي: ٤٩٩)

د جبریل په حدیث کې دي: ... چې وینځه به خپله باداره وزېږوي، پښې ابله لوڅ لغړ غریبانان شپونکي به په اوچتو بنګلو او ماڼو کې یو له بل سره مقابله وکړي.

## دقيامت پنځلس ناکاره نښې

٣٩ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِيْ طَالِب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا فَعَلَتْ أُمَّتِي خَمْسَ عَشْرَةَ خَصْلَةً حَلَّ بِهَا الْبَلَاءُ»، فَقِيلَ: وَمَا هُنَّ يَا رَسُولَ الله؟ قَالَ: «إِذَا كَانَ الْمَغْنَمُ دُوَلاً، وَالأَمَانَةُ مَغْنَمًا، وَالزَّكَاةُ مَغْرَمًا، وَأَطَاعَ الرَّجُلُ زَوْجَتَهُ، وَعَقَّ أُمَّهُ، وَبَرَّ صَدِيقَهُ، وَجَفَا أَبَاهُ، وَارْتَفَعَتِ الأَصْوَاتُ فِي الْمَسَاجِدِ، وَكَانَ زَعِيمُ القَوْمِ أَرْذَلَهُمْ، وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ، وَشُرِبَتِ الخُمُورُ، وَلُبِسَ الحَرِيرُ، وَاتُّخِذَتِ القَيْنَاتُ وَالمَعَازِفُ، وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الأُمَّةِ أَوَّلَهَا، فَلْيَرْتَقِبُوا عِنْدَ ذَلِكَ رِيحًا حَمْرَاءَ أَوْ خَسْفًا وَمَسْخًا». (جامع الترمذي: ٢٢١٠)

علي بن ابي طالب رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: زما امت چې پنځلس خویونه ترسره کړي نو عذاب به پرې راشي، چا وویل: دغه کوم خصلتونه دي؟ هغه وویل: کله چې غنیمت د خاصو خلکو ترمنځ تقسیم شي، زکات ورکول به تاوان وګڼل شي، خاوند به د خپلې ښځې پیروی وکړي او مور به ازار کړي، له ملګري سره به دوستي پالي خو پلار به نه پالي، په مسجدونو کې به اوازونه پورته شي، د قوم مشر به تر هر چا رزیل وي، د یو سړي عزت به په دې خاطر کیدی شي چې له شر نه یې په امان شي، شراب به وڅښل شي، ورېښم به واغوندل شي، سندرغاړې او سندریز الات چې کله منځ ته راشي،

د دې امت اخرني به په لومړنيو بد ووايي نو دغه مهال ددې انتظار کوه چې سور باد راوالوځي او خسف او مسخ به راشي.

## د شرابو څښل تجويزول د قيامت نښه ده

۴۰ عَنْ أَبِيْ مَالِك الأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ، يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا، يُعْزَفُ عَلَى رُءُوسِهِمْ بِالْمَعَازِفِ، وَالْمُغَنِّيَاتِ، يَخْسِفُ اللَّهُ بِهِمُ الْأَرْضَ، وَيَجْعَلُ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ».
(جامع الترمذي: ۳۶۸۸، سنن ابن ماجه: ۴۰۲۰، مسند احمد: ۱۸۰۷۳)

له ابومالک اشجعي رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي: زما له امت نه به ځيني خلک هرومرو په بل نوم باندې شراب وڅښي، پر سر به ورته ګانې بجانې غږولی شي، الله به پرې ځمکه وشکوي او شادوګان او خنزيران به ترې الله جوړ کړي.

## ګانې بجانې رواګڼل د قيامت نښه ده

۴۱ عَبْدُالرَّحْمَن بْنُ غَنْم الأَشْعَرِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو عَامِر أَوْ أَبُو مَالِك الْأَشْعَرِيُّ، وَاللَّه مَا كَذَبَنِي: سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ، يَسْتَحِلُّونَ الحِرَ وَالحَرِيرَ، وَالخَمْرَ وَالمَعَازِفَ، وَلَيَنْزِلَنَّ أَقْوَامٌ إِلَى جَنْبِ عَلَم، يَرُوحُ عَلَيْهِمْ بِسَارِحَة لَهُمْ، يَأْتِيهِمْ -يَعْنِي الفَقِيرَ- لِحَاجَة فَيَقُولُونَ: ارْجِعْ إِلَيْنَا غَدًا، فَيُبَيِّتُهُمُ اللَّهُ، وَيَضَعُ العَلَمَ، وَيَمْسَخُ آخَرِينَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ».
(صحيح البخاري: ۵۵۹۰)

عبدالرحمن بن غنم وايي چې ما ته ابوعامر يا ابومالک اشعري رضي الله عنهما وويل خو په الله قسم چې دروغ يې راته نه دي ويلي هغه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې: زما په قوم کې به هرومرو داسې قوم راشي چې زنا او ريښم، شراب او سندرې به حلالې ګڼي، او هرومرو به ځيني خلک د دنګ غر

لاندې راغونډ شي، يو چوپان به ورته د حاجت له مخې راشي دوی به ورته ووايي چې سبا راشه، خو د شپې له مخې به يې الله پاک هلاک کړي او غر به پرې راوغورځوي، او له پاتو نه به يې الله پاک تر قيامته پورې شادوګان او خنزيران جوړ کړي.

## پې دينه عالمان به شادوګان شي

**۴۲ وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مَرْفُوْعاً: «يُكُوْنُ فِيْ أُمَّتِيْ فَزْعَةٌ فَيَصِيْرُ النَّاسُ الَى عُلَمَائِهِمْ، فَاذَا هُمْ قِرَدَةٌ وَخَنَازِيرُ».**

ابوامامة رضي الله عنه مرفوعا ذكر كوي چې زما په امت كې به وېره پيدا شي نو خلك به علماؤ ته ورشي نو هغوی شادوګان او خنزيران جوړ شوي وي.

## د امانت ورکېدل د قيامت نښه ده

۴۳ عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَيْنِ، رَأَيْتُ أَحَدَهُمَا وَأَنَا أَنْتَظِرُ الآخَرَ: حَدَّثَنَا: «أَنَّ الأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ، ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ القُرْآنِ، ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ السُّنَّةِ»، وَحَدَّثَنَا عَنْ رَفْعِهَا قَالَ: «يَنَامُ الرَّجُلُ النَّوْمَةَ، فَتُقْبَضُ الأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ، فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الوَكْتِ، ثُمَّ يَنَامُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ فَيَبْقَى أَثَرُهَا مِثْلَ المَجْلِ، كَجَمْرٍ دَحْرَجْتَهُ عَلَى رِجْلِكَ فَنَفِطَ، فَتَرَاهُ مُنْتَبِرًا وَلَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ، فَيُصْبِحُ النَّاسُ يَتَبَايَعُونَ، فَلاَ يَكَادُ أَحَدٌ يُؤَدِّي الأَمَانَةَ، فَيُقَالُ: إِنَّ فِي بَنِي فُلاَنٍ رَجُلًا أَمِينًا، وَيُقَالُ لِلرَّجُلِ: مَا أَعْقَلَهُ وَمَا أَظْرَفَهُ وَمَا أَجْلَدَهُ، وَمَا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ وَلَقَدْ أَتَى عَلَيَّ زَمَانٌ وَمَا أُبَالِي أَيَّكُمْ بَايَعْتُ، لَئِنْ كَانَ مُسْلِمًا رَدَّهُ عَلَيَّ الإِسْلاَمُ، وَإِنْ كَانَ نَصْرَانِيًّا رَدَّهُ عَلَيَّ سَاعِيهِ، فَأَمَّا اليَوْمَ: فَمَا كُنْتُ أُبَايِعُ إِلَّا فُلاَنًا وَفُلاَنًا». (صحيح البخاري: ٦٤٩٧، صحيح مسلم: ١٤٣)

له حذيفة رضي الله عنه نه روايت دی چې مونږ ته رسول الله صلى الله عليه وسلم دوه حديثونه بيان کړي وو يو مې وليد او د دوهم انتظار کوم: راته يې ويلي وو چې امانت

د خلکو په اصلیت (خویونو) کې راغلی دی او بیا یې له قران څخه زده کړې دی، او بیا یې له سنت څخه زده کړ، او د امانت له پورته کېدو یې هم راته ویلي دي چې یو سړی به ویده شي چې راپورته شي له زړه څخه به یې امانت اخستل شوی وي، نو د امانت اثر به لکه د اور داغ پرې پاتې وي، بیا به ویده شي خو د امانت اثر به پرې د تناکې په څېر پاتې وي، لکه په خپه چې د اور بڅرکی ورغړوې او پوکنۍ شي، نو په جسم پوکنۍ ولاړه وي او څه پکې نه وي، خلک به خپل منځ کې اخستل او خرڅول کوي خو څوک به پکې امانت نه ادا کوي، ویل کیږي به چې په فلانکي قبیله کې امانتګر دی، سړي ته به ویل شي چې دا څومره ښه، صبرناک او قوي مومن دی او په زړه کې به یې د شړشم داني په څېر ایمان هم نه وي، له دې وړاندې پر ما داسې وخت راغلی و چې ددې پرواګیر نه وم چې له چاسره مې بیعت وکړ (ځکه چې په امانت یې باوری وم) خو که مسلمان وي نو د اسلام له مخې به مې راته امانت راکړي او که نصراني وي نو پر هغه واکدار به یې ترې راله واخلي خو نن له پلانکی او پلانکی پرته له هیڅ چا سره بیعت نه کوم.

❁ ❁ ❁

## د شرعي علم ورکېدل د قیامت نښه ده

۴۴ عَنْ زِيَادِ بْنِ لَبِيدٍ رضي الله عنه قَالَ: [ذَكَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا، فَقَالَ: «ذَاكَ عِنْدَ أَوَانِ ذَهَابِ الْعِلْمِ»، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ يَذْهَبُ الْعِلْمُ، وَنَحْنُ نَقْرَأُ الْقُرْآنَ، وَنُقْرِئُهُ أَبْنَاءَنَا، وَيُقْرِئُهُ أَبْنَاؤُنَا أَبْنَاءَهُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ؟ قَالَ: «ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ زِيَادُ إِنْ كُنْتُ لَأَرَاكَ مِنْ أَفْقَهِ رَجُلٍ بِالْمَدِينَةِ، أَوَلَيْسَ هَذِهِ الْيَهُودُ، وَالنَّصَارَى، يَقْرَءُونَ التَّوْرَاةَ، وَالْإِنْجِيلَ لَا يَعْمَلُونَ بِشَيْءٍ مِمَّا فِيهِمَا؟». (سنن ابن ماجه: ۴۰۴۸، مسند احمد: ۱۷۹۱۹)

زیاد بن لبید رضي الله عنه وایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د څه یاداشت وکړ ویې فرمایل: دا هله چې علم له منځه لاړ شي، ما وویل: د الله رسوله! علم به څنګه لاړ شي او لا قران لولو او بچو ته یې زده کوو، او هغوی به یې خپلو بچو ته ورزده کوي ان ترقیامته پورې؟ هغه وویل: زیاده! مور دربانديې بوره شه ما خو اټکلوله چې ته د مدینې په خلکو کې ښه عالم یې، ایا یهودانو او نصرانیانو

تورات او انجیل تر اوسه نه لوست؟ خو ولې په احکامو یې ورله عمل نه کو.

۴۵ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِرضي الله عنه قَالَ: [كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَخَصَ بِبَصَرِهِ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ قَالَ: «هَذَا أَوَانُ يُخْتَلَسُ العِلْمُ مِنَ النَّاسِ حَتَّى لَا يَقْدِرُوا مِنْهُ عَلَى شَيْءٍ»، فَقَالَ زِيَادُ بْنُ لَبِيدٍ الأَنْصَارِيُّ: كَيْفَ يُخْتَلَسُ مِنَّا وَقَدْ قَرَأْنَا القُرْآنَ فَوَاللَّهِ لَنَقْرَأَنَّهُ وَلَنُقْرِئَنَّهُ نِسَاءَنَا وَأَبْنَاءَنَا، فَقَالَ: «ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا زِيَادُ، إِنْ كُنْتُ لَأَعُدُّكَ مِنْ فُقَهَاءِ أَهْلِ المَدِينَةِ هَذِهِ التَّوْرَاةُ وَالإِنْجِيلُ عِنْدَ اليَهُودِ وَالنَّصَارَى فَمَاذَا تُغْنِي عَنْهُمْ؟»، قَالَ جُبَيْرٌ: فَلَقِيتُ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ، قُلْتُ: أَلَا تَسْمَعُ إِلَى مَا يَقُولُ أَخُوكَ أَبُو الدَّرْدَاءِ؟ فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي قَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ قَالَ: صَدَقَ أَبُو الدَّرْدَاءِ، إِنْ شِئْتَ لَأُحَدِّثَنَّكَ بِأَوَّلِ عِلْمٍ يُرْفَعُ مِنَ النَّاسِ؟ الخُشُوعُ، يُوشِكُ أَنْ تَدْخُلَ مَسْجِدَ جَمَاعَةٍ فَلَا تَرَى فِيهِ رَجُلًا خَاشِعًا]. (جامع الترمذي: ۲۶۵۳، سنن الدارمي: ۲۹۶)

له ابودرداء رضي الله عنه نه روایت دی چې مونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو چې اسمان ته یې سترګې پورته کړې، بیا یې وویل: دا وخت به له خلکو څخه شرعي علم اختستل شوی وي تر دې چې هیڅ به هم نه پېژني، زیاد ورته وویل: علم به راڅخه څنګه واخستل شي او مونږ قران لوستی دی، قسم په الله چې قران به لولو او پر ښځو او بچو باندې به یې هم ولولو، هغه وویل: زیاده! مور دې دربانديې بوره شه، ما خو ته د مدینې په علماو کې شمېرلې، ولې یهود او نصرانیان تورات او انجیل نه لولي؟ څه ګټه یې ورته ورسوله، جبیر وایي: زه له عباده رضي الله عنه سره مخامخ شوم ورته مې وویل چې ورور ابو درداء دې څه وایي وا دې نه اورېدل؟ او بیا مې ورته د ابو درداء رضي الله عنه خبرې وکړې، هغه وویل: ابو درداء رښتیا ویلي دي، خو که ستا خوښه وي له دې به دې هم خبر کړم چې له خلکو نه به اولنی کوم علم پورته کیږي؟ خشوع به تر ټولو اول پورته شي، نزدې ده چې مسجد ته به داخل شې خو هیڅ څوک به پکې د خشوع والا ونه وینې.

## په اخره زمانه کې به د قران حروف پورته شي

۴۶ عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَدْرُسُ الْإِسْلَامُ كَمَا يَدْرُسُ وَشْيُ الثَّوْبِ، حَتَّى لَا يُدْرَى مَا صِيَامٌ، وَلَا صَلَاةٌ، وَلَا نُسُكٌ، وَلَا صَدَقَةٌ، وَلَيُسْرَى عَلَى كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ فِي لَيْلَةٍ، فَلَا يَبْقَى فِي الْأَرْضِ مِنْهُ آيَةٌ، وَتَبْقَى طَوَائِفُ مِنَ النَّاسِ الشَّيْخُ الْكَبِيرُ وَالْعَجُوزُ، يَقُولُونَ: أَدْرَكْنَا آبَاءَنَا عَلَى هَذِهِ الْكَلِمَةِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، فَنَحْنُ نَقُولُهَا»، فَقَالَ لَهُ صِلَةُ: مَا تُغْنِي عَنْهُمْ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَهُمْ لَا يَدْرُونَ مَا صَلَاةٌ، وَلَا صِيَامٌ، وَلَا نُسُكٌ، وَلَا صَدَقَةٌ؟ فَأَعْرَضَ عَنْهُ حُذَيْفَةُ، ثُمَّ رَدَّهَا عَلَيْهِ ثَلَاثًا، كُلَّ ذَلِكَ يُعْرِضُ عَنْهُ حُذَيْفَةُ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْهِ فِي الثَّالِثَةِ، فَقَالَ: يَا صِلَةُ، تُنْجِيهِمْ مِنَ النَّارِ ثَلَاثًا]. (سنن ابن ماجه: ۴۰۴۹).

حذيفه رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: اسلام به داسې زوړ شي لکه د جامو نقش چې زړيږي، تر دې چې روژه، لمونځ، قرباني او صدقات به څوک نه پېژني، په قران به يوه شپه راشي چې په ځمکه کې به ترې يو ايت هم نه وي پاتې، څه خلک نارينه او زنانه به تر ډېره ژوندي وي خلکو ته به وايي مونږ مو له پلرونو څخه لااله الا الله کلمه اورېدلې ده نو ځکه يې وايو، صله ورته وويل: لااله الا الله به ورته نو څه ګټه ورسوي چې روژه، لمونځ، قرباني او صدقات نه پېژني؟ حذيفه رضي الله عنه ترې مخ واړو درې ځل ورته صله خپله خبره تکرار کړه خو هغه ترې مخ واړو، په دريم ځل يې ورته درې ځل وويل: ای صله! لااله الا الله به يې له اور څخه وژغوري.

## د قيامت نښې پېژندل د ايمان نښه ده

۴۷ عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه قَالَ: [قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَامًا، مَا تَرَكَ شَيْئًا يَكُونُ فِي مَقَامِهِ ذَلِكَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ، إِلَّا حَدَّثَ بِهِ، حَفِظَهُ مَنْ حَفِظَهُ وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ، قَدْ عَلِمَهُ أَصْحَابِي هَؤُلَاءِ، وَإِنَّهُ لَيَكُونُ مِنْهُ الشَّيْءُ قَدْ نَسِيتُهُ فَأَرَاهُ فَأَذْكُرُهُ، كَمَا يَذْكُرُ الرَّجُلُ وَجْهَ الرَّجُلِ إِذَا غَابَ عَنْهُ، ثُمَّ إِذَا رَآهُ عَرَفَهُ] (صحيح مسلم: ۲۸۹۱).

حذيفه رضي الله عنه وايي چې نبي صلی الله علیه وسلم يو ځل مونږ کې ودرېد او چې تر قيامت څومره او څه ول تول يې راته ذکر کړ، که چا ياد کړي وي ورته

به ياد دا او كه يې نه وي ياد كړي ترې هېر به وي خو زما دا ملګري پرې هم پوهه دي، شايد له ما څخه ترې څه هېر شوي وي نو ياداشت يې څكه كوم چې بېرته يې ياد كړم، لكه څنګه چې سړي څخه د ملګري مخ (له ډېر فراق وروسته) هير شي خو چې يې وګوري نو ويې پېژني.

## د قيامت نښو پېژندلو کې د صحابه کرامو ګړندیتوب

۴۸ عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رضي الله عنه قال [وَاللَّه مَا أَدْرِي أَنَسِيَ أَصْحَابِي، أَمْ تَنَاسَوْا؟ وَاللَّه مَا تَرَكَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَائِدِ فِتْنَةٍ، إِلَى أَنْ تَنْقَضِيَ الدُّنْيَا، يَبْلُغُ مَنْ مَعَهُ ثَلَاثَ مِائَةٍ فَصَاعِدًا، إِلَّا قَدْ سَمَّاهُ لَنَا بِاسْمِهِ، وَاسْمِ أَبِيهِ، وَاسْمِ قَبِيلَتِهِ]. (سنن ابي داود: ۴۲۴۳)

حذيفة بن اليمان رضي الله عنه وايي: قسم پر الله نه پوهېږم چې زما له ملګرو به هېر شوي وي او كه په زوره يې هېر كړي دي، قسم په الله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هيڅ فتنې مخكښ نه دى پرېښى چې له دريو سوه بره پلويان به لري مګر مونږ ته يې دهغه د نوم، د پلار او قبيلې نوم ښودلى دى تر دې چې دنيا له منځه لاړه شي.

## مسلمانانو ته د دريو فتنو خطره

۴۹ عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: وَالله إِنِّي لَأَعْلَمُ النَّاسِ بِكُلِّ فِتْنَةٍ هِيَ كَائِنَةٌ، فِيمَا بَيْنِي وَبَيْنَ السَّاعَةِ، وَمَا بِي إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسَرَّ إِلَيَّ فِي ذَلِكَ شَيْئًا، لَمْ يُحَدِّثْهُ غَيْرِي، وَلَكِنْ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: وَهُوَ يُحَدِّثُ مَجْلِسًا أَنَا فِيهِ عَنِ الْفِتَنِ، فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَهُوَ يَعُدُّ الْفِتَنَ: مِنْهُنَّ ثَلَاثٌ لَا يَكَدْنَ يَذَرْنَ شَيْئًا، وَمِنْهُنَّ فِتَنٌ كَرِيَاحِ الصَّيْفِ مِنْهَاصِغَارٌ وَمِنْهَا كِبَارٌ]. (صحيح مسلم: ۲۸۹۱)

حذیفه رضي الله عنه وایي: زما دې په الله قسم وي چې په ټولو خلکو کې تر قیامته راروانو فتنوباندې به له ما نه بل څوک ډېر ښه عالم نه وي، دا ځکه چې ما ته يي پټې رسول الله صلي الله علیه وسلم داسې د راز خبره کړې ده چې بل هېڅ چا ته يي نه ده کړې، لکن هغه د فتنو متعلق په یو مجلس کې وویل چې زه هم پکې وم: درې فتنې پکې داسې (غټې) دي چې هېڅ به پرې نه ږدي، او ځینې پکې د اوړي بادونو په شان فتنې دي (اساني دي زر به تیرې شي) چې وړې او غټې دواړه به پکې وي.

## داسې فتنې چې هر مسلمان به په څپېړه ووهي

٥٠ عَنْ عُمَيْرِ بْنِ هَانِئٍ الْعَنْسِيِّ، قَالَ: [سَمِعْتُ عَبْدَاللَّهِ بْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: كُنَّا قُعُودًا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ، فَذَكَرَ الْفِتَنَ فَأَكْثَرَ فِي ذِكْرِهَا حَتَّى ذَكَرَ فِتْنَةَ الْأَحْلَاسِ، فَقَالَ قَائِلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا فِتْنَةُ الْأَحْلَاسِ؟ قَالَ: «هِيَ هَرَبٌ وَحَرْبٌ، ثُمَّ فِتْنَةُ السَّرَّاءِ، دَخَنُهَا مِنْ تَحْتِ قَدَمَيْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يَزْعُمُ أَنَّهُ مِنِّي، وَلَيْسَ مِنِّي، وَإِنَّمَا أَوْلِيَائِي الْمُتَّقُونَ، ثُمَّ يَصْطَلِحُ النَّاسُ عَلَى رَجُلٍ كَوَرِكٍ عَلَى ضِلَعٍ، ثُمَّ فِتْنَةُ الدُّهَيْمَاءِ، لَا تَدَعُ أَحَدًا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ إِلَّا لَطَمَتْهُ لَطْمَةً، فَإِذَا قِيلَ: انْقَضَتْ، تَمَادَتْ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا، وَيُمْسِي كَافِرًا، حَتَّى يَصِيرَ النَّاسُ إِلَى فُسْطَاطَيْنِ، فُسْطَاطِ إِيمَانٍ لَا نِفَاقَ فِيهِ، وَفُسْطَاطِ نِفَاقٍ لَا إِيمَانَ فِيهِ، فَإِذَا كَانَ ذَاكُمْ فَانْتَظِرُوا الدَّجَّالَ، مِنْ يَوْمِهِ، أَوْ مِنْ غَدِهِ»]. (سنن ابي داود: ۴۲۴۲، مسند احمد: ۶۱۶۸)

عمیر بن هانئ وایي چې ما له عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه واورېدل: مونږ له نبي صلی الله علیه وسلم سره ناست ول ډېرې فتنې يي يادې کړې تر دې چې احلاس (لازمي) فتنې يي هم ذکر کړې، چا وویل چې دالله رسوله! د احلاس فتنې لا څه شی دي؟ هغه وویل: د تیښتې او چور چپاول فتنه، بیا به د نعمتونو فتنه وي، زما د کورنۍ یو غړي له خپو لاندې به د لوګي په څېر راووځي، ګمان به کوي چې(په علمونو کې) زما په څېر دی خو زما په څېر به نه وي، زما دوستان متقیان دي، بیا به سره خلک په یو سړي داسې سوله شي لکه په پښتۍ چې ورون

وي(يعنې سړی به د مشرۍ لايق نه وي) بيا به توره تورتمه فتنه شروع شي، په امت کې به هېڅ څوک پاتې نه شي مګر په خپېړه به يې ووهي، چې ووېل شي فتنه ختمه شوه لا به پرې اوږده شي، په سهار کې به پکې سړی مسلمان وي په ماښام کې به کافر وي، په ماښام کې به کافر وي په سهار کې به مسلمان وي تر دې چې خلک به دوو خيمو (ډلو) ته وګرځي، د ايمان ټولګی چې نفاق پکې نه وي او دنفاق ټولګی چې ايمان پکې نه وي، چې دغه وخت راشي نو ددجال انتظار کوئ چې په دغه ورځ يا سبا کې به يې راشي.

٥١ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: [حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وِعَاءَيْنِ: فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَبَثَثْتُهُ، وَأَمَّا الآخَرُ فَلَوْ بَثَثْتُهُ قُطِعَ هَذَا البُلْعُومُ]. (صحيح البخاري: ١٢٠)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې دوه علمونه زده کړي دي، يو مې خپور کړ، او که دوهم مې خپور کړ نو حلق به مې پرې کړی شي.

٥٢ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه سَمِعْتُ الصَّادِقَ المَصْدُوقَ يَقُولُ: «هَلَكَةُ أُمَّتِي عَلَى يَدَيْ غِلْمَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ»، فَقَالَ مَرْوَانُ: لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ غِلْمَةً. فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: لَوْ شِئْتُ أَنْ أَقُولَ: بَنِي فُلاَنٍ، وَبَنِي فُلاَنٍ، لَفَعَلْتُ. فَكُنْتُ أَخْرُجُ مَعَ جَدِّي إِلَى بَنِي مَرْوَانَ حِينَ مُلِّكُوا بِالشَّأْمِ، فَإِذَا رَآهُمْ غِلْمَانًا أَحْدَاثًا قَالَ لَنَا عَسَى هَؤُلاَءِ أَنْ يَكُونُوا مِنْهُمْ؟ قُلْنَا: أَنْتَ أَعْلَمُ]. (صحيح البخاري: ٧٠٥٨، صحيح مسلم: ٢٩١٧، مسند احمد: ٨٠٠٥)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت چې ما له صادق او مصدوق څخه اورېدلي دي ويل يې: زما د امت هلاکت به دقريشو ځينو هلکانو له لاسه وي، مروان ووېل: په دغو هلکانو خو دې د الله لعنت وي، ابوهريرة رضي الله عنه ووېل: که مې خوښه وه ويلی به مې وی چې دوی بنو فلان او بنو فلان دي: عمرو بن يحي (دسند راوي دی) وايي: زه چې به کله له نيکه (سعيد بن عمرو) سره شام ته تللم چې بنو مروان ته پکې واک ورکړل شوی و، چې کله به يې ځوانان هلکان

ولیدل مونږ ته به یې ویل: شاید دوی هم د (لعنتیانو) له جملې څخه وي، مونږ به ویل: ته پرې ښه پوهېږې.

## فتنو څخه د ځان ساتلو بیان

۵۳ عَنْ أَبِي كَبْشَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا مُوسَى رضي الله عنه يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ، وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي، وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي»، قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: «كُونُوا أَحْلَاسَ بُيُوتِكُمْ». (سنن ابي داود: ۴۲۶۲، ۳۹۶۱).

ابوکبشه وايي چې ما له ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه واورېدل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: ستاسو مخې ته د تورتمې شپې په څېر فتنې راروانې دي، سهار به یو سړی مومن او ماښام به کافر وي، ناست به پکې له ولاړ څخه، ولاړ به پکې له روان څخه او روان به پکې له منډې وهونکې څخه بهتر وي، صحابه کرامو وویل: ته راته پکې څه وصیت کوې؟ هغه وویل: له خپلو کورونو پورې لازم شئ (کېنئ بهر مه راووځئ).

۵۴ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، قَالَ: [دَخَلْتُ عَلَى مُحَمَّدِ بْنِ مَسْلَمَةَ، فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ وَفُرْقَةٌ وَاخْتِلَافٌ، فَإِذَا كَانَ كَذَلِكَ فَأْتِ بِسَيْفِكَ أُحُدًا، فَاضْرِبْهُ حَتَّى يَنْقَطِعَ، ثُمَّ اجْلِسْ فِي بَيْتِكَ، حَتَّى تَأْتِيَكَ يَدٌ خَاطِئَةٌ، أَوْ مَنِيَّةٌ قَاضِيَةٌ»، فَقَدْ وَقَعَتْ وَفَعَلْتُ مَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ]. (سنن ابن ماجه: ۳۹۶۲، مسند احمد: ۱۶۰۲۹)

ابوبرده وايي زه محمد بن مسلمة رضي الله عنه ته ورغلم هغه وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: ډېر زر به فتنې، تفرقې او اختلافات راشي، که دغه وخت راشي نو توره به دې د احد غر ته راوړې او تر هغه پرې ګټې ووهه ترڅو پخه شي، بیا تر هغه کور کې کېنه چې یا دې ظلما څوک ووژني او یا د

تقدير په مرګ مړ شې، بيا دغسې فتنې راغلې او ما هغه وکړل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې راته سپارښتنه کړې وه.

۵۵ عَنْ عُدَيْسَةَ بِنْتِ أُهْبَانَ، قَالَتْ: لَمَّا جَاءَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ هَاهُنَا الْبَصْرَةَ، دَخَلَ عَلَى أَبِي، فَقَالَ: يَا أَبَا مُسْلِمٍ أَلَا تُعِينُنِي عَلَى هَؤُلَاءِ الْقَوْمِ؟ قَالَ: بَلَى، قَالَ: فَدَعَا جَارِيَةً لَهُ، فَقَالَ: يَا جَارِيَةُ أَخْرِجِي سَيْفِي، قَالَ: فَأَخْرَجَتْهُ، فَسَلَّ مِنْهُ قَدْرَ شِبْرٍ، فَإِذَا هُوَ خَشَبٌ، فَقَالَ: إِنَّ خَلِيلِي وَابْنَ عَمِّكَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَهِدَ إِلَيَّ إِذَا كَانَتِ الْفِتْنَةُ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ فَأَتَّخِذُ سَيْفًا مِنْ خَشَبٍ، فَإِنْ شِئْتَ خَرَجْتُ مَعَكَ، قَالَ: لَا حَاجَةَ لِي فِيكَ وَلَا فِي سَيْفِكَ]. (سنن ابن ماجه: ۳۹۶۰، جامع الترمذي: ۲۲۰۳)

عديسه بنت اهبان وايي: کله چې علي بن ابي طالب رضي الله عنه دلته بصرې ته راغی نو زما پلار ته راغی وېويل: ای ابو مسلمه! ددې خلکو پر ضد راسره مرسته نه شې کولې؟ هغه وويل: ولې نه، نو خپله وینځه یې راوغوښته او ورته يې وويل: ای وینځې! زما توره راوباسه، هغې ورته توره راوړه، د یوې لوېشت په اندازه يې له تیکي راوویسته نو لرګی و، نو ويېويل: زما دوست او ستا کاکا ځوی صلى الله عليه وسلم راته وصیت کړی و چې کله فتنې راشي نو د لرګي توره به جوړه کړې، نو که دې خوښه وي چې درسره ووځم، هغه وويل: نه تا ته او نه ستا تورې ته اړتيا لرم.

❁ ❁ ❁

## ارتداد ډېر بدل هم د قیامت نښه ده

۵۶ عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا، وَيُمْسِي كَافِرًا، وَيُمْسِي مُؤْمِنًا، وَيُصْبِحُ كَافِرًا، الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ، وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي، وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي، فَكَسِّرُوا قِسِيَّكُمْ، وَقَطِّعُوا أَوْتَارَكُمْ، وَاضْرِبُوا بِسُيُوفِكُمُ الْحِجَارَةَ، فَإِنْ دُخِلَ عَلَى أَحَدِكُمْ، فَلْيَكُنْ كَخَيْرِ ابْنَيْ آدَمَ». (سنن ابن ماجه: ۳۹۶۱، جامع الترمذي: ۲۲۰۴، سنن ا بي داود: ۴۲۵۹)

ابوموسى اشعري رضي الله عنه وايي چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د قيامت له راتګ نه مخکې به د تورتمې شپې په څېر فتنې راشي، سړی به پکې سهار مومن او ماښام کافر وي، ماښام به مومن او سهار به کافر وي، ناست به پکې له ولاړ نه، ولاړ به پکې له روان نه، او روان به پکې منډو وهونکي نه غوره وي، خپلې ليندې مو ماتې کړئ، خپل تارونه وشکوئ، او په تورو مو ګټې کمرې ووهئ، که تاسو باندې څوک راننوځي نو د ادم په زامنو کې غوره ترينه ځوی په څېر جوړ شه.

## مقتول جوړ شه خو قاتل نه

۵۷ عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْحَدِيث، قَالَ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّه، أَرَأَيْتَ إِنْ دَخَلَ عَلَيَّ بَيْتِي وَبَسَطَ يَدَهُ لِيَقْتُلَنِي؟ قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُنْ كَابْنَيْ آدَمَ، وَتَلَا يَزِيدُ: {لَئِنْ بَسَطْتَ إِلَيَّ يَدَكَ} [المائدة: ٢٨]». (سنن ابي داود: ۴۲۵۷).

سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وايي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته ما وويل: اى د الله رسوله! که زما کور ته څوک راننوځي او لاس راوږد کړي چې ما ووژني نو بيا؟ هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: د ادم د ددو بچو په څېر شه، بيا يزيد دا ايت ولوست: که ته راته خپل لاس وغځوي نو...

## يې دينه تړلنه د قيامت نښه ده

۵۸ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عَمْرِو بْنِ العَاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كَيْفَ بِكُمْ وَبِزَمَانٍ أَوْ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ زَمَانٌ يُغَرْبَلُ النَّاسُ فِيهِ غَرْبَلَةً، تَبْقَى حُثَالَةٌ مِنَ النَّاسِ، قَدْ مَرِجَتْ عُهُودُهُمْ، وَأَمَانَاتُهُمْ، وَاخْتَلَفُوا، فَكَانُوا هَكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ»، فَقَالُوا: وَكَيْفَ بِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «تَأْخُذُونَ مَا

تَعْرِفُونَ، وَتَذَرُونَ مَا تُنْكِرُونَ، وَتُقْبِلُونَ عَلَى أَمْرِ خَاصَّتِكُمْ، وَتَذَرُونَ أَمْرَ عَامَّتِكُمْ». (صحيح البخاري: ۴۸۰، سنن ابي داود: ۴۳۴۲)

عبدالله بن عمرو رضى الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: په هغه وخت کې به مو څه حال وي چې خلک پکې چڼ کړى شي او رزيله خلک پاتې شي، لوظونه او امانتونه به يې فاسد شوي وي او اختلافات به کوي او داسې به وي هغه د خپلو لاسونو ګوتې يو بل کې ورکړې، صحابه کرامو وويل: مونږ بايد څه وکړو؟ هغه وويل: چې څه پېژنئ هغه واخلئ (عمل پرې وکړئ) او چې څه نه پېژنئ (ثبوت نه لري) نو هغه پرېږدئ، د خاصو خلکو کارونه به کوئ او دعامو هغه به پرېږدئ.

## د قيامت نورې نښې

۵۹ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ العَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ حَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذْ ذَكَرَ الْفِتْنَةَ، فَقَالَ: «إِذَا رَأَيْتُمُ النَّاسَ قَدْ مَرِجَتْ عُهُودُهُمْ، وَخَفَّتْ أَمَانَاتُهُمْ، وَكَانُوا هَكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ»، قَالَ: فَقُمْتُ إِلَيْهِ، فَقُلْتُ: كَيْفَ أَفْعَلُ عِنْدَ ذَلِكَ، جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاكَ؟ قَالَ: «الْزَمْ بَيْتَكَ، وَامْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، وَخُذْ بِمَا تَعْرِفُ، وَدَعْ مَا تُنْكِرُ، وَعَلَيْكَ بِأَمْرِ خَاصَّةِ نَفْسِكَ، وَدَعْ عَنْكَ أَمْرَ الْعَامَّةِ». (سنن ابي داود: ۴۳۴۳).

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دى چې مونږ له نبي صلى الله عليه وسلم څخه ګرد چاپېر ناست ول چې د فتنې ذکر يې وکړ وېويل: کله چې مو خلک وليدل چې لوظونو کې وفاء نه کوي، امانتونو کې خيانت کوي، او خپل منځ کې سره داسې شول- او د لاس ګوتې يې يو بل کې ننويستې- زه ورپورته شوم او ومې ويل: زه بايد څه وکړم: هغه وويل: په کور دې کېنه، او د خپلې ژبې واک دې واخله، روغ کارونه قبلوه او بد پرېږده، چې خومره کولى شې ځان اصلاح کړه او د نورو خلکو چارې پر ځاى پرېږده.

## لږه دينداري هم د نجات سبب کېدای شي

٦٠ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّكُمْ فِي زَمَانٍ مَنْ تَرَكَ مِنْكُمْ عُشْرَ مَا أُمِرَ بِهِ هَلَكَ ثُمَّ يَأْتِي زَمَانٌ مَنْ عَمِلَ مِنْهُمْ بِعُشْرِ مَا أُمِرَ بِهِ نَجَا». (جامع الترمذي: ٢٢٦٧)

له ابوهريرة رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: تاسو په داسې زمانه کې ياست چې که څوک پکې د ماموراتو لسمه برخه هم پرېږدي نو هلاک به شي، او داسې زمانه به راشي چې څوک پکې د ماموراتو لسمه برخه ادا کړي نجات به ومومي

## د ښو خلکو مرګ د قيامت نښه ده

٦١ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَتُنْتَقَوُنَّ كَمَا يُنْتَقَى التَّمْرُ مِنْ أَغْفَالِهِ، فَلْيَذْهَبَنَّ خِيَارُكُمْ، وَلَيَبْقَيَنَّ شِرَارُكُمْ، فَمُوتُوا إِنِ اسْتَطَعْتُمْ». (سنن ابن ماجه: ٤٠٣٨)

له ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: تاسو به هرومرو (له بې خيره خلکو) داسې پاک کړی شئ لکه کجورې چې له ناپاکو جلا کېدای شي، ستاسو غوره ترين به درنه لاړ (مړه) شي او ضررناک به مو پاتې شي، نو که توان مو وي نو مړه شئ (يعني دغه مهال به مرګ له ژوند نه غوره وي)

٦٢ عَنْ قَيْسٍ، [أَنَّهُ سَمِعَ مِرْدَاسًا الأَسْلَمِيَّ، يَقُولُ: وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ: يُقْبَضُ الصَّالِحُونَ، الأَوَّلُ فَالأَوَّلُ، وَتَبْقَى حُفَالَةٌ كَحُفَالَةِ التَّمْرِ وَالشَّعِيرِ، لاَ يَعْبَأُ اللَّهُ بِهِمْ شَيْئًا]. (صحيح البخاري: ٤١٥٦).

قيس له مرداس رضي الله عنه نه روايت کوي (او مرداس رضي الله عنه د بيعت الرضوان غړی هم و) چې نيکان خلک به يو په بل پسې مړه شي، او د ناکاره

کجورو او وربشو په څېر بې خيره خلک به پاتې شي چې، د الله په وړاندې به هيڅ ډول مرتبه نه لري.

## له فتنو څخه بانډو ته تښتېدلو بيان

٦٣ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ، يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ». (صحيح البخاري: ١٩، نسائي: ٥٠٣٦، ابوداود: ٤٢٦٧، ابن ماجه: ٣٩٨٠، مسند احمد: ١١٠٣٢.

له ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: نږدې ده چې د مسلمان ښه مال او دولت به ګېډې بزې وي او دغرونو سرونو او باراني ځايونو ته به يې بوځي، په دې خاطر چې خپل دين وتښتوي (حفاظت يې وکړي).

٦٤ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللهُ عنهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتَنٌ: أَلَا ثُمَّ تَكُونُ فِتْنَةٌ الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي فِيهَا، وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي إِلَيْهَا. أَلَا، فَإِذَا نَزَلَتْ أَوْ وَقَعَتْ، فَمَنْ كَانَ لَهُ إِبِلٌ فَلْيَلْحَقْ بِإِبِلِهِ، وَمَنْ كَانَتْ لَهُ غَنَمٌ فَلْيَلْحَقْ بِغَنَمِهِ، وَمَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَلْحَقْ بِأَرْضِهِ»، قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ الله أَرَأَيْتَ مَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ إِبِلٌ وَلَا غَنَمٌ وَلَا أَرْضٌ؟ قَالَ: «يَعْمِدُ إِلَى سَيْفِهِ فَيَدُقُّ عَلَى حَدِّهِ بِحَجَرٍ، ثُمَّ لِيَنْجُ إِنِ اسْتَطَاعَ النَّجَاةَ، اللهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ؟ اللهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ؟ اللهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ؟» قَالَ: فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ الله أَرَأَيْتَ إِنْ أُكْرِهْتُ حَتَّى يُنْطَلَقَ بِي إِلَى أَحَدِ الصَّفَّيْنِ، أَوْ إِحْدَى الْفِئَتَيْنِ، فَضَرَبَنِي رَجُلٌ بِسَيْفِهِ، أَوْ يَجِيءُ سَهْمٌ فَيَقْتُلُنِي؟ قَالَ: «يَبُوءُ بِإِثْمِهِ وَإِثْمِكَ، وَيَكُونُ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ». (صحيح مسلم: ٢٨٨٧، ابوداود: ٤٢٥٦، مسند احمد: ٢٠٤٩٠)

له ابوبکره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم

فرمايي: نزدې ده چې ډېرې فتنې به راشي، خبردار بيا به داسې فتنه راشي چې ناست به پکې له ولاړ، او ولاړ به پکې له روان او روان به پکې له منډې وهونکي نه بهتره وي، خبردار که کله دغه فتنې راشي نو که څوک اوښان لري ورپسې دې شي، او که ګډې بزې لري نو ورپسې دې شي، او که ځمکه لري نو وردې شي (زمينداري دې شروع کړي)، يو سړی پاڅېد چې ای د الله رسوله! که څوک اوښان ونه لري، ګډې بزې ونه لري او يا ځمکه هم ونه لري نو بيا؟ هغه وويل: بايد خپله توره راواخلي او تر هغه دې پرې ګټې (کمرې، ډبرې) ووهي چې پڅه شي، بيا چې يې څومره توان و ځان دې محفوظ وساتي، ای الله! ايا ستا دين مې ونه رسو؟ ای الله! ايا ستا دين مې ونه رسو؟ ای الله! ايا ستا دين مې ونه رسو؟ سړي ورته وويل: د الله رسوله! که زه مجبور کړی شم او په جبر زور په يو جنګي صف کې وردول شم او يوڅوک مې په توره ووهي او غشی راشي او مړ مې کړي نو بيا؟ هغه وويل: قاتل هم ستا او هم په خپله ګناه ککړ شو، او د اور والا و څخه به جوړ شي.

## له تيکي څخه بغير چاته توره ورکول حرام دي

٦٥ عَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ رَضيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ، قَالَ: أَتَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَوْم يَتَعَاطَوْنَ سَيْفًا مَسْلُولًا، فَقَالَ: «لَعَنَ اللَّهُ مَنْ فَعَلَ هَذَا؟ أَوَ لَيْسَ قَدْ نَهَيْتُ عَنْ هذَا، ثُمَّ قَالَ: إِذَا سَلَّ أَحَدُكُمْ سَيْفَهُ، فَنَظَرَ إِلَيْهِ، فَأَرَادَ أَنْ يُنَاوِلَهُ أَخَاهُ، فَلْيُغْمِدْهُ، ثُمَّ يُنَاوِلْهُ إِيَّاهُ». (مسند احمد: ٢٠٤٢٩)

ابوبکره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يو قوم ته راغی چې توره يې يو بل ته لوڅه ورکوله، هغه وويل: الله دې پرې لعنت وکړي دا چا کړې دی؟ ولې ما تاسو له دې څخه نه وئ منع کړي؟ بيا يې وويل: تاسو کې چې کله څوک توره له تيکې راوباسي او ورته وګوري نو که کوم ورور ته يې ورکوي بېرته دې تيکي کې کېږدي او بيا دې ورکړي.

## د اسلام اولنی او اخرنی صفت

٦٦ عَن ابْنِ عُمَرَ رَضيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [إِنَّ الْإِسْلَامَ بَدَأَ غَرِيبًا وَسَيَعُودُ غَرِيبًا كَمَا بَدَأَ] (مسلم: ١٤٦، سنن ابن ماجه: ٣٩٨٧، مسند احمد: ٩٠٥٤)

له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: اسلام ظاهر شوی هم نااشنا دی او د بیا ځل لپاره به نا اشنا هم ظاهر شي.

## غرباء څوک دي؟

٦٧ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [إِنَّ الْإِسْلَامَ بَدَأَ غَرِيبًا، وَسَيَعُودُ كَمَا بَدَأَ، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ، قِيلَ: وَمَن الْغُرَبَاءُ؟ قَالَ: النُّزَّاعُ مِنَ الْقَبَائِلِ] (مسند احمد: ٣٧٨٤، سنن ابن ماجه: ٣٩٨٨، سنن الدارمي: ٢٧٥٥)

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: بې شکه اسلام نااشنا ظاهر شوی دی او چې څنګه ظاهر شوی و بېرته به همدغسې راګرځي، غرباؤ ته دې مبارک وي، چا وويل: غرباء څوک دي؟ هغه وويل: هغه څوک چې د علم زده کړې لپاره يې وطن او کور پرېښی وي.

## اسلام به بېرته حجاز ته غونډ شي

٦٨ عَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِالله بْنِ عَمْرِو بْنِ عَوْفِ بْنِ زَيْدِ بْنِ مِلْحَةَ، عَنْ أَبِيه، عَنْ جَدِّه، أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ الدِّينَ لَيَأْرِزُ إِلَى الحِجَازِ كَمَا تَأْرِزُ الحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا، وَلَيَعْقِلَنَّ الدِّينُ مِنَ الحِجَازِ مَعْقِلَ الأُرْوِيَّةِ مِنْ رَأسِ

الجَبَلِ، إِنَّ الدِّينَ بَدَأَ غَرِيبًا وَيَرْجِعُ غَرِيبًا، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ الَّذِينَ يُصْلِحُونَ مَا أَفْسَدَ النَّاسُ مِنْ بَعْدِي مِنْ سُنَّتِي] (جامع الترمذي: ٢٦٣٠).

كثير له خپل پلار عبدالله او هغه يې له خپل پلار عمرو بن عوف نه روايت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: دين به حجاز ته داسې راټول شي لکه مار چې خپلې سوړې ته ټوليږي، او دين به په حجاز کې داسې کلابند شي لکه څنګلي غوا چې د غر په سر کې کلابنده شي، له پیل څخه دین نااشنا ظاهر شوی و او دوباره به نااشنا پیل واخلي، هغو غرباؤ ته دې خوشخبري وي چې هغه (سنت) ژوندي کوي چې خلکو له ما نه وروسته فاسد کړي وي.

## ايمان به هم مديني راټول شي

٦٩ عَنْ عَبْدِالرَّحْمَن بْن سِنَّة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيبًا، ثُمَّ يَعُودُ غَرِيبًا كَمَا بَدَأَ، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَن الْغُرَبَاءُ؟ قَالَ: الَّذِينَ يُصْلِحُونَ إِذَا فَسَدَ النَّاسُ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيَنْحَازَنَّ الْإِيمَانُ إِلَى الْمَدِينَةِ كَمَا يَحُوزُ السَّيْلُ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيَأْرِزَنَّ الْإِسْلَامُ إِلَى مَا بَيْنَ الْمَسْجِدَيْنِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا] (مسند احمد: ١٦٦٩٠).

عبدالرحمن بن سنّة رضي الله عنه وايي چې ما له نبي صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: اسلام نااشنا ظاهر شوی دی او د پيل په څېر به نااشنا بيا پيل واخلي، غرباؤ ته دې مبارک وي، وويل شول چې غرباء څوک دي؟ هغه وويل: هغه خلک دي چې خلکو فاسد کړي سنتونه بيا راژوندي کوي، زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما نفس يې په لاس کې دی چې مديني ته به ايمان دومره زر راغونډ شي لکه سيلاب، او زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما نفس يې په لاس کې دی چې اسلام به د دواړو مسجدونو ترمنځ داسې راټول شي لکه مار چې خپلې سوړې ته راغونډيږي.

## د قيامت په ورځ د غرباؤ نورانيت

۷۰ عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنْتُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَطَلَعَتِ الشَّمْسُ، فَقَالَ: يَأْتِي اللهَ قَوْمٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، نُورُهُمْ كَنُورِ الشَّمْسِ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَحْنُ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: لَا، وَلَكُمْ خَيْرٌ كَثِيرٌ، وَلَكِنَّهُمُ الْفُقَرَاءُ وَالْمُهَاجِرُونَ الَّذِينَ يُحْشَرُونَ مِنْ أَقْطَارِ الْأَرْضِ طُوبَى لِلْغُرَبَاءِ، طُوبَى لِلْغُرَبَاءِ، طُوبَى لِلْغُرَبَاءِ، فَقِيلَ: مَنِ الْغُرَبَاءُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: نَاسٌ صَالِحُونَ فِي نَاسِ سَوْءٍ كَثِيرٍ، مَنْ يَعْصِيهِمْ أَكْثَرُ مِمَّنْ يُطِيعُهُمْ] (مسند احمد: ۷۰۷۲)

عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي چې زه له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ناست وم او لمر راښتلی و، هغه وويل: الله ته به د قيامت په ورځ داسې قوم راشي چې د لمر په څير رڼا به لري، ابوبکر رضي الله عنه وويل: ايا دغه خلک مونږ يو؟ هغه وويل: نا، تاسو هم د ډېر خير حاملين ياست، دوی هغه ناداره خلک او مهاجرين دي چې د ځمکې له کنارو څخه به راجمع کولی شي، غرباؤ ته دې مبارکباد وي، غرباؤ ته دې مبارکباد وي، غرباؤ ته دې مبارکباد وي، چا وويل: غرباء څوک دي د الله رسوله؟ هغه وويل: غرباء هغه نيکان بندګان دي چې بدان به پکې ډېر وي، د دوی نافرمانه به پکې له هغو زيات وي چې خبره يې مني.

## غرباء تر هر چا الله ته نږدې دي

۷۱ عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَحَبُّ شَيْءٍ إِلَى اللهِ تَعَالَى الْغُرَبَاءُ، قِيلَ: وَمَنِ الْغُرَبَاءُ؟ قَالَ: الْفَرَّارُونَ بِدِينِهِمْ، يَبْعَثُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِمَا السَّلَامُ] (السنن الواردة في الفتن: ۱٦۰).

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: غرباء الله پاک ته تر هر څه ډېر محبوب دي، چا وويل: غرباء څوک

دي؟ هغه وويل: هغه خلک چې خپل دين تښتوي، د قيامت په ورځ به يې الله پاک له عيسى عليه السلام سره راپورته کړي.

## غرباء به د نورو په نسبت کم وي

۷۲ عَنِ الْمُطَّلِب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [طُوبَى لِلْغُرَبَاءِ قَالُوا: وَمَنِ الْغُرَبَاءُ يَا رَسُولَ اللّهِ؟ قَالَ: الَّذِينَ يَزِيدُونَ إِذَا نَقَصَ النَّاسُ] (احاديث اسمعيل بن جعفر: ۳٦۷).

مطلب له نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي وايي: غرباؤ ته دې مبارکباد وي، هغوی وويل: غرباء څوک دي ای د الله رسوله! هغه وويل: هغه خلک دي چې دوی کمیږي او خلک به ډیریږي.

۷۳ عَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَوْفِ بْنِ زَيْدِ بْنِ مِلْحَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ الدِّينَ لَيَأْرِزُ إِلَى الحِجَازِ كَمَا تَأْرِزُ الحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا، وَلَيَعْقِلَنَّ الدِّينُ مِنَ الحِجَازِ مَعْقِلَ الأُرْوِيَّةِ مِنْ رَأْسِ الجَبَلِ، إِنَّ الدِّينَ بَدَأَ غَرِيبًا وَيَرْجِعُ غَرِيبًا، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ الَّذِينَ يُصْلِحُونَ مَا أَفْسَدَ النَّاسُ مِنْ بَعْدِي مِنْ سُنَّتِي] (جامع الترمذي: ۲٦۳۰).

کثير له خپل پلار عبدالله او هغه يې له خپل پلار عمرو بن عوف نه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: دين به حجاز ته داسې راټول شي لکه مار چې خپلې سوړې ته راټولیږي، او دين به په حجاز کې داسې کلابند شي لکه څنګلي غوا چې د غر په سر کې کلابنده شي، له پيل څخه دين نااشنا ظاهر شوی و او دوباره به نااشنا پيل واخلي، هغو غرباؤ ته دې خوشخبري وي چې هغه (سنت) ژوندي کوي چې خلکو له ما نه وروسته فاسد کړي وي.

۷۴ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَال لأَحَد أَصْحَابِه: لَئِنْ طَالَ بِكُمَا عُمْرُ أَحَدِكُمَا أَوْ كِلَاكُمَا لَتُوشِكَانِ أَنْ تَرَيَا الرَّجُلَ مِنْ ثَبَجِ الْمُسْلِمِينَ -يَعْنِي مِنْ وَسَطٍ- قَرَأَ الْقُرْآنَ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَعَادَهُ وَأَبْدَاهُ، وَأَحَلَّ

حَلَالَهُ، وَحَرَّمَ حَرَامَهُ، وَنَزَلَ عِنْدَ مَنَازِلِه، أَوْ قَرَأَهُ عَلَى لِسَانِ أَخِيهِ قِرَاءَةً عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَعَادَهُ وَأَبْدَاهُ، وَأَحَلَّ حَلَالَهُ، وَحَرَّمَ حَرَامَهُ، وَنَزَلَ عِنْدَ مَنَازِلِه، لَا يَحُورُ فِيكُمْ إِلَّا كَمَا يَحُورُ رَأْسُ الْحِمَارِ الْمَيِّتِ] (مسند احمد: ٣٦٢).

عبادة بن صامت رضي الله عنه خپل يو ملګري ته وويل: كه تاسو كې د يو يا دوارو زندګي اوږده شوه، نو نږدې ده چې تاسو به له عامو مسلمانانو نه يو سړی ووينئ چې قران به د محمد صلى الله عليه وسلم په ژبه لولي، بار بار به يې لولي، ښكاره به يې لولي، حلال به يې حلال او حرام به يې حرام ګڼي، او رتبه او منزله به يې هم پېژني، يا به د خپل ورور څخه د محمد صلى الله عليه وسلم په روايت سم دم قرائت كوي، بار بار به يې لولي او ښكاره به يې هم لولي، حلال به يې حلال او حرام به يې حرام ګڼي، او رتبه او منزله به يې هم پېژني خو هېڅ فايده به ترې نه شي اخستی لكه د مړ خر سر نه چې يې څښتن ګټه نه شي اخستی.

## ورځ تر بله هغه هم بدتره

٧٥ عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَدِيٍّ، قَالَ: أَتَيْنَا أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، فَشَكَوْنَا إِلَيْهِ مَا نَلْقَى مِنَ الحَجَّاجِ، فَقَالَ: اصْبِرُوا، فَإِنَّهُ لاَ يَأْتِي عَلَيْكُمْ زَمَانٌ إِلَّا الَّذِي بَعْدَهُ شَرٌّ مِنْهُ، حَتَّى تَلْقَوْا رَبَّكُمْ سَمِعْتُهُ مِنْ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ] (صحيح البخاري: ٧٠٦٨).

زبير بن عدي وايي چې انس بن مالك رضي الله عنه ته مونږ راغلو او له حجاج څخه مو ورته شكايت وكړ، هغه وويل: صبر وكړئ، په تاسو باندې هېڅ وخت نه راځي مګر له مخكې څخه به بدتر وي ترڅو له خپل رب سره مو ملاقات وشي، داسې مې له نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي.

## قتل او قتال د قيامت نښه ده

٧٦ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ: يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ، وَيُقْبَضُ الْعِلْمُ، وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ، وَيُلْقَى الشُّحُّ، وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ قَالُوا: وَمَا الْهَرْجُ؟ قَالَ: الْقَتْلُ] (صحيح مسلم: ١٥٧)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: وختونه به سره خپل منځ کې نږدې شي، علم به واخستلی شي، فتنې به راپورته شي، بخل به په زړونو کې واچولی شي، هرج به ډېر شي، هغوی وويل: هرج څه شی دی؟ هغه وويل: وژل او مړکونه دي.

## مهاجر به بېرته خپل کلي کور ته نه ستنيږي

٧٧ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: [أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى الحَجَّاجِ فَقَالَ: يَا ابْنَ الأَكْوَعِ، ارْتَدَدْتَ عَلَى عَقِبَيْكَ، تَعَرَّبْتَ؟ قَالَ: لاَ، وَلَكِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذِنَ لِي فِي البَدْوِ] (صحيح البخاري: ٧٠٨٧، صحيح مسلم: ١٨٦٢، سنن النسائي: ٤١٨٦، مسند احمد)

سلمة بن الاكوع رضي الله عنه حجاج ته ورغی، حجاج ورته وويل: ابن الاكوعه! ايا بېرته په پوندو وګرځېدې؟ بېرته باندېچي شوې؟ هغه وويل: نه، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم راته اجازه کړې وه چې باندېو کې واوسېږم.

## مسلمان بايد نه قاتل وي او نه مقتول

٧٨ عَنِ الْأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ: [خَرَجْتُ وَأَنَا أُرِيدُ هَذَا الرَّجُلَ فَلَقِيَنِي أَبُو بَكْرَةَ، فَقَالَ: أَيْنَ تُرِيدُ يَا أَحْنَفُ؟ قَالَ: قُلْتُ: أُرِيدُ نَصْرَ ابْنِ عَمِّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -يَعْنِي عَلِيًّا- قَالَ: فَقَالَ لِي: يَا أَحْنَفُ ارْجِعْ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِذَا تَوَاجَهَ الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا، فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ قَالَ فَقُلْتُ: أَوْ قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ هَذَا الْقَاتِلُ، فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ؟ قَالَ: إِنَّهُ قَدْ أَرَادَ قَتْلَ صَاحِبِهِ] (صحيح البخاري: ٦٨٧٥، صحيح مسلم: ٢٨٨٨، سنن النسائي: ٤١٢٢، ابوداود: ٤٢٦٨، سنن ابن ماجه: ٣٩٦٥، مسند احمد: ٢٠٤٣٩).

احنف بن قيس وايي: زه ووتم چې له دې سړي (علي بن ابي طالب رضي الله عنه) سره مې مرسته موخه وه، لاره کې راسره ابوبکره رضي الله عنه مخامخ شو وېويل: احنفه چرته ځې؟ ما وويل: د رسول الله صلى الله عليه وسلم د کاکا ځوی مرستې لپاره روان یم، هغه وويل: احنفه! بېرته لاړ شه، ځکه چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي: کله چې دوه مسلمانان سره په تورو مخامخ شي نو قاتل او مقتول دواړه به په اور کې وي، ما يا بل چا وپوښتل: اى د الله رسوله! قاتل خو به اور ته ځي، نو مقتول ولې اور ته لاړ شي؟ هغه وويل: مقتول هم د قاتل د وژلو اراده لرله (او عملي اقدام يې کړی و).

٧٩ عَنْ أَبي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: [وَالَّذي نَفْسي بيَده لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا، حَتَّى يَأْتيَ عَلَى» النَّاس يَوْمٌ لَا يَدْري الْقَاتلُ فيمَ قَتَلَ، وَلَا الْمَقْتُولُ فيمَ قُتلَ «فَقيلَ: كَيْفَ يَكُونُ ذَلكَ؟ قَالَ: «الْهَرْجُ، الْقَاتلُ وَالْمَقْتُولُ في النَّارِ] (صحيح مسلم: ٢٩٠٨)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما نفس يې په لاس کې دی چې دنيا تر هغه نه ورانېږي ترڅو په خلکو داسې زمانه رانه شي چې قاتل به نه پوهېږي چې ولې قتل کوي او مقتول به نه وي خبر چې ولې ووژل شوم؟، وويل شول: دا به څنګه کېږي؟ هغه وويل: قتل او قتال، قاتل او مقتول دواړه به په اور کې وي.

## کافر پر مسلمان نه شي مسلط کېدی

٨٠ عَنْ ثَوْبَانَ رَضيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: [إنَّ اللهَ زَوَى لي الْأَرْضَ، فَرَأَيْتُ مَشَارقَهَا وَمَغَاربَهَا، وَإنَّ أُمَّتي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُويَ لي منْهَا، وَأُعْطيتُ الْكَنْزَيْنِ الْأَحْمَرَ وَالْأَبْيَضَ، وَإنِّي سَأَلْتُ رَبِّي لأُمَّتي أَنْ لَا يُهْلكَهَا بسَنَة عَامَّة، وَأَنْ لَا يُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا منْ سوَى أَنْفُسهمْ، فَيَسْتَبيحَ بَيْضَتَهُمْ، وَإنَّ رَبِّي قَالَ: يَا مُحَمَّدُ إنِّي إذَا قَضَيْتُ قَضَاءً فَإنَّهُ لَا يُرَدُّ، وَإنِّي أَعْطَيْتُكَ لأُمَّتكَ أَنْ لَا أُهْلكَهُمْ بسَنَةٍ عَامَّةٍ، وَأَنْ لَا أُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا منْ سوَى أَنْفُسهمْ، يَسْتَبيحُ

بَيْضَتَهُمْ، وَلَو اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ مَنْ بِأَقْطَارِهَا - أَوْ قَالَ مَنْ بَيْنَ أَقْطَارِهَا - حَتَّى يَكُونَ بَعْضُهُمْ يُهْلِكُ بَعْضًا، وَيَسْبِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا [صحيح مسلم: ۲۸۸۹، سنن ابوداود: ۴۲۵۲، جامع الترمذي: ۲۱۷۶، سنن ابن ماجه: ۳۹۵۲، مسند احمد: ۱۷۱۱۵)

له ثوبان رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: الله راته ځمکه راغونډه کړه، ما يې مشرقونه او مغربونه وليدل، او زما د امت واک به تر هغو ځايونو رسيږي چې ما ته راغونډه شوې وه، ما ته د سرو او سپينو خزانې هم راکړل شوي دي ما مې له رب څخه وغوښتل چې زما امت په قحط سالۍ عموما مه بربادوه، او له ځانونو پرته پرې بل دښمن مه مسلط کوه چې بيخ کني يې وکړي، خو ولې رب مې راته وويل: محمده! زه چې کله فيصله وکړم نو بېرته نه رد کيږي، ستا امت ته مې دا ورکړل چې ټول به په قحط نه بربادوم، او نه پرې له دوی پرته بل دښمن مسلط کوم چې بيخ کني يې وکړي، که څه هم ټول دښمنان پرې د ځمکې له کنارو هم راټول شي، خو خپل منځ کې به سره ځيني نور ځيني مړه کوي، او يو بل به په مريي توب نيسي.

## د فتنو جنګونه نه قلاريږي

۸۱ [وَإِنَّمَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي الْأَئِمَّةَ الْمُضِلِّينَ، وَإِذَا وُضِعَ السَّيْفُ فِي أُمَّتِي لَمْ يُرْفَعْ عَنْهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَلْحَقَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي بِالْمُشْرِكِينَ، وَحَتَّى تَعْبُدَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي الْأَوْثَانَ، وَإِنَّهُ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي كَذَّابُونَ ثَلَاثُونَ، كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ، وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي، وَلَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ، حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ] (سنن ابي داود: ۴۲۵۲، جامع الترمذي: ۲۲۲۹، سنن دارمي: ۲۰۹، مسند احمد:۲۲٤۵۲):

زه مې پر امت باندې له ګمراهانو ټولواکانوڅخه ويريږم، خو که زما پر امت کې توره کېښودل شوه نو تر قيامت پورې به ترې بيا پورته نه شي، او قيامت به تر هغه رانه شي چې زما له امت څخه به خلک مشرکينو سره پيوسته شي او زما له امت څخه به خلک د بوتانو عبادت وکړي، او ډېر زر به زما په امت کې ديرش ستر دروغجنان

راشي او هر يو به ګمان کوي چې هغه پيغمبر دی، زه اخرنی پيغمبر يم له ما وروسته بل پيغمبر نشته، او همېشه به زما امت کې داسې څوک وي چې په حق به کلک وي، که يې څوک مخالفت کوي نو هېڅ تکليف به ورته ونه شي رسولی ترڅو قيامت راشي.

۸۲ عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنْ أَبِيهِ[أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبَلَ ذَاتَ يَوْمٍ مِنَ الْعَالِيَةِ، حَتَّى إِذَا مَرَّ بِمَسْجِدِ بَنِي مُعَاوِيَةَ دَخَلَ فَرَكَعَ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ، وَصَلَّيْنَا مَعَهُ، وَدَعَا رَبَّهُ طَوِيلًا، ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَيْنَا، فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سَأَلْتُ رَبِّي ثَلَاثًا، فَأَعْطَانِي ثِنْتَيْنِ وَمَنَعَنِي وَاحِدَةً، سَأَلْتُ رَبِّي: أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِالسَّنَةِ فَأَعْطَانِيهَا، وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِالْغَرَقِ فَأَعْطَانِيهَا، وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يَجْعَلَ بَأْسَهُمْ بَيْنَهُمْ فَمَنَعَنِيهَا] (صحيح مسلم: ۲۸۹۰، مسند احمد: ۱۵۷۴)

عامر له خپل پلار سعد نه روايت کوي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم يوه ورځ د مديني له لرې برخې راغی تردې چې د بنومعاويه په مسجد تېرېدو نو ورته ننوت او دوه رکعته لمونځ يې وکړ مونږ هم ورسره لمونځ وکړ، تر ډېره ګړی يې خپل رب راوبلو، بيا يې مونږ ته مخ کړ او ويې ويل: له خپل رب څخه مې درې شيان وغوښتل دوه يې راکړل او يو نه، له رب څخه مې وغوښتل چې زما امت په قحط له لبه مه بربادوه راته يې راکړه، ورڅخه مې وغوښتل چې په اوبو يې مه بربادوه راته يې راکړه، او ورڅخه مې وغوښتل چې ترمنځ يې جنګ جګړې نه راولې نو راته يې رانه کړه.

## په فتنه کې د ژبې کارولو بد اغېز

۸۳ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ تَسْتَنْظِفُ الْعَرَبَ قَتْلَاهَا فِي النَّارِ، اللِّسَانُ فِيهَا أَشَدُّ مِنْ وَقْعِ السَّيْفِ] (سنن ابي داود: ۴۲۶۵، جامع الترمذي، ۲۱۷۸، احمد بن حنبل: ٦٩٨٠)

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ډېر زر به داسې فتنې راشي چې عربان به خپل مړي په اور کې کنګال کړي، له توري څخه به پکې قلم ډېر بدترين وي.

۸۴ عَنْ أَبي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ قَالَ: [سَتَكُونُ فتْنَةٌ صَمَّاءُ، بَكْمَاءُ، عَمْيَاءُ، مَنْ أَشْرَفَ لَهَا اسْتَشْرَفَتْ لَهُ، وَإِشْرَافُ اللِّسَانِ فِيهَا كَوُقُوعِ السَّيْفِ] (سنن ابي داود: ۴۲۶۴)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: ډېر زر به کېږي، ګونګې او ړندې فتنې راشي، که څوک يې سيال کولو ته ورپورته شي ځان ته به يې راکاږي، که په ژبه هم ورپېکې څوک واقع شي ګناه يې دومره ده لکه په توره چې يې په کې ګډون کړی وي

## په فتنو کې ژبه کنترول کړئ

۸۵ عَن ابْن عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: [إِيَّاكُمْ وَالْفتَنَ، فَإِنَّ اللِّسَانَ فِيهَا مِثْلُ وَقْعِ السَّيْفِ»] (سنن ابن ماجه: ۳۹٦۸)

له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: ځان له فتنو نه وساتئ، ژبه کارول پکې داسې دي لکه په توري سره چې پکې څوک برخه واخلي.

## ژبه مهارول له اور څخه نجات دی

۸٦ عَنْ أَبي هُرَيْرَةَ رَضيَ اللهُ عَنْهُ سَمعَ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ يَقُولُ: [إِنَّ العَبْدَلَيَتَكَلَّمُ بِالكَلِمَة، مَا يَتَبَيَّنُ فِيهَا، يَزِلُّ بِهَا فِي النَّارِ أَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ المَشْرِقِ] (صحيح البخاري: ٦٤٧٧، صحيح مسلم: ٢٩٨٨، جامع الترمذي: ٢٣١٤، مسند احمد: ٨٩٢٣)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې ده له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي دي ويل يې: کله انسان له تحقيق پرته داسې خبره وکړي چې په اور کې به پرې د مشرق او مغرب له فاصلې هم ډېر لاړ شي.

# د هغو حدیثونو بیان چې فتنه کې برخه اخستل په کلکه غندي

## له فتنې څخه د خلاصون بنه علاجونه

۸۷ عَنْ أَبِي ذَرٍّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَيْفَ أَنْتَ يَا أَبَا ذَرٍّ وَمَوْتًا يُصِيبُ النَّاسَ حَتَّى يُقَوَّمَ الْبَيْتُ بِالْوَصِيفِ؟ -يَعْنِي الْقَبْرَ- قُلْتُ: مَا خَارَ اللَّهُ لِي وَرَسُولُهُ -أَوْ قَالَ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ- قَالَ: تَصَبَّرْ قَالَ: «كَيْفَ أَنْتَ، وَجُوعًا يُصِيبُ النَّاسَ، حَتَّى تَأْتِيَ مَسْجِدَكَ فَلَا تَسْتَطِيعَ أَنْ تَرْجِعَ إِلَى فِرَاشِكَ، وَلَا تَسْتَطِيعَ أَنْ تَقُومَ مِنْ فِرَاشِكَ إِلَى مَسْجِدِكَ؟ قَالَ: قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ -أَوْ مَا خَارَ اللَّهُ لِي وَرَسُولُهُ- قَالَ: عَلَيْكَ بِالْعِفَّةِ ثُمَّ قَالَ: كَيْفَ أَنْتَ، وَقَتْلًا يُصِيبُ النَّاسَ حَتَّى تُغْرَقَ حِجَارَةُ الزَّيْتِ بِالدَّمِ؟ قُلْتُ: مَا خَارَ اللَّهُ لِي وَرَسُولُهُ، قَالَ: الْحَقْ بِمَنْ أَنْتَ مِنْهُ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا آخُذُ بِسَيْفِي، فَأَضْرِبَ بِهِ مَنْ فَعَلَ ذَلِكَ، قَالَ: شَارَكْتَ الْقَوْمَ إِذًا، وَلَكِن ادْخُلْ بَيْتَكَ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ فَإِنْ دُخِلَ بَيْتِي؟ قَالَ: إِنْ خَشِيتَ أَنْ يَبْهَرَكَ شُعَاعُ السَّيْفِ، فَأَلْقِ طَرَفَ رِدَائِكَ عَلَى وَجْهِكَ، فَيَبُوءَ بِإِثْمِهِ وَإِثْمِكَ، فَيَكُونَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ] (سنن ابي داود: ۴۲۶۱، سنن ابن ماجه: ۳۹۵۸).

له ابوذر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم راته وويل: په هغه وخت کې به دې څه حال وي چې قبرونه به په غلامانو(مزدورانو) جوړولی شي؟ ما وويل: بس چې الله او رسول يې راته څه غوره کړي وي نو، يا: الله او د هغه رسول بهتر پوهېږي، هغه وويل: صبر به کوې، بيا يې وويل: په هغه وخت کې به دې څه حال وي چې خلکو ته ولږه ورسيږي؟ په داسې حال کې چې مسجد ته دې راشې نو بېرته د کور ته تللو توان به نه لرې، او نه به توان لرې چې له کور دې مسجد ته ولاړ شې، ما وويل: الله او رسول يې بهتر پوهېږي، يا: چې الله او رسول يې راته څه غوره کړي وي، هغه وويل: داسې حالت کې پرهيزګاري کوه، بيا يې وويل: ستا به هغه مهال څه حال وي چې خلکو ته دومره مرګ واورېږي چې حجارة الزيت (مدينه کې د حره مقام کې يو ځای دی) به هم په وينو ککړ

شي، ما وویل: چې الله او رسول يې راته څه غوره کوی هغه به کوم، هغه وویل: له خپل کاله تېر سره یو ځای شه، ما وویل: ای د الله رسوله! ایا توره مې را وا نه خلم چې څوک دغه کارونه کوي او مړ يې کړم؟ هغه وویل: نو ته خو بیا له قوم (فتنه ګرو) سره ملګری شوې! بس کور ته دې ننوځه، ما وویل: د الله رسوله! که کور ته راپسې راننوځي؟ هغه وویل: که دتورو له پړقا ویرېدې نو پرمخ دې څادر راخپور کړه، قاتل به په خپلې او ستا ګناه باندې ککړ شي او دوزخي به شي

۸۸ زَادَ ابْنُ ماجه: كَيْفَ أَنْتَ، وَجَوَائِحُ تُصِيبُ النَّاسَ، حَتَّى تَأْتِيَ مَسْجِدَكَ فَلَا تَسْتَطِيعَ أَنْ تَرْجِعَ إِلَى فِرَاشِكَ، وَلَا تَسْتَطِيعَ أَنْ تَقُومَ مِنْ فِرَاشِكَ إِلَى مَسْجِدِكَ؟ قَالَ: قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ - أَوْ مَا خَارَ اللَّهُ لِي وَرَسُولُهُ - قَالَ: عَلَيْكَ بِالْعِفَّةِ] (سنن ابن ماجه: ۳۹۵۸)

ابن ماجه زيات کړي دي: په هغه وخت کې به دې څه حال وي چې خلکو ته ولږه ورسيږي؟ په داسې حال کې چې مسجد ته دې راشې نو بېرته کور ته د تللو توان به نه لرې، او نه به توان لرې چې له کور دې مسجد ته ولاړ شې، ما وویل: الله او رسول يې بهتر پوهېږي، یا: چې الله او رسول يې راته څه غوره بولي، هغه وویل: داسې حالت کې پرهيزګاري کوه

## په فتنو کې سستي کول کاميابي ده

۸۹ وفي حَدِيْثِ ابْنِ مَسْعُوْد: وَذَكَرَ الفِتْنَةَ قَالَ: تَدْخُلُ بَيْتَكَ قَالَ: فَإِنْ دُخِلَ عَلَيَّ بَيْتِي؟ قَالَ: كُنْ كَالْجَمَلِ الْأَوْرَقِ الثِّقَالِ الَّذِي لَا يَنْبَعِثُ إِلَّا كُرْهًا وَلَا يَمْشِي إِلَّا كُرْهًا] (الابانة الكبرى: ۷۵۳)

د ابن مسعود رضي الله عنه په حديث کې دا هم دي چې هغه فتنه ذکر کړه اوویېل: کاله ته دې ننوځه، هغه وویل: که کور ته راپسې راننوځي؟هغه وویل: د خړ رنګي درون اوښ په څېر شه چې په زور پاڅولی شي او په زور روانولی شي.

## له فتنو څخه بر طرف انسان سعادتمند دی

۹۰ عَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ رضي الله عنه قَالَ: ايْمُ اللَّهِ، لَقَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ، إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنِ، إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنُ، وَلَمَنْ ابْتُلِيَ فَصَبَرَ فَوَاهًا] (سنن ابي داود: ۴۲۶۳)

له مقداد رضي الله عنه نه روايت دی چې قسم په الله ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي ويل يې: خوشبخت هغه څوک دی چې له فتنو څخه وساتل شي، خوشبخت هغه دی چې له فتنو وساتل شي، خوشبخت هغه دی چې له فتنو وساتل شي خو که څوک پرې وازمايل شي او صبر پرې وکړي څومره ښه کار يې وکړ.

# د قيامت
# نښو بيان

## د قيامت له راتلونکي مخکي نښي نښاني

۹۱ عَنْ عَوْفَ بْنَ مَالك رَضيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في غَزْوَة تَبُوك وَهُوَ في قُبَّة منْ أَدَم، فَقَالَ: [اعْدُدْ ستًّا بَيْنَ يَدَي السَّاعَة: مَوْتي، ثُمَّ فَتْحُ بَيْت المَقْدس، ثُمَّ مُوْتَانٌ يَأْخُذُ فيكُمْ كَقُعَاص الغَنَم، ثُمَّ اسْتفَاضَةُ المَالَ حَتَّى يُعْطَى الرَّجُلُ مائَةَ دينَار فَيَظَلُّ سَاخطًا، ثُمَّ فتْنَةٌ لاَ يَبْقَى بَيْتٌ منَ العَرَب إلَّا دَخَلَتْهُ، ثُمَّ هُدْنَةٌ تَكُونُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ بَني الأَصْفَر، فَيَغْدرُونَ فَيَأْتُونَكُمْ تَحْتَ ثَمَانينَ غَايَةً، تَحْتَ كُلِّ غَايَةٍ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا] (صحيح البخاري: ٣١٧٦، سنن ابي داود: ٥٠٠٠، سنن ابن ماجه: ٤٠٤٢، مسند احمد: ٢١٩٩٢)

له عوف بن مالک رضي الله عنه نه روايت دی چې د تبوک په غزا کې زه نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغلم او هغه د څرمنې په خيمه کې و ويويل: د قيامت نه مخکې شپږ شيان شمار کړه: زمامرګ، د بيت المقدس فتح، په تاسو کې د څارو د قاتل رنځ په څېر ډېر مرګونه، د مال ډېرښت چې يو سړي ته به سل د ينار ورکړل شي او لا به غصه وي، بيا به داسې فتنه راشي چې هر کور ته به ننوځي، بيا به ستاسو او د روميانو ترمنځ صلحه وشي خو هغوی به دوکه وکړي، د اتيا جنګې بيرغونو لاندې به درته راشي او له هر جنډې لاندې به دولس زره جنګيالي وي.

## د روميانو سره د جنګونو بيان

۹۲ عَنْ يُسَيْر بْنِ جَابر، قَالَ: هَاجَتْ رِيحٌ حَمْرَاءُ بِالْكُوفَة، فَجَاءَ رَجُلٌ لَيْسَ لَهُ هجِّيرَى إِلَّا: يَا عَبْدَالله بْنَ مَسْعُود جَاءَت السَّاعَةُ، قَالَ: فَقَعَدَ وَكَانَ مُتَّكئًا، فَقَالَ: إِنَّ السَّاعَةَ لَا تَقُومُ، حَتَّى لَا يُقْسَمَ مِيرَاثٌ، وَلَا يُفْرَحَ بِغَنِيمَة، ثُمَّ قَالَ: بِيَده هَكَذَا - وَنَحَّاهَا نَحْوَ الشَّأْم فَقَالَ: عَدُوٌّ يَجْمَعُونَ لِأَهْلِ الْإِسْلَام، وَيَجْمَعُ لَهُمْ أَهْلُ

الْإِسْلَامِ، قُلْتُ: الرُّومَ تَعْنِي؟ قَالَ: نَعَمْ، وَتَكُونُ عِنْدَ ذَاكُمُ الْقِتَالِ رَدَّةٌ شَدِيدَةٌ، فَيَشْتَرِطُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا غَالِبَةً، فَيَقْتَتِلُونَ حَتَّى يَحْجُزَ بَيْنَهُمُ اللَّيْلُ، فَيَفِيءُ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ، كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ، وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ، ثُمَّ يَشْتَرِطُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ، لَا تَرْجِعُ إِلَّا غَالِبَةً، فَيَقْتَتِلُونَ حَتَّى يَحْجُزَ بَيْنَهُمُ اللَّيْلُ، فَيَفِيءُ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ، كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ، وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ، ثُمَّ يَشْتَرِطُ الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ، لَا تَرْجِعُ إِلَّا غَالِبَةً، فَيَقْتَتِلُونَ حَتَّى يُمْسُوا، فَيَفِيءُ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ، كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ، وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ، فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الرَّابِعِ، نَهَدَ إِلَيْهِمْ بَقِيَّةُ أَهْلِ الْإِسْلَامِ، فَيَجْعَلُ اللهُ الدَّبْرَةَ عَلَيْهِمْ، فَيَقْتُلُونَ مَقْتَلَةً إِمَّا قَالَ لَا يُرَى مِثْلُهَا، وَإِمَّا قَالَ لَمْ يُرَ مِثْلُهَا حَتَّى إِنَّ الطَّائِرَ لَيَمُرُّ بِجَنَبَاتِهِمْ، فَمَا يُخَلِّفُهُمْ حَتَّى يَخِرَّ مَيْتًا، فَيَتَعَادُّ بَنُو الْأَبِ، كَانُوا مِائَةً، فَلَا يَجِدُونَهُ بَقِيَ مِنْهُمْ إِلَّا الرَّجُلُ الْوَاحِدُ، فَبِأَيِّ غَنِيمَةٍ يُفْرَحُ؟ أَوْ أَيُّ مِيرَاثٍ يُقَاسَمُ، فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ سَمِعُوا بِبَأْسٍ، هُوَ أَكْبَرُ مِنْ ذَلِكَ، فَجَاءَهُمُ الصَّرِيخُ، إِنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَلَفَهُمْ فِي ذَرَارِيِّهِمْ، فَيَرْفُضُونَ مَا فِي أَيْدِيهِمْ، وَيُقْبِلُونَ، فَيَبْعَثُونَ عَشَرَةَ فَوَارِسَ طَلِيعَةً، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي لَأَعْرِفُ أَسْمَاءَهُمْ وَأَسْمَاءَ آبَائِهِمْ، وَأَلْوَانَ خُيُولِهِمْ، هُمْ خَيْرُ فَوَارِسَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ أَوْ مِنْ خَيْرِ فَوَارِسَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ] (صحيح مسلم: ۲۸۹۹، مسند احمد: ۴۱۴۶).

يسير بن جابر وايي: په كوفه كې سور باد راوالوت يو سړی يواځې په دې مقصد راغی چې: ای عبدالله بن مسعود! لكه چې قيامت راغی! عبدالله بن مسعود ناست و او تكيه يې وهلې وه وېويل: قيامت تر هغه نه راځي چې ميراث به تقسيم نه شي، په غنيمت به خلك نه خوشحالېږي، بيا يې وويل: د شام په لور يې په لاس اشاره وكړه چې د مسلمانانو په ضد به دلته دښمنان راغونډ شي، او مسلمانان به هم ورته راغونډ شي، ما ورته وويل: روميان يادوې؟ هغه وويل: هو، په دغه جنګ كې به قوي ارتداد وشي، مسلمانان به جنګ كې د مرګ شرط ولګوي چې شكست به نه خوري، دواړه خواوې به تر هغه جنګ وكړي چې شپه به يې منځ كې مانع واقع شي، دواړه خواوې به خپلو خپلو خلكو ته داسې حالت كې ستنې شي چې يوه به هم غالبه نه وي، او د لومړي صف خلك به ټكې ټكې قتل شوي وي، د مرګ لپاره به بيا مسلمان وړاندې شي او تر هغه به دواړه خواوې وجنګېږي چې د شپې تورتمې به يې د جنګ مانع واقع شي، دواړه خواوې به خپلو خپلو خلكو ته په داسې حالت كې ستنې شي چې يوه به

هم غالبه نه وي، او د لومړي صف خلک به پکې قتل شوي وي، دمسلمانانو د لومړي صف جنګيالي به بيا پورته شي او دواړه خواوې به سره وجنګيږي او يو بل به مړه کړي خو غلبه به پکې د هيڅ چا نه وي، دواړه خواوې به د شپې په مهال خپلو خلکو ته ستانه شي، په څلورمه ورځ به ورته پاتې مسلمان راولاړ شي او الله به دښمنانو ته ماتې ورکړي، ستره وژنه به پکې وشي چې سارى به نه لري، تر دې چې مارغه به يې په اړخ تېريږي نو تر اخرني به يې لا تېر نه شي چې مړ به شي، پلاريز سل وروڼه به ځانونه وشمېري يو به ترې ايله پاتې وي، نو دا به ميراث څه تقسيم کړي او په غنيمت به څه خوشحاله شي؟! دوى به لا داسې وي چې له دې به بله غټه نا امېدي واوري، وابه اوري چې دجال راغى کورونو ته راورسېد، چې څه يې په لاسونو کې دي دا به پريږدي او کورونو ته به راشي، لس شاهسواران به راشي، نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: د هغوى او پلارانو نومونه يې ما ته اوس هم ياد دي، د اسونو رنګونه يې هم پيژنم، دغه مهال د ځمکې پر مخ دوى غوره ترين شاهسواران دي

## په اعماق او دابق کې له روميانو سره جنګ د قيامت نښه ده

٩٣ عَنْ أَبي هُرَيْرَةَ رَضيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ، قَالَ: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَنْزِلَ الرُّومُ بالْأَعْمَاق أَوْ بدَابق، فَيَخْرُجُ إلَيْهِمْ جَيْشٌ منَ الْمَدينَة، منْ خيَار أَهْل الْأَرْض يَوْمَئذ، فَإذَا تَصَافُّوا، قَالَت الرُّومُ: خَلُّوا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الَّذينَ سَبَوْا منَّا نُقَاتلْهُمْ، فَيَقُولُ الْمُسْلمُونَ: لَا، وَالله لَا نُخَلِّي بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ إخْوَاننَا، فَيُقَاتلُونَهُمْ، فَيَنْهَزمُ ثُلُثٌ لَا يَتُوبُ اللهُ عَلَيْهمْ أَبَدًا، وَيُقْتَلُ ثُلُثُهُمْ، أَفْضَلُ الشُّهَدَاء عنْدَ الله، وَيَفْتَتحُ الثُّلُثُ، لَا يُفْتَنُونَ أَبَدًا فَيَفْتَتحُونَ قُسْطَنْطينيَّةَ، فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسمُونَ الْغَنَائمَ، قَدْ عَلَّقُوا سُيُوفَهُمْ بالزَّيْتُون، إذْ صَاحَ فيهمُ الشَّيْطَانُ: إنَّ الْمَسيحَ قَدْ خَلَفَكُمْ في أَهْليكُمْ، فَيَخْرُجُونَ، وَذَلكَ بَاطلٌ، فَإذَا جَاءُوا الشَّأْمَ خَرَجَ، فَبَيْنَمَا هُمْ يُعدُّونَ للْقتَال، يُسَوُّونَ الصُّفُوفَ، إذْ أُقيمَت الصَّلَاةُ، فَيَنْزلُ عيسَى ابْنُ مَرْيَمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ، فَأَمَّهُمْ، فَإذَا رَآهُ عَدُوُّ الله، ذَابَ كَمَا يَذُوبُ الْملْحُ في الْمَاء، فَلَوْ تَرَكَهُ لَانْذَابَ حَتَّى يَهْلكَ، وَلَكنْ يَقْتُلُهُ اللهُ بيَده، فَيُريهمْ دَمَهُ في حَرْبَته] (صحيح مسلم: ٢٨٩٧)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: قیامت به تر هغه قائم نه شي ترڅو روميان تر اعماق او دابق راشي، دغه مهال به ورته له ښار څخه خلک چې په ټوله ځمکه کې به غوره ترين وي راووځي، د جنګ لپاره چې صفونه تيار شي روميان به وايي: مونږ او هغه خلک سره پرېږدئ چې له مونږ نه يې خلک غلامان کړي دي مونږ ورسره جنګ کوو، مسلمانان به وايي: نا، قسم په الله چې خپلو دغو ورونو ته به مو پرې نه ږدو نو جنګ به ورسره وکړي، له مسلمانانو نه به دريمه برخه شکست وخوري چې الله به ورته بيخي توبه الهام نه کړي، دريمه به يې ووژل شي او دوی به د الله په نيز غوره ترين شهيدان وي، او پاتې دريمه به يې فتحه راوړي او په هيڅ ډول فتنې به ونه ازمول شي او قسطنطينيه به فتحه کړي، دوی به لا غنيمتونه تقسيموي او تورې به يې د زيتون ونې ته ځوړندلې کړي وي چې شيطان به پکې اواز وکړي: دجال مو په کورونو راغی، دوی به له قسطنطينې څخه ووځي خو د شيطان دغه اواز به سوچه دروغ وي، دوی چې تر شام راورسيږي نو دجال به راووځي، مسلمانان به د جنګ لپاره صفونه تياروي چې د لمونځ لپاره به اقامت وشي، عيسی بن مريم عليه السلام به راښکته شي او د دوی امامت به وکړي، خو چې د الله دښمن (دجال) يې ووينې نو په اوبو کې د مالګې په څېر به ويلې شي، که د عيسی عليه السلام خوښه وی تر هغه به يې پرېښی وی چې په اوبو کې تر هغه ويلې شي چې هلاک شي خو الله پاک به يې دده په لاس قتل کړي او د ده په برچه کې به يې خلکو ته وينه وښايي.

۹۴ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [سَمِعْتُمْ بِمَدِينَةٍ جَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَرِّ وَجَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَحْرِ؟ قَالُوا: نَعَمْ، يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَغْزُوَهَا سَبْعُونَ أَلْفًا مِنْ بَنِي إِسْحَاقَ، فَإِذَا جَاءُوهَا نَزَلُوا، فَلَمْ يُقَاتِلُوا بِسِلَاحٍ وَلَمْ يَرْمُوا بِسَهْمٍ، قَالُوا: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ، فَيَسْقُطُ أَحَدُ جَانِبَيْهَا -قَالَ ثَوْرٌ: لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ- الَّذِي فِي الْبَحْرِ، ثُمَّ يَقُولُوا الثَّانِيَةَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ، فَيَسْقُطُ جَانِبُهَا الْآخَرُ، ثُمَّ يَقُولُوا الثَّالِثَةَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ، فَيُفَرَّجُ لَهُمْ، فَيَدْخُلُوهَا فَيَغْنَمُوا، فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسِمُونَ الْمَغَانِمَ، إِذْ جَاءَهُمُ الصَّرِيخُ، فَقَالَ: إِنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَرَجَ، فَيَتْرُكُونَ كُلَّ شَيْءٍ وَيَرْجِعُونَ] (صحيح مسلم: ۲۹۲۰)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: ايا د داسې ښار نوم مو اورېدلی دی چې نيم په وچه او نيم په درياب کې دی؟ هغوی وويل: هو ای د الله رسوله، هغه وويل: قيامت به تر هغه قائم نه شي چې له بنواسحاق څخه اويا زره کسان پرې غزا وکړي، کله چې ورته راشي نو د سلاح او غشو جنګ به پکې نه کوي، دوی به لااله الا الله والله اکبر وايي نو يو اړخ به يې وغورځيږي، ثور وايي: داسې يې وويل چې په بحر ودانه څنډه به يې وغورځيږي، په دوهم ځل به بيا ووايي: لااله الا الله والله اکبر ووايي نو دوهم اړخ به يې هم ولويږي، په دريم ځل به بيا لااله الا الله والله اکبر ووايي نو ښار به فتحه کړي، ورته به ننوځي او غنيمتونه به تر لاسه کړي، دوی به لا غنيمتونه تقسيموي چې اواز به ورته راشي چې دجال راووت، نو هرڅه به پرېږدي او د دجال مقابلې ته به راستانه شي.

٩٥ عن عَبْداللَّه بْن عَمْرو بْن عَوْف، عَنْ أَبيه، عَنْ جَدِّه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَكُونَ أَدْنَى مَسَالِحِ الْمُسْلمينَ ببَوْلَاءَ، ثُمَّ قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: يَا عَليُّ، يَا عَليُّ، يَا عَليُّ، قَالَ: بأَبي، وَأُمِّي، قَالَ: إنَّكُمْ سَتُقَاتلونَ بَني الْأَصْفَر، وَيُقَاتلُهُمُ الَّذينَ منْ بَعْدكُمْ، حَتَّى يَخْرُجَ إلَيْهِمْ رَوْقَةُ الْإسْلَام، أَهْلُ الْحجَاز، الَّذينَ لَا يَخَافُونَ في اللَّه لَوْمَةَ لَائم، فَيَفْتَتحُونَ الْقُسْطَنْطينيَّةَ بالتَّسْبيح وَالتَّكْبير، فَيُصيبُونَ غَنَائمَ لَمْ يُصيبُوا مثْلَهَا، حَتَّى يَقْتَسمُوا بالْأَتْرسَة، وَيَأْتي آت فَيَقُولُ: إنَّ الْمَسيحَ قَدْ خَرَجَ في بلَادكُمْ، أَلَا وَهيَ كذْبَةٌ فَالْآخذ نَادمٌ، وَالتَّاركُ نَادمٌ] (سنن ابن ماجه: ۴۰۹۴)

عبدالله له خپل پلار عمرو او هغه يې له خپل پلار عوف نه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: تر هغه به قيامت رانه شي چې په (بولاء) مقام کې به د مسلمانانو سرحدي ځواک کم شي، بيا يې وويل: ای علي! ای علي! ای علي، هغه وويل: زما پلار او مور درڅخه قربان شه دا يم، هغه وويل: تاسو به ضرور له بني اصفر (روميانو) سره جنګ کوئ، او له تاسو وروسته خلک به هم ورسره جنګ کوي، تر دې چې له حجاز نه د اسلام غوره خلک راووځي چې د الله لپاره به د هيڅ چا له ملامتی نه ډاريږي، قسطنطينيه به په سبحان الله او الله اکبر باندې فتحه کړي، دومره ډېر غنيمتونه به ترلاس راوړي چې دومره به يې

چرته نه وي لاس ته راوړي، تر دې چې په ډالونو به يې تقسيم کړي، يو څوک به راشي او وبه وايي: دجال مو په کلي ښار کې راووت خو خبردار چې دا به دروغ وي، د دې خبرې منونکی او پرېښودونکی دواړه به پښېمانه وي.

**٩٦** عَنْ ذِي مِخْمَرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: سَتُصَالِحُكُمُ الرُّومُ صُلْحًا آمِنًا، ثُمَّ تَغْزُونَ أَنْتُمْ وَهُمْ عَدُوًّا، فَتَنْتَصِرُونَ، وَتَغْنَمُونَ، وَتَسْلَمُونَ، ثُمَّ تَنْصَرِفُونَ حَتَّى تَنْزِلُوا بِمَرْجٍ ذِي تُلُولٍ، فَيَرْفَعُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الصَّلِيبِ الصَّلِيبَ، فَيَقُولُ: غَلَبَ الصَّلِيبُ، فَيَغْضَبُ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، فَيَقُومُ إِلَيْهِ فَيَدُقُّهُ، فَعِنْدَ ذَلِكَ تَغْدِرُ الرُّومُ، وَيَجْتَمِعُونَ لِلْمَلْحَمَةِ، فَيَأْتُونَ حِينَئِذٍ تَحْتَ ثَمَانِينَ غَايَةً، تَحْتَ كُلِّ غَايَةٍ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا] (سنن ابي داود: ۴۲۹۴، سنن ابن ماجه: ۴۰۸۹، مسند احمد: ۲۳۴۷۷)

ذي مخمر رضي الله عنه وايي چې ما له نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي ويل يې: روميان به له تاسو سره د امن صلحه وکړي، تاسو او هغوی به په شريکه له دښمن سره جنګ وکړئ تاسو به کامرانان او غنيمتونه به هم ونيسئ، کله چې د خاورو شګو په ځرځای پورته شئ يو صليبي به اواز وکړي چې صليب غالبه شو، يو مسلمان به په غصه شي او له دښمن سره لاس کې صليب به مات کړي، روميان به لوظ مات کړي او لوی جګړې ته به اماده ګي ونيسي، د څلوېښتو جنګي بيرغونو لاندې به راشي، او د هرې جنډې لاندې به دولس زره کسان وي.

**٩٧** عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [الْمَلْحَمَةُ الْكُبْرَى، وَفَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ، وَخُرُوجُ الدَّجَّالِ فِي سَبْعَةِ أَشْهُرٍ] (جامع الترمذي: ۲۲۳۸، ابوداود: ۴۲۹۵، ابن ماجه: ۴۰۹۲، مسند احمد: ۲۲۹۴۵

له معاذ بن جبل رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: غټ جنګ، د قسطنطينيه فتح کيدل او د دجال راتګ ټول به په اوو مياشتو کې وشي.

## د قسطنطينې له فتحې اووه کاله وروسته به دجال راووځي

۹۸ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ بُسْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَيْنَ الْمَلْحَمَةِ، وَفَتْحِ الْمَدِينَةِ سِتُّ سِنِينَ، وَيَخْرُجُ الدَّجَّالُ فِي السَّابِعَةِ](سنن ابي داود: ۴۲۹۶، مسند احمد: ۱۷٦۹۱)

له عبدالله بن بسر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: د سترې خونړيزې معرکې او قسطنطينې ترمنځ به شپږ کاله وي او په اووم به دجال راوځي.

## د مسلمان پر ضد د کافر يو کېدل د قيامت نښه ده

۹۹ عن ثوبانَ رَضيَ اللهُ عَنْهُ قال: قال رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلم: [يوشكُ الأُممُ أن تَداعَى عليكم كما تَداعَى الأَكَلَةُ إلى قَصْعَتِها» فقال قائل: ومن قلَّة نحن يومئذٍ؟ قال: «بل أنتم يومئذ كثيرٌ، ولكنَّكم غُثاءٌ كغثاء السَّيلِ، ولَيَنْزِعَنَّ اللهُ مِن صدورِ عدوِّكم المهابةَ منكم، وليقذفنَّ اللهُ في قلوبكم الوَهْنَ». فقال قائلٌ: يا رسُولَ الله، وما الوهنُ؟ قال: حبُّ الدُنيا وكراهيةُ الموت] (سنن ابي داود: ۴۲۹۷)

له ثوبان رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: نژدې ده چې پر تاسو دښمنان داسې راټول شي لکه وږي چې د خوراک پر کاسې راټوليږي، چا وويل: ايا دغه ورځ به مونږ کم يو؟ هغه وويل: بلکې ډېر زيات به يئ خو د سيلاب زګ په څېر به يئ، الله به ستاسو د دښمن له سينو نه له تاسو څخه ډار پورته کړي، او ستاسو په زړونو کې به الله وهن واچوي، چا وويل: وهن څه شی دی؟ هغه وويل: له دنيا سره مينه او مرګ څخه ډارېدل.

## په فرات کې د سرو زرو غر راڅرګندېدل د قيامت نښه ده

۱۰۰ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

قَالَ: « لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَحسرَ الْفُرَاتُ عَنْ جَبَلٍ مِنْ ذَهَبٍ، يَقْتَتِلُ النَّاسُ عَلَيْهِ، فَيُقْتَلُ مِنْ كُلِّ مِائَةٍ، تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ، وَيَقُولُ كُلُّ رَجُلٍ مِنْهُمْ: لَعَلِّي أَكُونُ أَنَا الَّذِي أَنْجُو، وَفِي رِوَايَةٍ: فَمَنْ حَضَرَهُ فَلاَ يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا] (صحيح البخاري: ٧١١٩، صحيح مسلم: ٢٨٩٤، سنن ابن ماجه: ٤٠٤٦، مسند احمد: ٩٣٦٧، جامع الترمذي: ٢٥٦٩، سنن ابي داود: ٤٣١٣

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: تر هغه به قيامت رانه شي چې د فرات اوبه وچې شي او سره زر پکې راښکاره شي، خلک به پرې جنګونه کوي او له هرې خواه به نهه نوي خلک ووژل شي او يو به پاتې شي او دغه يو سړی به وايي چې شايد زه نجات ومومم، په بل روايت کې داسې هم دي چې: که څوک دغه غر ته حاضر شي نوهېڅ دې ترې نه اخلي.

## د شام او عراق خوراکي توکي کمېدل هم د قيامت نښه

١٠١ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [مَنَعَتِ الْعِرَاقُ دِرْهَمَهَا وَقَفِيزَهَا، وَمَنَعَتِ الشَّأْمُ مُدْيَهَا وَدِينَارَهَا، وَمَنَعَتْ مِصْرُ إِرْدَبَّهَا وَدِينَارَهَا، وَعُدْتُمْ مِنْ حَيْثُ بَدَأْتُمْ، وَعُدْتُمْ مِنْ حَيْثُ بَدَأْتُمْ، وَعُدْتُمْ مِنْ حَيْثُ بَدَأْتُمْ» شَهِدَ عَلَى ذَلِكَ لَحْمُ أَبِي هُرَيْرَةَ وَدَمُهُ] (صحيح مسلم: ٢٨٩٦، سنن ابي داود: ٣٠٣٥، مسند احمد: ٧٥٦٥)

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: عراق به خپل درهم او قفيز (يو قفيز ٤٤کيلو ګرامه دی) منعه کړي، شام به خپل مِد (يو مد ٨٩ نيم کلو ګرامه دی) او دينار منعه کړي او مصربه خپل اردب (يو اردب٣٣٦ کيلو ګرامه وي) او دينار منعه کړي او چې له کومه مو شروع شوېده بېرته ورته ستانه شئ (درې ځل يې وويل) په دې خو د ابوهريره غوښه او وينه ګواه دي.

## د نصرانیانو ډېرېدل د قیامت نښه ده

۱۰۲ قَالَ الْمُسْتَوْرِدُ الْقُرَشِيُّ، عِنْدَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: [تَقُومُ السَّاعَةُ وَالرُّومُ أَكْثَرُ النَّاسِ» فَقَالَ لَهُ عَمْرٌو: أَبْصِرْ مَا تَقُولُ، قَالَ: أَقُولُ مَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: لَئِنْ قُلْتَ ذَلِكَ، إِنَّ فِيهِمْ لَخِصَالًا أَرْبَعًا: إِنَّهُمْ لَأَحْلَمُ النَّاسِ عِنْدَ فِتْنَةٍ، وَأَسْرَعُهُمْ إِفَاقَةً بَعْدَ مُصِيبَةٍ، وَأَوْشَكُهُمْ كَرَّةً بَعْدَ فَرَّةٍ وَخَيْرُهُمْ لِمِسْكِينٍ وَيَتِيمٍ وَضَعِيفٍ، وَخَامِسَةٌ حَسَنَةٌ جَمِيلَةٌ: وَأَمْنَعُهُمْ مِنْ ظُلْمِ الْمُلُوكِ] (صحيح مسلم: ۲۸۹۸، مسند احمد: ۱۸۰۲۲)

مستورد د عمرو بن العاص رضي الله عنه په شتون کې وويل: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي ويل يې: قيامت به په داسې حالت کې راشي چې روميان به ډېر وي، نو عمرو بن العاص رضي الله عنه ورته وويل: ځان په خبره پوهه کړه، ما ورته وويل چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې دغسې اورېدلي دي، هغه وويل: که دغسې وي نو په دوې کې به څلور خصلتونه وي: په ټولو خلکو کې به دوی د فتنې په مهال ډېر صبرناک وي، له مصيبت وروسته به ډېر بيدار وي، له تېښتې وروسته به چريکې بريدونه کوي، خپلو مسکينانو، يتيمانو او نادارو لپاره به خيرخواه وي، او پنځم ښه خصلت به يې دا وي چې خپل ټولواکان به له ظلم څخه منعه کوي.

## دجال به کله راوځي؟

۱۰۳ عَنْ نَافِعِ بْنِ عُتْبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي غَزْوَةٍ، قَالَ: فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَوْمٌ مِنْ قِبَلِ الْمَغْرِبِ، عَلَيْهِمْ ثِيَابُ الصُّوفِ، فَوَافَقُوهُ عِنْدَ أَكَمَةٍ، فَإِنَّهُمْ لَقِيَامٌ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ، قَالَ: فَقَالَتْ لِي نَفْسِي: ائْتِهِمْ فَقُمْ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَهُ لَا يَغْتَالُونَهُ، قَالَ: ثُمَّ قُلْتُ: لَعَلَّهُ نَجِيٌّ مَعَهُمْ، فَأَتَيْتُهُمْ فَقُمْتُ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَهُ، قَالَ: فَحَفِظْتُ مِنْهُ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ، أَعُدُّهُنَّ فِي

يَدِي، قَالَ: «تَغْزُونَ جَزِيرَةَ الْعَرَبِ فَيَفْتَحُهَا اللهُ، ثُمَّ فَارِسَ فَيَفْتَحُهَا اللهُ، ثُمَّ تَغْزُونَ الرُّومَ فَيَفْتَحُهَا اللهُ، ثُمَّ تَغْزُونَ الدَّجَّالَ فَيَفْتَحُهُ اللهُ» قَالَ: فَقَالَ نَافِعٌ: يَا جَابِرُ، لَا نَرَى الدَّجَّالَ يَخْرُجُ، حَتَّى تُفْتَحَ الرُّومُ] (صحيح مسلم: ۲۹۰۰، سنن ابن ماجه: ۴۰۹۱]

نافع رضي الله عنه وايي مونږ له نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره په يوه غزا کې وو، د مغرب له اړخ ورته يو عربي قوم راغی او د وړغونو جامې پرې پرتې وې له يو ډېرکۍ ترخنګ ورسره مخامخ شول، نبي صلی الله عليه وسلم ناست او دوی ولاړ وو، زړه مې راته وويل چې ورشه ترمنځ يې ودرېږه هسې نه نبي صلی الله عليه وسلم قتل نه کړي، بيا مې وويل: شايد پټې خبرې ورسره کوي، زه راغلم او د قوم او نبي صلی الله عليه وسلم ترمنځ ودرېدم، نو څلور خبرې مې ترې يادې کړې چې اوس هم راته زده دي، هغه وويل: تاسو به د عربانو جزيره باندې جنګ کوئ الله به يې درته درکړي، بيا به فارسيانو سره جنګ وکړئ الله به يې فتح درکړي، بيا به له روميانو سره جنګ وکړئ الله به يې فتح درکړي، بيا به له دجال سره جنګ وکړئ الله به يې فتحه درکړي، نافع بيا جابر رضي الله عنه ته وويل: ترڅو روم نه وي فتح شوی دجال نه راوځي.

## قحطاني باچا راتلل د قيامت نښه ده

۱۰۴ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ رَجُلٌ مِنْ قَحْطَانَ يَسُوقُ النَّاسَ بِعَصَاهُ] (صحيح البخاري: ۳۵۱۷، صحيح مسلم: ۲۹۱۰، مسند احمد: ۹۴۰۵)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: قيامت به تر هغه رانه شي چې له بنوقحطان نه به يو سړی راووځي او خلک به يې په لښته روان کړي وي.

## د جهجاه په نوم تولواک به د قيامت نښه وي

۱۰۵- عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [لَا تَذْهَبُ الْأَيَّامُ وَاللَّيَالِي، حَتَّى يَمْلِكَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ الْجَهْجَاهُ] (صحيح مسلم: ۲۹۱۱، جامع الترمذي: ۲۲۲۸)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: تر هغه به شپې ورځې لاړې نه شي (قيامت به رانه شي) ترڅو د جهجاه په نوم سړی تولواک جوړ نه شي.

## د وېښتانو پېزار د قيامت د نزديوالي نښه ده

۱۰۶- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعَرُ، وَلاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ المَجَانُّ المُطْرَقَةُ] (صحيح البخاري: ۲۹۲۹، صحيح مسلم: ۲۹۱۲، جامع الترمذي: ۲۲۱۵، سنن ابي داود: ۴۳۰۴، سنن ابن ماجه: ۴۰۹۷، مسند احمد: ۲۰۶۷۷)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: تر هغه به قيامت رانه شي چې تاسو د داسې قوم سره جنګ ونه کړئ چې پېزار به يې له وېښتانو څخه وي، او قيامت به تر هغه رانه شي چې تاسو له داسې قوم سره جنګ ونه کړئ چې پوزې به يې د ټکيدلي ډال په څېر وي.

## له ترکانو سره جنګ د قيامت نښه ده

۱۰۷- عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا التُّرْكَ، صِغَارَ الأَعْيُنِ، حُمْرَ الوُجُوهِ، ذُلْفَ الأُنُوفِ، كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ المَجَانُّ المُطْرَقَةُ، وَلاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعَرُ]

(صحيح البخاري: ۲۹۲۸، صحيح مسلم: ۲۹۱۲، جامع الترمذي: ۲۲۱۵، سنن ابي داود: ۴۳۰۴، سنن ابن ماجه: ۴۰۹۷، مسند احمد: ۱۰۸۶۱)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: قيامت به تر هغه قايم نه شي چې تاسو له ترکانو سره جنګ ونه کړئ، پوزې به يې پيتې او مخونه به يې د ډال په څېر پلن وي، او قيامت به تر هغه رانه شي چې تاسو له داسو خلکو سره جنګ ونه کړئ چې پڼې به يې له وېښتانو څخه وي.

۱۰۸ عَنْ أَبي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ التُّرْكَ، قَوْمًا وُجُوهُهُمْ كَالْمَجَانِّ الْمُطْرَقَةِ يَلْبَسُونَ الشَّعَرَ، وَيَمْشُونَ في الشَّعَرِ، حُمْرُ الْوُجُوْهِ صِغَارُ الأَعْيُنِ] (صحيح مسلم: ۲۹۱۲،

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: قيامت به تر هغه رانه شي چې مسلمانان له ترکانو سره جنګ ونه کړي، ترکان به داسې قوم وي چې مخونه به يې د ډال په څېر پلن وي، د وېښتانو پوښاک به اچوي، او وېښتانو کې به ګرځي، مخونه به يې سره او سترګې به يې ورې وي.

۱۰۹ عَنْ أَبي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ التُّرْكَ، قَوْمًا وُجُوهُهُمْ كَالْمَجَانِّ الْمُطْرَقَةِ يَلْبَسُونَ الشَّعَرَ، وَيَمْشُونَ في الشَّعَرِ] (سنن ابي داود: ۴۳۰۵)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: قيامت به تر هغه رانه شي چې مسلمانان پکې له ترکانو سره جنګ ونه کړي، ترکان به داسې قوم وي چې مخونه به يې د ډال په شان پلن وي، د وېښتانو پوښاک به اغوندي او په وېښتانو کې به ګرځي.

## د بصرې ورانېدل د قيامت نښه ده

۱۱۰ عَنْ مُسْلِم بْنِ أَبي بَكْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ أَبي يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [يَنْزِلُ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي بِغَائِطٍ يُسَمُّونَهُ

الْبَصْرَةَ، عِنْدَ نَهْرٍ يُقَالُ لَهُ: دِجْلَةُ، يَكُونُ عَلَيْهِ جِسْرٌ، يَكْثُرُ أَهْلُهَا، وَتَكُونُ مِنْ أَمْصَارِ الْمُهَاجِرِينَ] (سنن ابي داود: ۴۳۰۶).

له مسلم بن ابي بکرة رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي دي ويل يې: زما له امت څخه به ځيني خلک ډاډمن ځای چې بصره به نوميږي پکې اوسيږي، ترڅنګ به يې ددجلې په نوم نهر وي پول به پرې ايښی وي، اوسيدونکي به يې ډير شي او د مهاجرينو له ښارونو څخه به وي.

## له ترکانو سره په جنګ کې د خلکو ډولونه

۱۱۱ وَفِي لَفْظ: مِنْ أَمْصَارِ الْمُسْلِمِينَ - فَإِذَا كَانَ فِي آخِرِ الزَّمَانِ جَاءَ بَنُو قَنْطُورَاءَ عِرَاضُ الْوُجُوهِ، صِغَارُ الْأَعْيُنِ، حَتَّى يَنْزِلُوا عَلَى شَطِّ النَّهْرِ، فَيَتَفَرَّقُ أَهْلُهَا ثَلَاثَ فِرَقٍ: فِرْقَةٌ يَأْخُذُونَ أَذْنَابَ الْبَقَرِ وَالْبَرِّيَّةَ وَهَلَكُوا، وَفِرْقَةٌ يَأْخُذُونَ لِأَنْفُسِهِمْ وَكَفَرُوا، وَفِرْقَةٌ يَجْعَلُونَ ذَرَارِيَّهُمْ خَلْفَ ظُهُورِهِمْ، وَيُقَاتِلُونَهُمْ وَهُمُ الشُّهَدَاءُ]

بل روايت کې دي چې: د مسلمانانو له ښارونو څخه به وي، په اخره زمانه کې به بنو قنطوراء راشي، پلن مخونه او سترګې به يې وړې وي ددغه نهر پر غاړه به واړوي، مسلمانان به پکې درې ډلې شي: يوه ډله به يې دغواګانو لکۍ راونيسي کروندې به شروع کړي نو دوی به هلاک شي، دوهمه به له ترکانو څخه امان وغواړي کفر به وکړي او بله به يې خپل بچيان له ځانونو نه شا ته کړي او جنګ به وکړي او دوی به شهيدان وي.

## اخر به هم فتح د مسلمانانو وي

۱۱۲ وَفِي لَفْظِ أَحْمَدَ بَعْدَ الْفِرْقَةِ الْأُولَى: وَأَمَّا فِرْقَةٌ فَتَأْخُذُ عَلَى أَنْفُسِهَا، فَكَفَرَتْ فَهَذِهِ وَتِلْكَ سَوَاءٌ، وَأَمَّا فِرْقَةٌ فَيَجْعَلُونَ عِيَالَهُمْ خَلْفَ ظُهُورِهِمْ وَيُقَاتِلُونَ، فَقَتْلَاهُمْ شُهَدَاءُ، وَيَفْتَحُ اللَّهُ عَلَى بَقِيَّتِهَا] (سنن ابي داود: ۴۳۰۶، مسند احمد: ۲۰۴۵۱)

د احمد په روایت کې له لومړۍ ډلې وروسته داسې دي: یوه ډله به یې له ځان لپاره امن وغواړي نو کفر به وکړي، دوی او هغوی به سره یو ځېر وي، او یوه ډله به یې خپل ماشومان شا ته کړي او جنګ به وکړي، ددوی وژل شوي به شهیدان وي، او پاتو خلکو ته به یې الله فتحه ورکړي.

## د فتنو په مهال به شام د ایمان کور وي

۱۱۳ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ إِذْ رَأَيْتُ عَمُودَ الْكِتَابِ احْتُمِلَ مِنْ تَحْتِ رَأْسِي، فَظَنَنْتُ أَنَّهُ مَذْهُوبٌ بِهِ، فَأَتْبَعْتُهُ بَصَرِي، فَعُمِدَ بِهِ إِلَى الشَّامِ، أَلَا وَإِنَّ الْإِيمَانَ حِينَ تَقَعُ الْفِتَنُ بِالشَّامِ] (مسند البزار: ۴۱۱۱).

له ابودرداء رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: زه ویده وم څه ګورم چې قراني واک او دبدبه مې له سر لاندې پورته کړی شوه پوهه شوم چې وړل شي، سترګې مې ورپسې کړې نو د شام په لور یوړل شوه، خبردار کله چې فتنې راشي نو ایمان به په شام کې وي.

۱۱۴ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [إِنَّ فُسْطَاطَ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَ الْمَلْحَمَةِ بِالْغُوطَةِ، إِلَى جَانِبِ مَدِينَةٍ يُقَالُ لَهَا: دِمَشْقُ، مِنْ خَيْرِ مَدَائِنِ الشَّامِ] (سنن ابي داود: ۴۲۹۸، مسند احمد: ۲۱۷۲۵).

له ابودرداء رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: د خونړیز معرکې په مهال به د مسلمانانو پناګاه په غوطه کې وي ترڅنګ به یې د دمشق په نوم ښار وي، دغه به د شام غوره ترین ښار وي.

## د فتنو په وخت کې د مسلمانانو پناه ځایونه

۱۱۵ عَنْ أَبِي الزَّاهِرِيَّةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ: مَعْقِلُ الْمُسْلِمِينَ مِنَ الْمَلَاحِمِ دِمَشْقُ وَمَعْقِلُهُمْ مِنَ الدَّجَّالِ بَيْتُ الْمَقْدِسِ وَمَعْقِلُهُمْ مِنْ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ بَيْتُ الطُّورِ] (مصنف بن أبي شيبه: ١٩٤٤٧)

ابوزاهريه رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: له فتنو څخه د مسلمانانو پناګاه به دمشق وي، او له دجال څخه پناګاه به يې بيت المقدس وي، او له ياجوج ماجوج څخه پناګاه به يې طور وي.

## الله پاک له دين څخه دفاع له هر چا اخستى شي

١١٦ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [إِذَا وَقَعَتِ الْمَلَاحِمُ، بَعَثَ اللَّهُ بَعْثًا مِنَ الْمَوَالِي، هُمْ أَكْرَمُ الْعَرَبِ فَرَسًا، وَأَجْوَدُهُ سِلَاحًا، يُؤَيِّدُ اللَّهُ بِهِمُ الدِّينَ] (سنن ابن ماجه: ٤٠٩٠]

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: کله چې فتنې راپورته شي، الله پاک به له غلامانو څخه يو لښکر راپورته کړي، په ټولو عربانو کې به دوى هم د اسونو او هم د سلاح او اسلحې له مخې غوره او ښه وي، په دوى سره به الله پاک د اسلام تاييد کوي.

## د قيامت غټې نښې

١١٧ عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ أَبِي سَرِيحَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: اطَّلَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غُرْفَةٍ، وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ السَّاعَةَ، فَقَالَ: « لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَكُونَ عَشْرُ آيَاتٍ: طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا، وَالدَّجَّالُ، وَالدُّخَانُ، وَالدَّابَّةُ، وَيَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ، وَخُرُوجُ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، وَثَلَاثُ خُسُوفٍ، خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ، وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ، وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَنَارٌ تَخْرُجُ مِنْ قَعْرِ عَدَنِ أَبْيَنَ، تَسُوقُ النَّاسَ إِلَى الْمَحْشَرِ، تَبِيتُ مَعَهُمْ إِذَا بَاتُوا، وَتَقِيلُ مَعَهُمْ إِذَا قَالُوا] (صحيح مسلم: ٢٩٠١، جامع الترمذي: ٢١٨٣، سنن ابي داود: ٤٣١١، سنن ابن ماجه: ٤٠٥٥، مسند احمد: ٢٣٨٧٨).

أبوسریحه رضي الله عنه وايي: نبي صلی الله علیه وسلم له خونې ځخه راووت او مونږ د قیامت متعلق خبرې کولې، هغه وویل: قیامت به تر هغه رانه شي چې مخکې ترې لس نښې نه وي راغلي: له مغرب ځخه د لمر راختل، دجال، لوګی، حیوان چې خبرې به کوي، یأجوج او مأجوج، او د عیسی علیه السلام راوتل، او درې خسفونه به وشي، یو په مشرق، یو په مغرب او یو به په جزیرة العرب کې وشي، له عدن ابین (ځای نوم دی) له لرې ساحې ځخه به اور راووځي خلک به محشر ته شړي، اور به هلته پړاو اچوي چې خلک پړاو واچوي او چې چرته خلک قیلوله کوي اور به ورته بیا خپل پړاو واچوي.

وَفِي رِوَايَةٍ: وَآخِرُ ذَلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ تَطْرُدُ النَّاسَ] (صحيح مسلم: ۲۹۰۱، سنن ابي داود: ۴۳۱۱)

په بل روایت کې دي: اخرنی نښه یې اور دی چې له یمن ځخه به راووځي او خلک به (محشر) ته شړي.

وَفِي رِوَايَةٍ [وَرِيحٌ تُلْقِي النَّاسَ فِي الْبَحْرِ] (صحيح مسلم: ۲۹۰۱)

په بل روایت کې دي: او باد (طوفان) به وي چې خلک به په سمندر کې غورځوي.

## هغه وختونه چې ایمان په کې نه قبلیږي

**۱۱۸** عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ سِتًّا: طُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا، أَوِ الدُّخَانَ، أَوِ الدَّجَّالَ، أَوِ الدَّابَّةَ، أَوْ خَاصَّةَ أَحَدِكُمْ أَوْ أَمْرَ الْعَامَّةِ] (صحيح مسلم: ۲۹۴۷، مسند احمد: ۱۰۶۴۰)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: له شپږو شیانو مخکې نیک عملونو ته تلوار وکړئ: چې لمر له مغرب ځخه راوخیژي، یا لوګی راشي، یا دجال راشي، او یا حیوان راښکاره شي، یا څوک خاص په خپل مرګ مړ شي او یا پرې په عمومي توګه قیامت راشي.

١١٩ وعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ رَضيَ اللهُ عَنْهُ مَرْفُوعاً: الْعِبَادَةُ في الْهَرْجِ كَهِجْرَةٍ إِلَيَّ] (صحيح مسلم: ٢٩٤٨، جامع الترمذي: ٢٢٠١، سنن ابن ماجه: ٣٩٨٥، مسند احمد: ٢٠٢٩٨)

له معقل بن يسار رضي الله عنه نه مرفوعا روايت دی: په فتنه کې عبادتونه کول دومره ثواب لري لکه ما ته هجرت کول.

١٢٠ عَنْ أَبي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: [ثَلَاثٌ إِذَا خَرَجْنَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ، أَوْ كَسَبَتْ في إِيمَانِهَا خَيْرًا: طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا، وَالدَّجَّالُ، وَدَابَّةُ الْأَرْضِ] (صحيح مسلم: ١٥٨)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: درې نښې چې کله راووځي هيڅ نفس ته به ايمان راوړل فايده ونه رسوي مګر دا چې له مخکې يې ايمان راوړی وي او يا يې ايماني کارونه کړي وي: لمر له مغرب څخه راپورته کېدل، د دجال راتلل، او د ځمکې حيوان راتلل (چې خبرې به کوي).

١٢١ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عَمْرو رَضيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [حَفظْتُ منْ رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ حَديثًا لَمْ أَنْسَهُ بَعْدُ، سَمعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ أَوَّلَ الْآيَات خُرُوجًا، طُلُوعُ الشَّمْس منْ مَغْربهَا، وَخُرُوجُ الدَّابَّة عَلَى النَّاسِ ضُحًى، وَأَيُّهُمَا مَا كَانَتْ قَبْلَ صَاحِبَتِهَا، فَالْأُخْرَى عَلَى إِثْرِهَا قَرِيبًا] (صحيح مسلم: ٢٩٤١، سنن ابي داود: ٤٣١٠، سنن ابن ماجه: ٤٠٦٩، مسند احمد: ٦٨٨١)

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه وايي: ما له رسول الله نه يو حديث زدکړه دی چې تر اوسه مې نه دی هېر کړی هغه ويل: د قيامت لومړۍ نښه به له مغرب څخه د لمر راپورته کېدل وي، او د سهار په مهال به يې خلکو کې (ناطق) حيوان راووځي، که هره يوه يې له بلې مخکې شي خو دوهمه به پسې ډېره زر او نږدې راشي.

## د توبې دروازه او بند قسمته کافر

۱۲۲ عَنْ صَفْوَانِ بْنِ عَسَّالٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: أَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ جَعَلَ بِالمَغْرِبِ بَابًا عَرْضُهُ مَسِيرَةُ سَبْعِينَ عَامًا لِلتَّوْبَةِ لَا يُغْلَقُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ قِبَلِهِ] (جامع الترمذي: ۳۵۳۶)

صفوان بن عسال رضي الله عنه وايي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي ویل یې: په مغرب کې الله پاک د توبې لپاره یوه دروازه ګرځولې ده چې د اویا کالو په اندازه پلنوالی لري، تر هغه نه بندیږي چې لمر ورڅخه نه وي راپورته شوی.

## توبه کله قبلیږي؟

۱۲۳ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، تَابَ اللهُ عَلَيْهِ] (صحیح مسلم: ۲۷۰۳، مسند احمد: ۹۱۳۰)

له ابوهریرة رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: که څوک د مغرب څخه د لمر راښتو مخکې توبه اوباسي نو توبه به يې الله قبوله کړي.

## د هغه لوګی نښې چې د قیامت ء   مه ده

۱۲۴ فَرُوِيَ مِنْ حَدِيثِ حُذَيْفَةَ أَنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ دُخَانًا يَمْلَأُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ يَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ فَيُصِيبُهُ مِنْهُ شِبْهُ الزُّكَامِ وَأَمَّا الْكَافِرُ فَيَكُونُ بِمَنْزِلَةِ السَّكْرَانِ يَخْرُجُ الدُّخَانُ مِنْ أَنْفِهِ وَعَيْنَيْهِ وَأُذُنَيْهِ وَدُبُرِهِ] (تحفة الأحوذي: ۱۱/ ۲۹۱).

له حذیفه رضي الله عنه نه روایت دی چې دقیامت نښه دا هم ده چې تر ځلویښت ورځو پورې به لوګی راشي او مشرق او مغرب به ټول ونیسي، په مسلمان به یې اثر د زکام په څېر وي او په کافرانو به یې اثر لکه د نشیانو وي، لوګی به یې له پوزې، له سترګو، له غوږونو او له مقعد څخه راووځي.

## د ښارونو پر مختګ (ښه کار دی خو) د قیامت نښه ده

۱۲۵ عَنْ أَنَس بْنِ مَالك رَضيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: [يَا أَنَسُ، إنَّ النَّاسَ يُمَصِّرُونَ أَمْصَارًا، وَإِنَّ مصْرًا منْهَا يُقَالُ لَهُ: الْبَصْرَةُ - أَوِ الْبُصَيْرَةُ - فَإِنْ أَنْتَ مَرَرْتَ بِهَا، أَوْ دَخَلْتَهَا، فَإِيَّاكَ وَسِبَاخَهَا، وَكلَاءَهَا، وَسُوقَهَا، وَبَابَ أُمَرَائِهَا، وَعَلَيْكَ بِضَوَاحِيهَا، فَإِنَّهُ يَكُونُ بِهَا خَسْفٌ وَقَذْفٌ وَرَجْفٌ، وَقَوْمٌ يَبِيتُونَ يُصْبِحُونَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ] (سنن ابي داود: ۴۳۰۷)

له انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ویلي و: انسه! خلک به ښارونه اباد کړي، د یو ښار نوم به پکې بصره یا بصیره وي، که ته پرې چرته تېر شوې او یا ورته ننوتې نو هم یې له مالګجنې ځمکې ځان وساته او هم یې له کلاء (د منطقې نوم دی) او بازار نه ځان وساته، او ځان یې د والیانو له دروازو هم وساته، بلکې د یادې منطقې شاوخوا اوسېږه، زر دی چې دغلته به خسف (ځمکې به وچوي) او قذف (طوفانونه، یا به ځمکه مرې راوغورځوي، یا به پرې د کاڼو باران وشي) او ځمکلړزی به وي، دغلته به یو قوم وي شپه به په پداسې حال کې تېره کړي چې سهار به شادوګان او خنزیران وي.

## دجال، د هغه صفت او له ورسره شیانو بیان

۱۲۶ عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ، قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ الدَّجَّالَ ذَاتَ غَدَاةٍ، فَخَفَّضَ فِيهِ وَرَفَّعَ، حَتَّى ظَنَنَّاهُ فِي طَائِفَةِ النَّخْلِ، فَلَمَّا رُحْنَا

إِلَيْه عَرَفَ ذَلِكَ فِينَا، فَقَالَ: «مَا شَأْنُكُمْ؟» قُلْنَا: يَا رَسُولَ الله ذَكَرْتَ الدَّجَّالَ غَدَاةً، فَخَفَّضْتَ فِيه وَرَفَّعْتَ، حَتَّى ظَنَنَّاهُ فِي طَائِفَةِ النَّخْلِ، فَقَالَ: «غَيْرُ الدَّجَّالِ أَخْوَفُنِي عَلَيْكُمْ، إِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا فِيكُمْ، فَأَنَا حَجِيجُهُ دُونَكُمْ، وَإِن يَخْرُجْ وَلَسْتُ فِيكُمْ، فَامْرُؤٌ حَجِيجُ نَفْسِه وَاللهُ خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ، إِنَّهُ شَابٌّ قَطَطٌ، عَيْنُهُ طَافِئَةٌ، كَأَنِّي أُشَبِّهُهُ بِعَبْدِالْعُزَّى بْنِ قَطَنٍ، فَمَنْ أَدْرَكَهُ مِنْكُمْ، فَلْيَقْرَأْ عَلَيْه فَوَاتِحَ سُورَةِ الْكَهْفِ، إِنَّهُ خَارِجٌ خَلَّةً بَيْنَ الشَّأْمِ وَالْعِرَاقِ، فَعَاثَ يَمِينًا وَعَاثَ شِمَالًا، يَا عِبَادَ الله فَاثْبُتُوا» قُلْنَا: يَا رَسُولَ الله وَمَا لَبْثُهُ فِي الْأَرْضِ؟ قَالَ: «أَرْبَعُونَ يَوْمًا، يَوْمٌ كَسَنَةٍ، وَيَوْمٌ كَشَهْرٍ، وَيَوْمٌ كَجُمُعَةٍ، وَسَائِرُ أَيَّامِه كَأَيَّامِكُمْ» قُلْنَا: يَا رَسُولَ الله فَذَلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَسَنَةٍ، أَتَكْفِينَا فِيه صَلَاةُ يَوْمٍ؟ قَالَ: «لَا، اقْدُرُوا لَهُ قَدْرَهُ» قُلْنَا: يَا رَسُولَ الله وَمَا إِسْرَاعُهُ فِي الْأَرْضِ؟ قَالَ: « كَالْغَيْثِ اسْتَدْبَرَتْهُ الرِّيحُ، فَيَأْتِي عَلَى الْقَوْمِ فَيَدْعُوهُمْ، فَيُؤْمِنُونَ بِه وَيَسْتَجِيبُونَ لَهُ، فَيَأْمُرُ السَّمَاءَ فَتُمْطِرُ، وَالْأَرْضَ فَتُنْبِتُ، فَتَرُوحُ عَلَيْهِمْ سَارِحَتُهُمْ، أَطْوَلَ مَا كَانَتْ ذُرًا، وَأَسْبَغَهُ ضُرُوعًا، وَأَمَدَّهُ خَوَاصِرَ، ثُمَّ يَأْتِي الْقَوْمَ، فَيَدْعُوهُمْ فَيَرُدُّونَ عَلَيْه قَوْلَهُ، فَيَنْصَرِفُ عَنْهُمْ، فَيُصْبِحُونَ مُمْحِلِينَ لَيْسَ بِأَيْدِيهِمْ شَيْءٌ مِنْ أَمْوَالِهِمْ، وَيَمُرُّ بِالْخَرِبَةِ، فَيَقُولُ لَهَا: أَخْرِجِي كُنُوزَكِ، فَتَتْبَعُهُ كُنُوزُهَا كَيَعَاسِيبِ النَّحْلِ، ثُمَّ يَدْعُو رَجُلًا مُمْتَلِئًا شَبَابًا، فَيَضْرِبُهُ بِالسَّيْفِ فَيَقْطَعُهُ جَزْلَتَيْنِ رَمْيَةَ الْغَرَضِ، ثُمَّ يَدْعُوهُ فَيُقْبِلُ وَيَتَهَلَّلُ وَجْهُهُ، يَضْحَكُ، فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللهُ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ، فَيَنْزِلُ عِنْدَ الْمَنَارَةِ الْبَيْضَاءِ شَرْقِيَّ دِمَشْقَ، بَيْنَ مَهْرُودَتَيْنِ، وَاضِعًا كَفَّيْه عَلَى أَجْنِحَةِ مَلَكَيْنِ، إِذَا طَأْطَأَ رَأْسَهُ قَطَرَ، وَإِذَا رَفَعَهُ تَحَدَّرَ مِنْهُ جُمَانٌ كَاللُّؤْلُؤِ، فَلَا يَحِلُّ لِكَافِرٍ يَجِدُ رِيحَ نَفَسِه إِلَّا مَاتَ، وَنَفَسُهُ يَنْتَهِي حَيْثُ يَنْتَهِي طَرْفُهُ، فَيَطْلُبُهُ حَتَّى يُدْرِكَهُ بِبَابِ لُدٍّ، فَيَقْتُلُهُ، ثُمَّ يَأْتِي عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ قَوْمٌ قَدْ عَصَمَهُمُ اللهُ مِنْهُ، فَيَمْسَحُ عَنْ وُجُوهِهِمْ وَيُحَدِّثُهُمْ بِدَرَجَاتِهِمْ فِي الْجَنَّةِ، فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ أَوْحَى اللهُ إِلَى عِيسَى: إِنِّي قَدْ أَخْرَجْتُ عِبَادًا لِي، لَا يَدَانِ لِأَحَدٍ بِقِتَالِهِمْ، فَحَرِّزْ عِبَادِي إِلَى الطُّورِ وَيَبْعَثُ اللهُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ، وَهُمْ مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ، فَيَمُرُّ أَوَائِلُهُمْ عَلَى بُحَيْرَةِ طَبَرِيَّةَ فَيَشْرَبُونَ مَا فِيهَا، وَيَمُرُّ آخِرُهُمْ فَيَقُولُونَ: لَقَدْ كَانَ بِهَذِه مَرَّةً مَاءٌ، وَيُحْصَرُ نَبِيُّ الله عِيسَى وَأَصْحَابُهُ، حَتَّى يَكُونَ رَأْسُ الثَّوْرِ لِأَحَدِهِمْ خَيْرًا مِنْ مِائَةِ دِينَارٍ لِأَحَدِكُمُ الْيَوْمَ، فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ، فَيُرْسِلُ اللهُ عَلَيْهِمُ النَّغَفَ فِي رِقَابِهِمْ،

فَيُصْبِحُونَ فَرْسَى كَمَوْتِ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ، ثُمَّ يَهْبِطُ نَبِيُّ اللهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ إِلَى الْأَرْضِ، فَلَا يَجِدُونَ فِي الْأَرْضِ مَوْضِعَ شِبْرٍ إِلَّا مَلَأَهُ زَهَمُهُمْ وَنَتْنُهُمْ، فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ إِلَى اللهِ، فَيُرْسِلُ اللهُ طَيْرًا كَأَعْنَاقِ الْبُخْتِ فَتَحْمِلُهُمْ فَتَطْرَحُهُمْ حَيْثُ شَاءَ اللهُ، ثُمَّ يُرْسِلُ اللهُ مَطَرًا لَا يَكُنُّ مِنْهُ بَيْتُ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ، فَيَغْسِلُ الْأَرْضَ حَتَّى يَتْرُكَهَا كَالزَّلَفَةِ، ثُمَّ يُقَالُ لِلْأَرْضِ: أَنْبِتِي ثَمَرَتَكِ، وَرُدِّي بَرَكَتَكِ، فَيَوْمَئِذٍ تَأْكُلُ الْعِصَابَةُ مِنَ الرُّمَّانَةِ، وَيَسْتَظِلُّونَ بِقِحْفِهَا، وَيُبَارَكُ فِي الرِّسْلِ، حَتَّى أَنَّ اللِّقْحَةَ مِنَ الْإِبِلِ لَتَكْفِي الْفِئَامَ مِنَ النَّاسِ، وَاللِّقْحَةَ مِنَ الْبَقَرِ لَتَكْفِي الْقَبِيلَةَ مِنَ النَّاسِ وَاللِّقْحَةَ مِنَ الْغَنَمِ لَتَكْفِي الْفَخِذَ مِنَ النَّاسِ، فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللهُ رِيحًا طَيِّبَةً، فَتَأْخُذُهُمْ تَحْتَ آبَاطِهِمْ، فَتَقْبِضُ رُوحَ كُلِّ مُؤْمِنٍ وَكُلِّ مُسْلِمٍ، وَيَبْقَى شِرَارُ النَّاسِ، يَتَهَارَجُونَ فِيهَا تَهَارُجَ الْحُمُرِ، فَعَلَيْهِمْ تَقُومُ السَّاعَةُ] (صحيح مسلم: ۲۹۳۷)

له نواس بن سمعان رضي الله عنه روايت دی چې يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم دجال ياد کړ، په ډېر حقارت يې هم ياد کړ او فتنه يې هم ورله لويه وګڼله، تردې چې مونږ ګومان وکړ چې د کجورو په دې باغ کې به وي، چې کله مونږ ورته ماسپښين بيا راغلو نو په مونږ يې د ډار اثرات وليدل، ويې پوښتل چې ولې؟ مونږ وويل: د الله رسوله، تا سهار د دجال ذکر وکړ، ډېر دې تحقير کړ او فتنه دې هم ورله لويه ياده کړه، مونږ داسې ګومان وکړ چې ګنې د کجورو په دې باغ کې به وي، هغه وويل: له دجال پرته درباندې زه له نور څه نه ډېر وېرېږم، که راشي او زه وم نو زه ورسره جنګ کوم، خو که هغه راشي او زه نه يم نو هر سړی دې ورسره خپله دليل بازي وکړي، او د هر مسلمان دې الله مددګار شي، دجال زلمی او کوڼې وړې ويښتان لري، سترګه يې بقه راوتې ده، سم دم لکه عبدالعزی بن قطن، که څوک يې ووينې نو د سورت کهف اولنې ايتونه دې پرې ولولې، هغه به د عراق او شام ترمنځ لارې څخه راوځي او ښي او ګڅ اړخ ته به فسادونه کوي، ای د الله بندګانو مضبوط پاتې شئ، مونږ وويل: په څمکه کې به ترڅومره پاتې کيږي؟ هغه وويل: څلوېښت ورځې، يوه ورځ به لکه د کال، بله به لکه د مياشت، او بله به لکه د اونۍ په څېر وي او پاتې ورځې به يې ستاسو د عادي ورځو په څېر وي، مونږ وويل: د الله پيغمبره! ايا د کال په څېر ورځ کې يې مونږ ته د يوې ورځې لمونځ کفايت کوي؟هغه وويل: نا، اندازه به ورله ولګوئ، مونږ وويل: په څمکه کې به څومره تيز وي؟ هغه وويل: د هغه باران په څېر چې طوفان ورپسې وي،

یو قوم ته به راشي دعوت به ورکړي نو ایمان به پرې راوړي، اسمان ته به امر وکړي باران به ووروي، ځمکې ته به امر وکړي زرغونه به شي، په ماښام کې به یې ورته څاروي راشي چې کوپې به یې پورته شوي وي، غولانځې به یې ډکې وي او تشي به یې راوتلې وي، بیا به بل قوم ته راشي دعوت به ورکړي خو هغوی به یې دعوت ونه مني، دجال به ترې په داسې حالت کې ستون شي چې په قحط کې به یې پریږدي په لاسونو کې به هېڅ حیوان نه لري، په ورانه وېجاړه ځمکه به تېر شي اوورته به ووایي چې خزانې دې رابرسېره کړه، خزانې به یې ورپسې داسې روانې وي لکه د مچو باچا، بیا به تازه زلموټی راوغواړي په توره به یې دوه جلا جلا ټوټې کړي او لرې به یې ګوزار کړي، بیابه یې راوغواړي، هغه به ورته په داسې حالت کې راشي او مخ به یې رڼا کوي او خاندي به، دوی به لا دې حالت کې وي چې الله به مسیح بن مریم راواستوي، د دمشق په ختیځ کې به له منارة البیضاء سره راښکته شي، په ورس خوشبو به یې دوه چینې اچولې وي او د دو ملایکو په وزرو به یې لاسونه ایښي وي، چې سر ښکته کړي خولې به ترې څاڅي او که سر پورته کړي نو د ملغلرو په څېر به ترې روانې وي، په هر کافر چې یې بوي ورشي نو مړ به شي، او بوی به یې د سترګو دید په اندازه وي، له دجال پسې به شي او حتی چې باب لد سره به یې ګیر کړي او مړ به یې کړي، بیا به عیسی علیه السلام داسې قوم ته راشي چې الله پاک به له دجال څخه ساتلي وي، له ورسیدلې خفګان یا غبار څخه به یې مخونه پاک کړي او په جنت کې به ورته په بلندو درجو زیري ورکړي، عیسی علیه السلام به لا داسې وي چې الله به ورته وحي وکړي: ما خپل ځیني بندګان راښکاره کړي دي چې په جنګ ورسره څوک توان نه لري، زما بندګان طور غر ته د حفاظت په خاطر بوځه، الله به یاجوج او ماجوج په داسې حالت کې راوباسي چې له هر لوړ ځای څخه به په رامنډو وي، د طبریه په سمندرګوټي به یې لومړي تېر شوي وي او ټولې اوبه به یې څښلې وي اخرني چې یې کله راشي وایي به: دلته هم لکه چې یو وخت اوبه وې، په جبل طور کې به هغه او ملګري یې محاصره شي تر دې چې تاسو کې د یو چا د نن ورځې سل دینارو څخه به هغه وخت کې یو سړي ته د غوایي سر ډېر غوره وي، عیسی علیه السلام او ملګري به یې الله پاک ته رغبت (سوال) وکړي د اوښانو اوګډو بزو چینجي به الله پاک د یاجوج ماجوج په څټونو کې پیدا کړي نو د چینجو ښکار به شي او د یو نفس په څېر به مړه شي، بیا به عیسی علیه

السلام له خلکو سره ځمکې ته راښکته شي، د ځمکې په سر به دلویشت په اندازه ځای ونه کوري مګر د دوی بدبوی به پکې وي، عیسی علیه السلام او ملګري به یي الله پاک ته سوال وکړي، الله پاک د اوښانو څټ په څېر مارغان راواستوي او هلته به یي یوسی چې د الله خوښه وي، بیا به الله باران وکړي ځمکه کې به هېڅ د ختې او خیمې کور پاتې نه شي مګر داسې به یې پاک ووینځي لکه شیشه، بیا به ځمکې ته وویل شي چې خپلې مېوې راوباسه، او برکتونه دې بېرته واپس کړه، په دغه ورځ به یوه مستقله ډله یو انار خوړلی شي او له پوستکې لاندې به یې ځانونه سیوری کوي، په شېدو کې به یې هم برکت واچول شي تر دې چې یوه اوښه به ډېرو خلکو له بسیا کوي، یوه غوا به روغه قبیله پاللی شي او یو ګېډه بزه به د پوره خېل لپاره کفایت کوي، دوی به په دې حالت کې وي چې الله پاک به خوشبودار بوي راوالوځوي او د تخرګونو لاندې به یې تېر شي او د هر مومن او مسلم ساه به واخلي، بدترین خلک به پاتې شي د خرو په شان به پکې خلک زناکاني کوي، په دوی به قیامت راځي.

**١٢٧** وَفِيْ رِوَايَةٍ بَعْدَ قَوْلِه: لَقَدْ كَانَ بِهَذِهِ مَرَّةً مَاءٌ - ثُمَّ يَسِيرُونَ حَتَّى يَنْتَهُوا إِلَى جَبَلِ الْخَمَرِ، وَهُوَ جَبَلُ بَيْتِ الْمَقْدِس، فَيَقُولُونَ: لَقَدْ قَتَلْنَا مَنْ فِي الْأَرْضِ هَلُمَّ فَلْنَقْتُلْ مَنْ فِي السَّمَاءِ، فَيَرْمُونَ بِنُشَّابِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ، فَيَرُدُّ اللَهُ عَلَيْهِمْ نُشَّابَهُمْ مَخْضُوبَةً دَمًا] (صحيح مسلم: ٢٩٣٧، جامع الترمذي: ٢٢٤٠).

په بل روایت کې له دې خبرې وروسته (لَقِدْ كَانِ بِهَذَا مِرَّةٍ مِاءٌ) داسې راځي: بیا به دوی روان شي او په بیت المقدس کې به جبل خمر ته ورسیږي، وایي به: د ځمکې ټول میشتوال خو مو مړه کړل راځئ چې څوک په اسمان کې دي هغه هم ووژنو، خپل غشي به اسمان ته وولي، الله به ورته بېرته ویشتل شوي غشي داسې راواپس کړي چې په وینو به ککړ وي.

**١٢٨** عَنْ أَبِيْ سَعِيدِ الْخُدْرِيَّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثًا طَوِيلًا عَنِ الدَّجَّالِ فَقَالَ فِيمَا يُحَدِّثُنَا: يَأْتِي الدَّجَّالُ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْهِ أَنْ يَدْخُلَ نِقَابَ الْمَدِينَةِ، فَيَخْرُجُ إِلَيْهِ رَجُلٌ يَوْمَئِذٍ هُوَ خَيْرُ النَّاسِ -أَوْ مِنْ خَيْرِهِمْ- فَيَقُولُ: أَشْهَدُ أَنَّكَ الدَّجَّالُ الَّذِي حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ حَدِيثَهُ، فَيَقُولُ الدَّجَّالُ: أَرَأَيْتُمْ إِنْ قَتَلْتُ هَذَا ثُمَّ أَحْيَيْتُهُ، أَتَشُكُّونَ فِي الْأَمْرِ؟ فَيَقُولُونَ: لَا، فَيَقْتُلُهُ ثُمَّ يُحْيِيهِ، فَيَقُولُ حِينَ يُحْيَى: وَاللَّهِ مَا كُنْتُ قَطُّ أَشَدَّ بَصِيرَةً فِيكَ مِنِّي الْآنَ، قَالَ: فَيُرِيدُ قَتْلَهُ الثَّانِيَةَ فَلَا يُسَلَّطُ عَلَيْهِ] (صحيح البخاري: ۱۸۸۲، صحيح مسلم: ۲۹۳۸، مسند احمد: ۱۱۳۱۸)

له ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې مونږ ته نبي صلی الله عليه وسلم د دجال باره کې ډېر معلومات راکړل دا يې پکې هم وويل: دجال به راشي خو مدينې تللې لارې به پرې حرامې وي، يو سړی به ورته راشي چې د وخت خلکو کې به غوره همدی وي، وبه وايي: زه په دې ګواهي کوم چې ته هغه دجال يې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم درڅخه مونږ خبر کړي يو، دجال به وايي: څه وايئ که دا سړی مړ کړم او بيرته يې ژوندی کړم ايا بيا به مې هم په ربوبيت کې شک وکړئ؟ خلک به ووايي: نا، سړی به مړ کړي او بيرته به يې ژوندی کړي، چې سړی راژوندی کړی شي ورته به ووايي: قسم په الله چې د مخکې پرتله مې اوس درېکې علم لا زيات شو چې دجال يې، په دوهم ځل به يې بيا قتلوي خو توان به يې نه لري.

## د دجال په لاس مرګ تر هر څه ستر شهادت

**۱۲۹** عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فَيَتَوَجَّهُ قِبَلَهُ رَجُلٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، فَتَلْقَاهُ الْمَسَالِحُ -مَسَالِحُ الدَّجَّالِ- فَيَقُولُونَ لَهُ: أَيْنَ تَعْمِدُ؟ فَيَقُولُ: أَعْمِدُ إِلَى هَذَا الَّذِي خَرَجَ، قَالَ: فَيَقُولُونَ لَهُ: أَوَ مَا تُؤْمِنُ بِرَبِّنَا؟ فَيَقُولُ: مَا بِرَبِّنَا خَفَاءٌ، فَيَقُولُونَ: اقْتُلُوهُ، فَيَقُولُ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: أَلَيْسَ قَدْ نَهَاكُمْ رَبُّكُمْ أَنْ تَقْتُلُوا أَحَدًا دُونَهُ، قَالَ: فَيَنْطَلِقُونَ بِهِ إِلَى الدَّجَّالِ، فَإِذَا رَآهُ الْمُؤْمِنُ، قَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ هَذَا الدَّجَّالُ الَّذِي ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَيَأْمُرُ الدَّجَّالُ بِهِ فَيُشَبَّحُ، فَيَقُولُ: خُذُوهُ وَشُجُّوهُ، فَيُوسَعُ ظَهْرُهُ وَبَطْنُهُ ضَرْبًا، قَالَ: فَيَقُولُ: أَوَ مَا تُؤْمِنُ بِي؟ قَالَ: فَيَقُولُ: أَنْتَ الْمَسِيحُ الْكَذَّابُ، قَالَ: فَيُؤْمَرُ بِهِ فَيُؤْشَرُ بِالْمِئْشَارِ مِنْ مَفْرِقِهِ حَتَّى يُفَرَّقَ بَيْنَ رِجْلَيْهِ، قَالَ: ثُمَّ يَمْشِي الدَّجَّالُ بَيْنَ الْقِطْعَتَيْنِ، ثُمَّ يَقُولُ لَهُ: قُمْ، فَيَسْتَوِي قَائِمًا، قَالَ: ثُمَّ يَقُولُ لَهُ: أَتُؤْمِنُ بِي؟ فَيَقُولُ:

مَا ازْدَدْتُ فِيكَ إِلَّا بَصِيرَةً، قَالَ: ثُمَّ يَقُولُ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَا يَفْعَلُ بَعْدِي بِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ، قَالَ: فَيَأْخُذُهُ الدَّجَّالُ لِيَذْبَحَهُ، فَيُجْعَلَ مَا بَيْنَ رَقَبَتِهِ إِلَى تَرْقُوَتِهِ نُحَاسًا، فَلَا يَسْتَطِيعُ إِلَيْهِ سَبِيلًا، قَالَ: فَيَأْخُذُ بِيَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ فَيَقْذِفُ بِهِ، فَيَحْسَبُ النَّاسُ أَنَّمَا قَذَفَهُ إِلَى النَّارِ، وَإِنَّمَا أُلْقِيَ فِي الْجَنَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَذَا أَعْظَمُ النَّاسِ شَهَادَةً عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ] (صحيح البخاري: ۱۸۸۲، صحيح مسلم: ۲۹۳۸)

له ابوسعید خدري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: دجال به راووځي له مسلمانانو څخه به ورسره یو سړی مخامخ شي نو له سړي سره به د دجال مسلّح خلک مخامخ شي، ورته به ووايي چې چېرته روان یې؟ هغه به ووايي: د دغه سړي خوا ته ورځم چې راوتی دی، فوج به یې ورته ووايي: ولې ته زمونږ په رب ایمان نه لرې؟ سړی به ووايي: زمونږ په رب باندې خفاء نشته، فوج به ووايي: مړ یې کړئ، بیا به ځینې نورو ته ووايي: ولې تاسو مو رب له دې څخه نه یئ منعه کړې چې له اجازې پرته به یې هېڅ څوک نه وژنئ، نو فوج به یې دجال ته بوځي خو چې دغه مومن یې ښکته ووینې وبه وايي: ای خلکو! دا هغه دجال دی چې تاسو ته یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر کړی دی، دجال به امر وکړي او د وهلوډبولو لپاره به څملول شي بیا به ووايي: ویې نیسئ او په سر او مخ یې ووهئ، ملا او خیټه به یې وهلو ته جوړه کړی شي، بیا به ورته ووايي: ولې ته پر ما ایمان نه لرې؟ هغه وايي: مومن به ووايي: ته خو مسیح کذاب یې، بیا به دجال امر وکړي او له سر څخه تر خپو پورې به په منځ اره کړی شي او دجال به یې ترمنځ تېر راتېر شي، بیا به ورته ووايي چې پورته شه هغه به نېغ پاڅیږي، بیا به ورته ووايي چې اوس هم راباندې ایمان نه لرې؟ مومن به ورته ووايي چې ستا په دجالیت خو مې نور هم لایقین ډېر شو، مومن به خلکو ته ووايي: له ما وروسته هېڅ څوک نه شي قتلولی، دجال به یې د بیا ځل لپاره حلالوي خو د مومن ښټ به تر سینې هډوکي (چنغړک) پورې پیتل شي نو هېڅ توان به یې نه لري، له لاس او خپو نه به یې ونیسي او وبه یې غورځوي خلک به ګمان وکړي چې اور ته یې وغورځو خو ولې په جنت کې به یې غورځولی وي، رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا وفرمایل: په ټولو خلکو کې به د رب کائنات په نېز ددغه سړي شهادت ډېر لوی وي.

## دجال لوی ازمېښت دی

۱۳۰ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رضي الله عنه قَالَ: مَا سَأَلَ أَحَدٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدَّجَّالِ أَكْثَرَ مِمَّا سَأَلْتُ، قَالَ: وَمَا يُنْصِبُكَ مِنْهُ؟ إِنَّهُ لَا يَضُرُّكَ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُمْ يَقُولُونَ: إِنَّ مَعَهُ الطَّعَامَ وَالْأَنْهَارَ، قَالَ: هُوَ أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ ذَلِكَ] (صحيح البخاري: ۷۱۲۲، صحيح مسلم: ۲۹۳۹، سنن ابن ماجه: ۴۰۷۳، مسند احمد: ۱۸۱۶۷)

مغيرة بن شعبه رضي الله عنه وايي: ما چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه څومره د دجال باره کې پوښتني کړي دي بل چا به نه وي کړي، هغه راته وويل: تا ته ترې څه سترې ده؟ هغه ته تا ته تکليف نه شي در رسولی، ما وويل: د الله رسوله! خلک وايي چې له هغه سره خوراکونه او نهرونه دي، رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: له دجال څخه يې الله ته پېدا کول ډېر اسان دي (معنا خلک پرې امتحان کې اچوي)

۱۳۱ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [وَجَاءَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: مَا هَذَا الْحَدِيثُ الَّذِي تُحَدِّثُ بِهِ؟ تَقُولُ: إِنَّ السَّاعَةَ تَقُومُ إِلَى كَذَا وَكَذَا، فَقَالَ: سُبْحَانَ اللهِ أَوْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ -أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهُمَا- لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ لَا أُحَدِّثَ أَحَدًا شَيْئًا أَبَدًا، إِنَّمَا قُلْتُ: إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدَ قَلِيلٍ أَمْرًا عَظِيمًا، يُحَرَّقُ الْبَيْتُ، وَيَكُونُ وَيَكُونُ، ثُمَّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فِي أُمَّتِي فَيَمْكُثُ أَرْبَعِينَ - لَا أَدْرِي: أَرْبَعِينَ يَوْمًا، أَوْ أَرْبَعِينَ شَهْرًا، أَوْ أَرْبَعِينَ عَامًا فَيَبْعَثُ اللهُ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ كَأَنَّهُ عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ، فَيَطْلُبُهُ فَيُهْلِكُهُ، ثُمَّ يَمْكُثُ النَّاسُ سَبْعَ سِنِينَ، لَيْسَ بَيْنَ اثْنَيْنِ عَدَاوَةٌ، ثُمَّ يُرْسِلُ اللهُ رِيحًا بَارِدَةً مِنْ قِبَلِ الشَّأْمِ، فَلَا يَبْقَى عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ أَوْ إِيمَانٍ إِلَّا قَبَضَتْهُ، حَتَّى لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ دَخَلَ فِي كَبِدِ جَبَلٍ لَدَخَلَتْهُ عَلَيْهِ، حَتَّى تَقْبِضَهُ قَالَ: سَمِعْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «فَيَبْقَى شِرَارُ النَّاسِ فِي خِفَّةِ الطَّيْرِ وَأَحْلَامِ السِّبَاعِ، لَا يَعْرِفُونَ مَعْرُوفًا وَلَا يُنْكِرُونَ مُنْكَرًا، فَيَتَمَثَّلُ لَهُمُ الشَّيْطَانُ، فَيَقُولُ: أَلَا تَسْتَجِيبُونَ؟ فَيَقُولُونَ: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ فَيَأْمُرُهُمْ بِعِبَادَةِ الْأَوْثَانِ، وَهُمْ فِي ذَلِكَ دَارٌّ

رِزْقُهُمْ، حَسَنٌ عَيْشُهُمْ، ثُمَّ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ، فَلَا يَسْمَعُهُ أَحَدٌ إِلَّا أَصْغَى لِيتًا وَرَفَعَ لِيتًا، قَالَ: وَأَوَّلُ مَنْ يَسْمَعُهُ رَجُلٌ يَلُوطُ حَوْضَ إِبِلِهِ، قَالَ: فَيَصْعَقُ، وَيَصْعَقُ النَّاسُ، ثُمَّ يُرْسِلُ اللهُ -أَوْ قَالَ يُنْزِلُ اللهُ- مَطَرًا كَأَنَّهُ الطَّلُّ أَوِ الظِّلُّ -نُعْمَانُ الشَّاكُّ- فَتَنْبُتُ مِنْهُ أَجْسَادُ النَّاسِ، ثُمَّ يُنْفَخُ فِيهِ أُخْرَى، فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ، ثُمَّ يُقَالُ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ هَلُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ، وَقِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ، قَالَ: ثُمَّ يُقَالُ: أَخْرِجُوا بَعْثَ النَّارِ، فَيُقَالُ: مِنْ كَمْ؟ فَيُقَالُ: مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَمِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ، قَالَ فَذَاكَ يَوْمَ يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا، وَذَلِكَ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ ] (صحيح مسلم: ۲۹۴۰).

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه وايي يو سړی ورته راغی او وېويل: ته مونږ ته دا څه ډول حديث بيانوې چې قيامت به په فلاني او فلاني وخت کې راځي؟ هغه وويل: سبحان الله يا لااله الا الله يا دې ورته بله کلمه يې وويله، ما خو د دې قصد کړی و چې هېڅ چا ته به زه څه نه وايم، ما خو دومره ويلي ول چې لږ وروسته به داسې لوی څه وويني چې کورونه به وسوځي او داسې داسې... بيا يې وويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: زما په امت کې به دجال راووځي او څلوېښت به تېرې کړي زه پوهه نه شوم چې څلوېښت ورځې، که مياشتې اوکه کلونه، بيا به الله پاک عيسی عليه السلام لکه هغه چې عروه بن مسعود وي راواستوي او ورپسې به وي ترڅو يې هلاک کړي، بيا به خلک تر اووه کالو پورې داسې وي چې د دوو ترمنځ به يې هم دښمني نه وي، د شام له پلوه به بيا الله پاک باد راوالوځوي او د ځمکې پر مخ به د ذرې په اندازه ايمان لرونکي پاتې نه شي مګر ساه به يې واخلي، تر دې که څوک ترې د غر دننه هم ننوځي نو وربه شي ترڅو يې قبض کړي، بيا يې وويل: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي ويل يې: بيا به ضرري خلک پاتې شي چې په تکليف رسولو کې به د مارغانو په څېر (ځغلند) او د درينده ګانو په څېر (بې رحمه) وي، ښه به ورته ښه او بد به ورته بد نه ښکاري، شيطان به ورته د انسان په شکل کې راشي ورته به وايي: ايا الله ته ځانونه نه نږدې کوئ؟ خلک به وايي: په څه راته امر کوې؟ هغه به ورته د بوتانو په عبادت امر وکړي، په دې حالت کې به يې هم رزق پراخه وي او ژوند به يې سوکاله وي، په شپيلۍ کې به پوک ووهل شي هېڅ څوک به دغه اواز وانه اوري مګر څټ به ورته ښکته پورته کړي، اول به يې هغه سړی واوري چې

د خپلو اوښانو لپاره به حوض اخېړ کوي، خپله هم او نور خلک به هم بې هوشه شي، بيا به الله پاک د پرخې يا سيوري شک نعمان راوي کړې دى باران راښکته کړي او د خلکو جسدونه به ورڅخه رازرغون شي نو ناڅهانه به دوی ولاړ وي ګوري به، بيا به وويل شي: ای خلکو رب ته مو راشئ، ويې دروئ له دوی څخه به پوښتني کيږي، بيا به وويل شي: دوزخيان ترې راوباسئ، وبه ويل شي: څومره کسان؟ له څومره نه؟ وبه ويل شي: په هرو زرو کې نهه سوه نهه نوي راوباسئ، نبي صلى الله عليه وسلم وويل: دغه هغه ورځ ده چې ماشومان به سپينږيري کړي او هغه ورځ ده چې له پونډۍ څخه به پټې پرده پورته شي.

## د جساسه متعلق بيان

**١٣٢** وَفِيْ حَدِيْث فَاطِمَة بِنْت قَيس رَضيَ اللهُ عَنْهَا [فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ جَلَسَ عَلَى الْمنْبَر، وَهُوَ يَضْحَكُ، فَقَالَ: ليَلْزَمْ كُلُّ إنْسَانٍ مُصَلَّاهُ، ثُمَّ قَالَ: أَتَدْرُونَ لمَ جَمَعْتُكُمْ؟ قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: إنِّي وَالله مَا جَمَعْتُكُمْ لرَغْبَة وَلَا لرَهْبَة، وَلَكنْ جَمَعْتُكُمْ، لأَنَّ تَميمًا الدَّاريَّ كَانَ رَجُلًا نَصْرَانيًّا، فَجَاءَ فَبَايَعَ وَأَسْلَمَ، وَحَدَّثَني حَديثًا وَافَقَ الَّذي كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ عَنْ مَسيح الدَّجَّال، حَدَّثَني أَنَّهُ رَكبَ في سَفينَة بَحْريَّة، مَعَ ثَلَاثينَ رَجُلًا منْ لَخْم وَجُذَامَ، فَلَعبَ بهم الْمَوْجُ شَهْرًا في الْبَحْر، ثُمَّ أَرْفَئُوا إلَى جَزيرَة في الْبَحْر حَتَّى مَغْرب الشَّمْس، فَجَلَسُوا في أَقْرُب السَّفينَة فَدَخَلُوا الْجَزيرَةَ فَلَقيَتْهُمْ دَابَّةٌ أَهْلَبُ كَثيرُ الشَّعَر، لَا يَدْرُونَ مَا قُبُلُهُ منْ دُبُره، منْ كَثْرَة الشَّعَر، فَقَالُوا: وَيْلَك مَا أَنْت؟ فَقَالَتْ: أَنَا الْجَسَّاسَةُ، قَالُوا: وَمَا الْجَسَّاسَةُ؟ قَالَتْ أَيُّهَا الْقَوْمُ انْطَلقُوا إلَى هَذَا الرَّجُل في الدَّيْر، فَإنَّهُ إلَى خَبَركُمْ بالْأَشْوَاق، قَالَ: لَمَّا سَمَّتْ لَنَا رَجُلًا فَرقْنَا منْهَا أَنْ تَكُونَ شَيْطَانَةً، قَالَ: فَانْطَلَقْنَا سرَاعًا، حَتَّى دَخَلْنَا الدَّيْرَ، فَإذَا فيه أَعْظَمُ إنْسَانٍ رَأَيْنَاهُ قَطُّ خَلْقًا، وَأَشَدُّهُ وثَاقًا، مَجْمُوعَةٌ يَدَاهُ إلَى عُنُقه، مَا بَيْنَ رُكْبَتَيْه إلَى كَعْبَيْه بالْحَديد، قُلْنَا: وَيْلَكَ مَا أَنْتَ؟ قَالَ: قَدْ قَدَرْتُمْ عَلَى خَبَري، فَأَخْبرُوني مَا أَنْتُمْ؟ قَالُوا: نَحْنُ أُنَاسٌ منَ الْعَرَب رَكبْنَا في سَفينَةٍ بَحْريَّةٍ، فَصَادَفْنَا الْبَحْرَ حينَ اغْتَلَمَ فَلَعبَ بنَا

الْمَوْجُ شَهْرًا، ثُمَّ أَرْفَأْنَا إِلَى جَزِيرَتِكَ هَذِهِ، فَجَلَسْنَا فِي أَقْرُبِهَا، فَدَخَلْنَا الْجَزِيرَةَ، فَلَقِيَتْنَا دَابَّةٌ أَهْلَبُ كَثِيرُ الشَّعَرِ، لَا يُدْرَى مَا قُبُلُهُ مِنْ دُبُرِهِ مِنْ كَثْرَةِ الشَّعَرِ، فَقُلْنَا: وَيْلَكِ مَا أَنْتِ؟ فَقَالَتْ: أَنَا الْجَسَّاسَةُ، قُلْنَا: وَمَا الْجَسَّاسَةُ؟ قَالَتْ: اعْمِدُوا إِلَى هَذَا الرَّجُلِ فِي الدَّيْرِ، فَإِنَّهُ إِلَى خَبَرِكُمْ بِالْأَشْوَاقِ، فَأَقْبَلْنَا إِلَيْكَ سِرَاعًا، وَفَزِعْنَا مِنْهَا، وَلَمْ نَأْمَنْ أَنْ تَكُونَ شَيْطَانَةً، فَقَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ نَخْلِ بَيْسَانَ، قُلْنَا: عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ؟ قَالَ: أَسْأَلُكُمْ عَنْ نَخْلِهَا، هَلْ يُثْمِرُ؟ قُلْنَا لَهُ: نَعَمْ، قَالَ: أَمَا إِنَّهُ يُوشِكُ أَنْ لَا تُثْمِرَ، قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ بُحَيْرَةِ الطَّبَرِيَّةِ، قُلْنَا: عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ؟ قَالَ: هَلْ فِيهَا مَاءٌ؟ قَالُوا: هِيَ كَثِيرَةُ الْمَاءِ، قَالَ: أَمَا إِنَّ مَاءَهَا يُوشِكُ أَنْ يَذْهَبَ، قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ عَيْنِ زُغَرَ، قَالُوا: عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ؟ قَالَ: هَلْ فِي الْعَيْنِ مَاءٌ؟ وَهَلْ يَزْرَعُ أَهْلُهَا بِمَاءِ الْعَيْنِ؟ قُلْنَا لَهُ: نَعَمْ، هِيَ كَثِيرَةُ الْمَاءِ، وَأَهْلُهَا يَزْرَعُونَ مِنْ مَائِهَا، قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ نَبِيِّ الْأُمِّيِّينَ مَا فَعَلَ؟ قَالُوا: قَدْ خَرَجَ مِنْ مَكَّةَ وَنَزَلَ يَثْرِبَ، قَالَ: أَقَاتَلَهُ الْعَرَبُ؟ قُلْنَا: نَعَمْ، قَالَ: كَيْفَ صَنَعَ بِهِمْ؟ فَأَخْبَرْنَاهُ أَنَّهُ قَدْ ظَهَرَ عَلَى مَنْ يَلِيهِ مِنَ الْعَرَبِ وَأَطَاعُوهُ، قَالَ لَهُمْ: قَدْ كَانَ ذَلِكَ؟ قُلْنَا: نَعَمْ، قَالَ: أَمَا إِنَّ ذَاكَ خَيْرٌ لَهُمْ أَنْ يُطِيعُوهُ، وَإِنِّي مُخْبِرُكُمْ عَنِّي، إِنِّي أَنَا الْمَسِيحُ، وَإِنِّي أُوشِكُ أَنْ يُؤْذَنَ لِي فِي الْخُرُوجِ، فَأَخْرُجَ فَأَسِيرَ فِي الْأَرْضِ فَلَا أَدَعَ قَرْيَةً إِلَّا هَبَطْتُهَا فِي أَرْبَعِينَ لَيْلَةً غَيْرَ مَكَّةَ وَطَيْبَةَ، فَهُمَا مُحَرَّمَتَانِ عَلَيَّ كِلْتَاهُمَا، كُلَّمَا أَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَ وَاحِدَةً -أَوْ وَاحِدًا- مِنْهُمَا اسْتَقْبَلَنِي مَلَكٌ بِيَدِهِ السَّيْفُ صَلْتًا، يَصُدُّنِي عَنْهَا، وَإِنَّ عَلَى كُلِّ نَقْبٍ مِنْهَا مَلَائِكَةً يَحْرُسُونَهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَطَعَنَ بِمِخْصَرَتِهِ فِي الْمِنْبَرِ: هَذِهِ طَيْبَةُ، هَذِهِ طَيْبَةُ، هَذِهِ طَيْبَةُ -يَعْنِي الْمَدِينَةَ- أَلَا هَلْ كُنْتُ حَدَّثْتُكُمْ ذَلِكَ؟ فَقَالَ النَّاسُ: نَعَمْ، فَإِنَّهُ أَعْجَبَنِي حَدِيثُ تَمِيمٍ، أَنَّهُ وَافَقَ الَّذِي كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ عَنْهُ، وَعَنِ الْمَدِينَةِ وَمَكَّةَ، أَلَا إِنَّهُ فِي بَحْرِ الشَّأْمِ، أَوْ بَحْرِ الْيَمَنِ، لَا بَلْ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ مَا هُوَ، مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ مَا هُوَ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ، مَا هُوَ وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ إِلَى الْمَشْرِقِ، قَالَتْ: فَحَفِظْتُ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ]

(صحيح مسلم: ٢٩٤٢، جامع الترمذي: ٢٢٥٣، سنن ابي داود: ٤٣٢٥).

د فاطمة بنت قيس رضي الله عنها په حديث كې دي: كله چې نبي صلى الله عليه وسلم لمونځ پوره كړ په ممبر كښيناست او خندل يې، ويويل: هر سړى دې په خپل

لمونځای کې کېني، بیا یې وویل: خبره یاست چې ولې مې راغونډ کړئ؟ هغوی وویل: الله او رسول یې ښه پوهېږي، نبي صلی الله علیه وسلم وویل: قسم په الله چې د کوم کار ترغیب یا ترهیب ته مې نه وئ راغونډ کړي، ځکه مې راغونډ کړئ چې تمیم داري رضي الله عنه نصراني سړی و، راغی او اسلام یې راوړ، ما ته یې د مسیح دجال متعلق داسې څه وویل چې ما درته څه ویلي وو له هغه سره بیخي موافق دي، راته یې وویل چې په کشتۍ کې له لخم او جذام قبیلې دېرش غړیو سره وم، تر یوې میاشتې پورې بحري څپو اخستي ول، بیا یې د لمر پرېواته وخت کې کشتۍ بحر ته نږدې جزیرې ته نږدې کړه، جزیرې ته په نږدې کشتۍ کې دوی کېناستل دوی ترې جزیرې ته ننوتلي وو، هلته یې له په وېښتانو ببر حیوان سره لیدل شوي وو چې له ببروالي یې لاندې باندې پته نه لګېده، دوی ورته ویلي دي چې خوار شې ته لا څه شی یې؟ حیوان ورته ویلي دي: زه جساسه یم، دوی ورته ویلي دي چې جساسه څه شی وي؟ هغه ورته ویلي دي: ای خلکو له دغه سړي سره چې په کوټه کې دی ستاسو خبرو ته ډېره مینه لري، دا وایي: کله چې یې د سړي نوم یاد کړ مونږ وډار شول چې هسې نه شیطانه نه وي! په توندۍ سره ورغلو ترڅو خونې ته ننوتو نو دغسې غټ انسان مونږ نه و لیدلی، او نه دغسې کلک تړل شوی مو لیدلی و، لاسونه یې ترڅټ د زنګونانو او پوندو ترمنځ په اوسپنه تړل شوي ول، مونږ وویل: هلاک شې ته لا څوک یې؟ هغه وویل: ایا زما پر حالت تاسو وتوانېدئ! دا راته ووایئ چې تاسو څوک یئ؟ دوی ورته ویلي و چې مونږ ځیني عربان یو په بحري کشتۍ کې سپاره شوي و، تر یوې میاشتې راباندې بحري څپو له حده ډېرې لوبې وکړې بیا یې ستا دې جزیرې ته رانږدې کړو، په نږدې تښته کې یې کېناستو نو جزیرې ته راننوتو، یو حیوان راسره مخامخ شو چې د ببروالي له کبله یې لاندې باندې نه معلومېدل، مونږ ورته وویل ته څه شی یې؟ هغه وویل: زه جساسه یم، مونږ وویل: جساسه څه شی وي؟ هغه وویل: دغلته په خونه کې ناست سړي ته ورشئ هغه مو خبرو ته ډېر لیوال دی، له هغه نه وډار شول نو تا ته توند راغلو مونږ ویل هسې نه هغه کومه شیطانه وي، هغه ورته وویل: د بیسان (شام کې د ځای نوم دی) کجورو خبر راکړئ، مونږ وویل: ته څه ډول معلومات غواړې؟ هغه وویل: پوښتنه لرم چې ایا کجورې یې مېوه نیسي؟ مونز وویل: هو، هغه وویل: نږدې ده چې نوره مېوه ونه نیسي، بیایې وویل: د طبریه د سمندرګي معلومات راکړئ، مونږ وویل: څه ډول معلومات؟ هغه وویل: ایا

اوبه پکې شته؟ مونږ وویل: هو اوبه یې ډېرې دي، هغه وویل: نزدې ده چې اوبه یې ختمې شي، بیا یې وویل: د عین زغر (د شام ختیځه سیمه ده) اړوند معلومات راکړئ، مونږ وویل: څه ډول معلومات یې غواړې؟ هغه وویل: ایا د زغر په چینه کې اوبه شته؟ ایا د سیمې خلک یې په اوبو کروندې کوي؟ مونږ وویل: هو، دغه چینه ډېرې اوبه لري او خلک یې په اوبو خپل فصلونو خړوبوي، بیا یې وویل: د امیینو پیغمبر معلومات راکړئ چې څه یې وکړل؟ مونږ وویل: له مکې څخه راوتلی دی او یثرب کې مېشت دی، هغه وویل: ایا عربانو ورسره جنګونه کړي دي؟ مونږ وویل: هو، هغه وویل: له عربانو سره یې څه وکړل؟ مونږ خبر کړ چې کوم عربان ورته نزدې پراته دي پرې غالبه دی او خلکو یې پیغمبرۍ ته غاړه ایښې ده، هغه وویل: خا!! دا هر څه شوي دي؟ مونږ وویل: هو، هغه وویل: که خلک یې خبره ومني ډېره به ورله ښه وي، زه به درته د ځان حال هم ووایم، زه مسیح دجال یم، نزدې ده چې په وتلو راته اجازه وشي، زه به له دې ځای ووځم او په ځمکه کې به رانه هېڅ کلی پاتی نه شي مګر په څلوېښتو شپو کې به ورته ننوځم خو د مکې او مدینې نه بغیر ځکه دا دواړه ما باندې حرامې دي، که هر یو ښار ته یې ننوځم نو له داسې ملایکو سره به مخامخ کېږم چې تیاره به یې توره راویستلې وي او ما به ورڅخه منعه کوي، او پر هره لاره به یې ملایک وي او ساتې به یې، نبي کریم صلی الله علیه وسلم په لاس کې ورسره لښته باندې ممبر ووهه او وېویل: دا طیبه ده، دا طیبه ده، دا طیبه، ایا ما تاسو ته دا خبرې مخکې نه وې کړې؟ خلکو وویل: ولې ونه، د تمیم خبره مې په دې خوښه شوه چې زما له هغو خبرو سره بیخي موافقه ده چې مې درته ویلې ول او هم د مکې او مدینې باره کې، خبردار، هغه د شام په بحر کې دی یا د یمن په بحر کې دی، بلکې په مشرقي اړخ کې دی، په مشرقي اړخ کې دی، په مشرقي اړخ کې دی، او په لاس سره یې هم مشرق ته اشاره وکړه، دا ټول ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه زده کړي دي.

## د مکې او مدینې ستر قداست

۱۳۳ عَنْ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ: [لَيْسَ مِنْ بَلَدٍ إِلَّا سَيَطَؤُهُ الدَّجَّالُ، إِلَّا مَكَّةَ وَالْمَدِينَةَ، وَلَيْسَ نَقْبٌ مِنْ أَنْقَابِهَا إِلَّا عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ صَافِّينَ تَحْرُسُهَا، فَيَنْزِلُ بِالسِّبْخَةِ، فَتَرْجُفُ الْمَدِينَةُ ثَلَاثَ رَجَفَاتٍ، يَخْرُجُ إِلَيْهِ مِنْهَا كُلُّ كَافِرٍ وَمُنَافِقٍ] (صحيح البخاري: ١٨٨١، صحيح مسلم: ٢٩٤٣، جامع الترمذي: ٢٢٤٢، مسند احمد: ١٢٩٨٦،

له انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: هيڅ کلی ښار به پاتې نه شي مګر دجال به ورته ننوځي بغير له مکې او مديني نه، د دوازو په هره لاره به ملايک ورته ولاړ وي او ساتي به يې، دجال به په کاړجنه ميره کې ښکته شي په مدينه به درې زلزلې راشي چې دجال ته به پرې الله پاک له مديني څخه هر کافر او منافق ورو باسي.

**١٣٤** عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَتْبَعُ الدَّجَّالَ مِنْ يَهُودِ أَصْبَهَانَ، سَبْعُونَ أَلْفًا عَلَيْهِمُ الطَّيَالِسَةُ] (صحيح مسلم: ٢٩٤)

له انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: دجال پسې به د اصفهان اويا زره يهودان روان وي، په داسې حال کې چې جيلکې به يې اچولي وي.

## يهودان د دجال لښکر دی

**١٣٥** عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [يَتْبَعُ الدَّجَّالَ مِنْ يَهُودِ أَصْبَهَانَ، سَبْعُونَ أَلْفًا عَلَيْهِمُ الطَّيَالِسَةُ] (صحيح مسلم: ٢٩٤٥، جامع الترمذي: ٣٩٣٠، مسند احمد: ٢٧٦٢٠)

له انس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: دجال پسې به د اصبهان اويا زره يهودان روان وي په داسې حالت کې چې جيلکې به يې اغوستي وي.

## دجال تر هر څه لویه فتنه ده

۱۳٦ عَنْ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: [مَا بَيْنَ خَلْقِ آدَمَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ خَلْقٌ أَكْبَرُ مِنَ الدَّجَّالِ] (صحيح مسلم: ۲۹۴٦)

له عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي ویل يې: د ادم له پیدائښت څخه تر قیامت پورې له دجال نه د شر په لحاظ بل غټ مخلوق نشته.

۱۳۷ عَنْ أَنَس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [مَا بُعِثَ نَبِيٌّ إِلَّا أَنْذَرَ أُمَّتَهُ الأَعْوَرَ الكَذَّابَ، أَلاَ إِنَّهُ أَعْوَرُ، وَإِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ، وَإِنَّ بَيْنَ عَيْنَيْهِ مَكْتُوبٌ كَافِرٌ] (صحيح البخاري: ۷۱۳۱، صحيح مسلم: ۲۹۳۳، جامع الترمذي: ۲۲۴۵، سنن ابي داود: ۴۳۱٦، مسند احمد: ۱۴۰۹۴)

له انس رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: هيڅ پيغمبر نه دی راستول شوی مګر خپل امت يې له شيرا دجال نه ډارولی دی، خبردار دجال شيرا دی او ستاسو رب په سترګو معيوب نه دی، د دجال سترګو ترمنځ کافر هم ليکل شوی دی.

۱۳۸ عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [الدَّجَّالُ أَعْوَرُ الْعَيْنِ الْيُسْرَى، جُفَالُ الشَّعَرِ، مَعَهُ جَنَّةٌ وَنَارٌ] (صحيح البخاري: ۷۱۳۱، صحيح مسلم: ۲۹۳۴، سنن ابن ماجه: ۴۰۷۱، مسنداحمد: ۲۳۲۵۰)

له حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: دجال په کينه سترګه شيرا او ګڼ وېښته لري، هغه هم جنت او هم اور لري.

## د دجال د جنت او اور حقيقت

۱۳۹ عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

[لَأَنَا أَعْلَمُ بِمَا مَعَ الدَّجَّالِ مِنْهُ، مَعَهُ نَهْرَانِ يَجْرِيَانِ، أَحَدُهُمَا رَأْيَ الْعَيْنِ، مَاءٌ أَبْيَضُ، وَالْآخَرُ رَأْيَ الْعَيْنِ، نَارٌ تَأَجَّجُ، فَإِمَّا أَدْرَكَنَّ أَحَدٌ، فَلْيَأْتِ النَّهْرَ الَّذِي يَرَاهُ نَارًا وَلْيُغَمِّضْ، ثُمَّ لْيُطَأْطِئْ رَأْسَهُ فَيَشْرَبَ مِنْهُ، فَإِنَّهُ مَاءٌ بَارِدٌ، وَإِنَّ الدَّجَّالَ مَمْسُوحُ الْعَيْنِ، عَلَيْهَا ظَفَرَةٌ غَلِيظَةٌ، مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ، يَقْرَؤُهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ، كَاتِبٍ وَغَيْرِ كَاتِبٍ] (صحيح مسلم: ۲۹۳۴، مسند احمد: ۲۳۲۷۹)

له حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: زه له دجال نه هم ډېر ښه پوهېږم چې هغه سره به څه څه وي؟ له هغه سره دوه روان نهرونه دي، يو په سترګو باندې سپيني اوبه ښکاري او بل په سترګو کې د لمبو والا اور ښکاري، که چا درېڅکې دواړه راګېر کړل نو هغه نهر ته دې راشي چې اور ورته ښکاري، سترګې دې پټې کړي او سر دې ورښکته کړي او ترې دې وڅښي څکه دغه يخې اوبه دي، دجال په سترګه شيړا هم دی په سترګه يې پرده هم پرته ده او کافر پرې ليکل شوی دی چې هر څوک پوهه او ناپوهه يې لوستلی شي.

۱۴۰ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [أَلَا أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا عَنِ الدَّجَّالِ، مَا حَدَّثَ بِهِ نَبِيٌّ قَوْمَهُ: إِنَّهُ أَعْوَرُ، وَإِنَّهُ يَجِيءُ مَعَهُ بِمِثَالِ الجَنَّةِ وَالنَّارِ، فَالَّتِي يَقُولُ إِنَّهَا الجَنَّةُ هِيَ النَّارُ، وَإِنِّي أُنْذِرُكُمْ كَمَا أَنْذَرَ بِهِ نُوحٌ قَوْمَهُ] (صحيح البخاري: ۳۳۳۸، صحيح مسلم: ۲۹۳۶)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: ايا تاسو ته ددجال اړوند داسې معلومات نه درکوم چې هېڅ پيغمبر خپل قوم ته نه دي ورکړي؟ دجال شيړا دی او د جنت او اور په څېر شيان لري، هغه چې څه ته جنت وايي نو اور دی، زه مو ورخخه داسې ډاروم لکه نوح عليه السلام چې خپل قوم ډارولی و.

## دجال په ښي سترګه شيړا دی

۱۴۱ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: ذُكِرَ الدَّجَّالُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: [إِنَّ اللَّهَ لَا يَخْفَى عَلَيْكُمْ، إِنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ -وَأَشَارَ

بِيَدِهِ إِلَى عَيْنِهِ- وَإِنَّ المَسِيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ العَيْنِ اليُمْنَى، كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ].
(صحيح البخاري: ۷۴۰۷، صحيح مسلم: ۱۶۹، مسند احمد: ۶۱۴۴)

عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي چې د نبي صلی الله علیه وسلم په مجلس کې د دجال ذکر وشو، نو هغه وويل: الله پر تاسو باندې پټ پناه نه دی او الله پاک معيوب هم نه دی، او په خپل لاس يې سترګې ته اشاره وکړه، او مسيح الدجال په ښې سترګې شيړا دی، سترګه يې لکه د انګور په څېر بقه راوتلې ده.

# ابن صیاد ورکوټی دجال و

۱۴۲ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: صَحِبْتُ ابْنَ صَيَّادٍ إِلَى مَكَّةَ، فَقَالَ لِي: أَمَا قَدْ لَقِيتُ مِنَ النَّاسِ، يَزْعُمُونَ أَنِّي الدَّجَّالُ، أَلَسْتَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: إِنَّهُ لَا يُولَدُ لَهُ قَالَ: قُلْتُ: بَلَى، قَالَ: فَقَدْ وُلِدَ لِي، أَوَلَيْسَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: لَا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ وَلَا مَكَّةَ» قُلْتُ: بَلَى، قَالَ: فَقَدْ وُلِدْتُ بِالْمَدِينَةِ، وَهَذَا أَنَا أُرِيدُ مَكَّةَ، قَالَ: ثُمَّ قَالَ لِي فِي آخِرِ قَوْلِهِ: أَمَا، وَاللهِ إِنِّي لَأَعْلَمُ مَوْلِدَهُ وَمَكَانَهُ وَأَيْنَ هُوَ، قَالَ: فَلَبَسَنِي]
(صحيح مسلم: ۲۹۲۷، جامع الترمذي: ۲۲۴۶، مسند احمد: ۱۱۹۲۳).

له ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې مکې ته سفر کې مې له ابن صياد سره ملګرتوب شو، ما ته يې وويل: له خلکو څخه د دې تکليف سره مخ يم چې پر ما د دجال ګمان کوي، ايا تا له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نه دي اورېدلي چې هغه به شنډ وي؟ ما وويل: ولې نه، هغه وويل: او زما بچي شته.هغه وويل: ايا تا له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نه دي اوريدلي چې هغه به مکه او مدينې ته نه شي ننوتلی؟ ما وويل: ولې نه، هغه وويل: زه په مدينه کې پيدا او مکې ته روان يم، بيا يې راته بله خبره هم وکړه چې قسم په الله ما ته ددجال د پيدائښت ځای او چې اوسمهال چرته دی هم راته معلوم دی نو زه يې په شک کې واچولم.

## د دجال د راتلو سبب

۱۴۳ وَعَنْ حَفْصَةَ رَضيَ الله عَنْهَا قَالَتْ لابْنِ عُمَرَ: مَا تُرِيدُ إِلَيْهِ؟ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّهُ قَدْ قَالَ: إِنَّ أَوَّلَ مَا يَبْعَثُهُ عَلَى النَّاسِ غَضَبٌ يَغْضَبُهُ] (صحيح مسلم: ۲۹۳۲)

له حفصې رضي الله عنها نه روايت دی چې هغه ابن عمر رضي الله عنه ته وويل: ته له دې نه څه غواړې؟ ايا تا ته علم نشته چې نبي صلی الله عليه وسلم وايي: دجال چې خلکو ته راځي نو غصه به يې لومړی لامل وي

## د دجال له فتنې نه د تحفظ چاري

۱۴۴ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ] (صحيح مسلم: ۸۰۹، جامع الترمذي: ۲۸۸۶، سنن ابي داود: ۴۳۲۳، مسند احمد: ۲۱۷۱۲)

له ابودرداء رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: چا چې د سورت کهف اولني ايتونه زده کړل د دجال له فتنې څخه به بچ پاتې شي.

## په ژوندینه څوک الله نه شي ليدلی

۱۴۵ عَنْ عُمَرَ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ بَعْضُ الصَّحَابَةِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ يَوْمَ حَذَّرَ النَّاسَ الدَّجَّالَ: تَعَلَّمُوا أَنَّهُ لَنْ يَرَى أَحَدٌ مِنْكُمْ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ حَتَّى يَمُوتَ] (صحيح مسلم: ۱۶۹)

عمر بن ثابت ته ځينو صحابه کرامو ويلي و چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغه ورځ چې له دجال څخه يې خلک وډارول وويل: په دې هم پوهه شئ چې تر هغه تاسو کې څوک رب نه شي ليدلی تر څو ومري.

## يهودان او ازلي شقاوت

۱۴۶ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ [لَتُقَاتِلُنَّ الْيَهُودَ، فَلَتَقْتُلُنَّهُمْ حَتَّى يَقُولَ الْحَجَرُ: يَا مُسْلِمُ هَذَا يَهُودِيٌّ، فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ].

(صحيح البخاري: ۲۹۲۶ صحيح مسلم: ۲۹۲۱، جامع الترمذي: ۲۲۳۶، مسند احمد: ۶۱۴۷)

له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: تاسو به هرومرو له يهودانو سره جنګ کوئ او دومره به يې وژنئ چې ګټه به هم وايي اى مسلمانه راشه دلته يهودي دى مړ يې کړه.

## دجال به د الوهيت او نبوت دعويدار وي

۱۴۷ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَانَ أَكْثَرُ خُطْبَتِهِ حَدِيثًا، حَدَّثَنَاهُ عَنِ الدَّجَّالِ، وَحَذَّرَنَاهُ، فَكَانَ مِنْ قَوْلِهِ أَنْ قَالَ: إِنَّهُ لَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ، مُنْذُ ذَرَأَ اللَّهُ ذُرِّيَّةَ آدَمَ، أَعْظَمَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ، وَإِنَّ اللَّهَ لَمْ يَبْعَثْ نَبِيًّا إِلَّا حَذَّرَ أُمَّتَهُ الدَّجَّالَ، وَأَنَا آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ، وَأَنْتُمْ آخِرُ الْأُمَمِ، وَهُوَ خَارِجٌ فِيكُمْ لَا مَحَالَةَ، وَإِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا بَيْنَ ظَهْرَانَيْكُمْ، فَأَنَا حَجِيجٌ لِكُلِّ مُسْلِمٍ، وَإِنْ يَخْرُجْ مِنْ بَعْدِي، فَكُلُّ امْرِئٍ حَجِيجُ نَفْسِهِ، وَاللَّهُ خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ، وَإِنَّهُ يَخْرُجُ مِنْ خَلَّةٍ بَيْنَ الشَّامِ، وَالْعِرَاقِ، فَيَعِيثُ يَمِينًا وَيَعِيثُ شِمَالًا، يَا عِبَادَ اللَّهِ فَاثْبُتُوا، فَإِنِّي سَأَصِفُهُ لَكُمْ صِفَةً لَمْ يَصِفْهَا إِيَّاهُ نَبِيٌّ قَبْلِي، إِنَّهُ يَبْدَأُ، فَيَقُولُ: أَنَا نَبِيٌّ وَلَا نَبِيَّ بَعْدِي، ثُمَّ يُثَنِّي فَيَقُولُ: أَنَا رَبُّكُمْ وَلَا تَرَوْنَ رَبَّكُمْ حَتَّى تَمُوتُوا، وَإِنَّهُ أَعْوَرُ، وَإِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ، وَإِنَّهُ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ، يَقْرَؤُهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ، كَاتِبٍ أَوْ غَيْرِ كَاتِبٍ، وَإِنَّ مِنْ فِتْنَتِهِ أَنَّ مَعَهُ جَنَّةً وَنَارًا، فَنَارُهُ جَنَّةٌ، وَجَنَّتُهُ نَارٌ، فَمَنِ ابْتُلِيَ بِنَارِهِ، فَلْيَسْتَغِثْ بِاللَّهِ، وَلْيَقْرَأْ فَوَاتِحَ الْكَهْفِ فَتَكُونَ عَلَيْهِ بَرْدًا وَسَلَامًا، كَمَا كَانَتِ النَّارُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَإِنَّ مِنْ فِتْنَتِهِ أَنْ يَقُولَ لِأَعْرَابِيٍّ: أَرَأَيْتَ إِنْ بَعَثْتُ لَكَ أَبَاكَ وَأُمَّكَ، أَتَشْهَدُ أَنِّي رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ، فَيَتَمَثَّلُ لَهُ شَيْطَانَانِ فِي صُورَةِ أَبِيهِ، وَأُمِّهِ، فَيَقُولَانِ: يَا بُنَيَّ، اتَّبِعْهُ، فَإِنَّهُ رَبُّكَ، وَإِنَّ مِنْ فِتْنَتِهِ أَنْ يُسَلَّطَ عَلَى

نَفس وَاحدَة، فَيَقتُلهَا، وَيَنْشُرهَا بالْمنْشَار، حَتَّى يُلْقَى شقَّتَيْن، ثُمَّ يَقُولَ: انْظُرُوا إِلَى عَبْدِي هَذَا، فَإِنِّي أَبْعَثُهُ الآنَ، ثُمَّ يَزْعُمُ أَنَّ لَهُ رَبًّا غَيْرِي، فَيَبْعَثُهُ اللَّهُ، وَيَقُولُ لَهُ الْخَبِيثُ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ رَبِّيَ اللَّهُ، وَأَنْتَ عَدُوُّ اللَّه، أَنْتَ الدَّجَّالُ، وَاللَّه مَا كُنْتُ بَعْدُ أَشَدَّ بَصِيرَةً بِكَ مِنِّي الْيَوْمَ قَالَ أَبُو الْحَسَن الطَّنَافسيُّ: فَحَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّه بْنُ الْوَلِيد الْوَصَّافِيُّ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيد، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: «ذَلكَ الرَّجُلُ أَرْفَعُ أُمَّتِي دَرَجَةً فِي الْجَنَّة». قَالَ: قَالَ أَبُو سَعِيد: « وَاللَّه مَا كُنَّا نُرَى ذَلكَ الرَّجُلَ إِلَّا عُمَرَ بْنَ الْخَطَّاب حَتَّى مَضَى لسَبيله. قَالَ الْمُحَارِبِيُّ، ثُمَّ رَجَعْنَا إِلَى حَديث أَبِي رَافع، قَالَ: «وَإِنَّ منْ فتْنَته أَنْ يَأْمُرَ السَّمَاءَ أَنْ تُمْطرَ فَتُمْطرَ، وَيَأْمُرَ الْأَرْضَ أَنْ تُنْبتَ فَتُنْبت، وَإِنَّ منْ فتْنَته أَنْ يَمُرَّ بِالْحَيِّ فَيُكَذِّبُونَهُ، فَلَا تَبْقَى لَهُمْ سَائمَةٌ إِلَّا هَلَكَتْ، وَإِنَّ منْ فتْنَته أَنْ يَمُرَّ بِالْحَيِّ فَيُصَدِّقُونَهُ، فَيَأْمُرَ السَّمَاءَ أَنْ تُمْطرَ فَتُمْطرَ، وَيَأْمُرَ الْأَرْضَ أَنْ تُنْبتَ فَتُنْبتَ، حَتَّى تَرُوحَ مَوَاشِيهِمْ، منْ يَوْمهمْ ذَلكَ أَسْمَنَ مَا كَانَتْ وَأَعْظَمَهُ، وَأَمَدَّهُ خَوَاصرَ، وَأَدَرَّهُ ضُرُوعًا، وَإِنَّهُ لَا يَبْقَى شَيْءٌ منَ الْأَرْض إِلَّا وَطئَهُ، وَظَهَرَ عَلَيْه، إِلَّا مَكَّةَ، وَالْمَدينَةَ، لَا يَأْتيهِمَا منْ نَقْب منْ نقَابهمَا إِلَّا لَقيَتْهُ الْمَلَائكَةُ بالسُّيُوف صَلْتَةً، حَتَّى يَنْزلَ عنْدَ الظُّرَيْب الْأَحْمَر، عنْدَ مُنْقَطَع السَّبَخَة، فَتَرْجُفُ الْمَدينَةُ بأَهْلهَا ثَلَاثَ رَجَفَات، فَلَا يَبْقَى مُنَافقٌ، وَلَا مُنَافقَةٌ إِلَّا خَرَجَ إِلَيْه، فَتَنْفي الْخَبَثَ منْهَا كَمَا يَنْفي الْكيرُ، خَبَثَ الْحَديد، وَيُدْعَى ذَلكَ الْيَوْمُ يَوْمَ الْخَلَاص»، فَقَالَتْ أُمُّ شَريك بنْتُ أَبِي الْعَكَر: يَا رَسُولَ اللَّه فَأَيْنَ الْعَرَبُ يَوْمَئذ؟ قَالَ « هُمْ يَوْمَئذ قَليلٌ، وَجُلُّهُمْ بِبَيْت الْمَقْدس، وَإِمَامُهُمْ رَجُلٌ صَالحٌ، فَبَيْنَمَا إِمَامُهُمْ قَدْ تَقَدَّمَ يُصَلِّي بِهِمُ الصُّبْحَ، إِذْ نَزَلَ عَلَيْهِمْ عيسَى ابْنُ مَرْيَمَ الصُّبْحَ، فَرَجَعَ ذَلكَ الْإِمَامُ يَنْكُصُ، يَمْشي الْقَهْقَرَى، ليَتَقَدَّمَ عيسَى يُصَلِّي بالنَّاس، فَيَضَعُ عيسَى يَدَهُ بَيْنَ كَتفَيْه، ثُمَّ يَقُولُ لَهُ: تَقَدَّمْ فَصَلِّ، فَإِنَّهَا لَكَ أُقيمَتْ، فَيُصَلِّي بهمْ إِمَامُهُمْ، فَإِذَا انْصَرَفَ، قَالَ عيسَى عَلَيْه السَّلَامُ: افْتَحُوا الْبَابَ، فَيُفْتَحُ، وَوَرَاءَهُ الدَّجَّالُ مَعَهُ سَبْعُونَ أَلْفَ يَهُوديٍّ، كُلُّهُمْ ذُو سَيْف مُحَلًّى وَسَاج، فَإِذَا نَظَرَ إِلَيْه الدَّجَّالُ ذَابَ، كَمَا يَذُوبُ الْملْحُ في الْمَاء، وَيَنْطَلقُ هَاربًا، وَيَقُولُ عيسَى عَلَيْه السَّلَامُ: إِنَّ لي فيكَ ضَرْبَةً، لَنْ تَسْبقَني بهَا، فَيُدْركُهُ عنْدَ بَاب اللُّدِّ الشَّرْقيِّ، فَيَقْتُلُهُ، فَيَهْزمُ اللَّهُ الْيَهُودَ، فَلَا يَبْقَى شَيْءٌ ممَّا خَلَقَ اللَّهُ يَتَوَارَى به يَهُوديٌّ إِلَّا

أَنْطَقَ اللَّهُ ذَلِكَ الشَّيْءَ، لَا حَجَرَ، وَلَا شَجَرَ، وَلَا حَائِطَ، وَلَا دَابَّةَ، إِلَّا الْغَرْقَدَةَ، فَإِنَّهَا مِنْ شَجَرِهِمْ، لَا تَنْطِقُ، إِلَّا قَالَ: يَا عَبْدَاللَّهِ الْمُسْلِمَ هَذَا يَهُودِيٌّ، فَتَعَالَ اقْتُلْهُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَإِنَّ أَيَّامَهُ أَرْبَعُونَ سَنَةً، السَّنَةُ كَنِصْفِ السَّنَةِ، وَالسَّنَةُ كَالشَّهْرِ، وَالشَّهْرُ كَالْجُمُعَةِ، وَآخِرُ أَيَّامِهِ كَالشَّرَرَةِ، يُصْبِحُ أَحَدُكُمْ عَلَى بَابِ الْمَدِينَةِ، فَلَا يَبْلُغُ بَابَهَا الْآخَرَ حَتَّى يُمْسِيَ»، فَقِيلَ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ نُصَلِّي فِي تِلْكَ الْأَيَّامِ الْقِصَارِ؟ قَالَ: تَقْدُرُونَ فِيهَا الصَّلَاةَ كَمَا تَقْدُرُونَهَا فِي هَذِهِ الْأَيَّامِ الطِّوَالِ، ثُمَّ صَلُّوا، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَيَكُونُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي أُمَّتِي حَكَمًا عَدْلًا، وَإِمَامًا مُقْسِطًا، يَدُقُّ الصَّلِيبَ، وَيَذْبَحُ الْخِنْزِيرَ، وَيَضَعُ الْجِزْيَةَ، وَيَتْرُكُ الصَّدَقَةَ، فَلَا يُسْعَى عَلَى شَاةٍ، وَلَا بَعِيرٍ، وَتُرْفَعُ الشَّحْنَاءُ، وَالتَّبَاغُضُ، وَتُنْزَعُ حُمَةُ كُلِّ ذَاتِ حُمَةٍ، حَتَّى يُدْخِلَ الْوَلِيدُ يَدَهُ فِي فِي الْحَيَّةِ، فَلَا تَضُرَّهُ، وَتُفِرَّ الْوَلِيدَةُ الْأَسَدَ، فَلَا يَضُرُّهَا، وَيَكُونَ الذِّئْبُ فِي الْغَنَمِ كَأَنَّهُ كَلْبُهَا، وَتُمْلَأُ الْأَرْضُ مِنَ السِّلْمِ كَمَا يُمْلَأُ الْإِنَاءُ مِنَ الْمَاءِ، وَتَكُونُ الْكَلِمَةُ وَاحِدَةً، فَلَا يُعْبَدُ إِلَّا اللَّهُ، وَتَضَعُ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا، وَتُسْلَبُ قُرَيْشٌ مُلْكَهَا، وَتَكُونُ الْأَرْضُ كَفَاثُورِ الْفِضَّةِ، تُنْبِتُ نَبَاتَهَا بِعَهْدِ آدَمَ حَتَّى يَجْتَمِعَ النَّفَرُ عَلَى الْقِطْفِ مِنَ الْعِنَبِ فَيُشْبِعَهُمْ، وَيَجْتَمِعَ النَّفَرُ عَلَى الرُّمَّانَةِ فَتُشْبِعَهُمْ، وَيَكُونَ الثَّوْرُ بِكَذَا وَكَذَا مِنَ الْمَالِ، وَتَكُونَ الْفَرَسُ بِالدُّرَيْهِمَاتِ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا يُرْخِصُ الْفَرَسَ؟ قَالَ لَا تُرْكَبُ لِحَرْبٍ أَبَدًا، قِيلَ لَهُ: فَمَا يُغْلِي الثَّوْرَ؟ قَالَ تُحْرَثُ الْأَرْضُ كُلُّهَا، وَإِنَّ قَبْلَ خُرُوجِ الدَّجَّالِ ثَلَاثَ سَنَوَاتٍ شِدَادٍ، يُصِيبُ النَّاسَ فِيهَا جُوعٌ شَدِيدٌ، يَأْمُرُ اللَّهُ السَّمَاءَ فِي السَّنَةِ الْأُولَى أَنْ تَحْبِسَ ثُلُثَ مَطَرِهَا، وَيَأْمُرُ الْأَرْضَ فَتَحْبِسُ ثُلُثَ نَبَاتِهَا، ثُمَّ يَأْمُرُ السَّمَاءَ، فِي الثَّانِيَةِ فَتَحْبِسُ ثُلُثَيْ مَطَرِهَا، وَيَأْمُرُ الْأَرْضَ فَتَحْبِسُ ثُلُثَيْ نَبَاتِهَا، ثُمَّ يَأْمُرُ اللَّهُ السَّمَاءَ، فِي السَّنَةِ الثَّالِثَةِ، فَتَحْبِسُ مَطَرَهَا كُلَّهُ، فَلَا تُقْطِرُ قَطْرَةً، وَيَأْمُرُ الْأَرْضَ، فَتَحْبِسُ نَبَاتَهَا كُلَّهُ، فَلَا تُنْبِتُ خَضْرَاءَ، فَلَا تَبْقَى ذَاتُ ظِلْفٍ إِلَّا هَلَكَتْ، إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ، قِيلَ: فَمَا يُعِيشُ النَّاسُ فِي ذَلِكَ الزَّمَانِ؟ قَالَ التَّهْلِيلُ، وَالتَّكْبِيرُ، وَالتَّسْبِيحُ، وَالتَّحْمِيدُ، وَيُجْرَى ذَلِكَ عَلَيْهِمْ مُجْرَى الطَّعَامِ، قَالَ أَبُو عَبْدِاللَّه: سَمِعْتُ أَبَا الْحَسَنِ الطَّنَافِسِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَبْدَالرَّحْمَنِ الْمُحَارِبِيَّ، يَقُولُ: يَنْبَغِي أَنْ يُدْفَعَ هَذَا الْحَدِيثُ إِلَى الْمُؤَدِّبِ، حَتَّى يُعَلِّمَهُ الصِّبْيَانَ فِي الْكُتَّابِ] (سنن ابن ماجه: ۴۰۷۷)

له ابوامامه باهلي رضي الله عنه نه روايت دی چې مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه راکړه د خطبې زیاته برخه یې مونږ ته د دجال معلومات او ډار راکول و، هغه پکې داسې هم وویل: له هغه راهیسې چې الله پاک ادم او بچي یې پیدا کړي دي نو په ځمکه کې له دجال نه بله لویه فتنه نشته، هیڅ پیغمبر الله نه دی راستولی مګر خپل امت یې له دجال څخه ډارولی دی، چونکه زه اخري نبي یم او تاسو اخري امت یاست، نو خامخا به په تاسو کې راووځي، که راشي او زه مو ترمنځ وم نو د هر مسلمان لپاره زه جنګ کوم، او که راڅخه وروسته راووت نو هر سړی دې له ځان نه دفاع وکړي، او د هر مسلمان دې الله مددګار شي، او هغه به د شام او عراق ترمنځ لارې څخه راوځي، ښۍ او کیڼ اړخ ته به فسادونه وکړي خو ای د الله بندګانو! تاسو مضبوط شئ، زه یې درته داسې حال بیانوم چې له ما څخه مخکې هیڅ پیغمبر نه دي بیان کړی، د هغه به لومړی خبره دا وي چې زه پیغمبر یم او له ما وروسته بل پیغمبر نشته، په دوهم ځل به وایي چې زه ستاسو رب یم، او تاسو خپل رب تر هغه نه شئ لیدلی چې مړه شوي نه یئ، او دجال شیړا دی او ستاسو رب معیوب نه دی، او د دجال سترګو ترمنځ کافر لیکل شوي دي چې هر پوهه او ناپوهه به یې لوستلی شي، فتنه یې دا ده چې جنت او اور هم لري، اور یې جنت او جنت یې اور دی، که څوک یې په فتنه وازمول شي نو له الله دې مرسته وغواړي او د سورت کهف لومړي ایتونه دې ولولي نو اور به پرې یخ او سلامتیا والا شي لکه څنګه چې په ابراهیم علیه السلام باندې اور یخ شوی و، بله فتنه یې دا ده چې بانده چې ته به وایي: که دې مړ پلار او مور راژوندي کړم نو و به مې منې چې ز دې رب یم؟ هغه به وایي: هو، د پلار او مور په شکل کې به ورته دوه شیطانان راشي ورته به وایي: څویه خبره یې ومنه دا ستا رب دی، بله فتنه یې دا ده چې په یو نفر به مسلط شي مړ به یې کړي او په اره به یې وریبي دوه چندې به شي، بیا به وایي: دې بنده ته مې وګورئ زه یې بېرته ژوندی کوم خو بیا به هم اټکلوی چې له ما پرته بل معبود لري، الله به یې راژوندی کړي خو دا خبیث به ورته وایي: رب دې څوک دی؟ سړی به وایي: رب مې الله دی او ته د هغه دښمن یې، قسم پر الله چې له دې وروسته مې په تا سم پوخ علم راغی، ابوالحسن طنافسي وایي مونږ ته محاربي وویل چې عبیدالله بن الولید الوصافي ورته ویلي و چې عطیه له ابوسعید الخدري

رضي الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: دغه سړی به په جنت کې زما له امت څخه د سترې درجې څښتن وي، ابوسعید وایي: قسم په الله چې ددغه سړي ګمان مونږ په عمر بن الخطاب کو تر څو ومړ، محاربي وايي بېرته د ابورافع حدیث ته ګرځو هغه وايي: ددجال بله فتنه دا ده چې که اسمان ته ووايي نو باران به ووروي، او ځمکې ته به امر وکړي زرغونه به شي، بله فتنه یې دا ده چې په کلي به راتېر شي هغوی به یې تکذیب وکړي نو هېڅ مال به یې پاتې نه شي مګر مړ به شي، او بله فتنه یې دا ده چې په یو کلي به راتېر شي هغوی به یې تصدیق وکړي، اسمان ته به امر وکړي باران به ووروي او ځمکې ته به امر وکړي زرغونه به راپورته کړي، تر دې چې مالونه به یې په دغه ورځ چاغ او تشي به یې پړسیدلي وي، غلانځې به یې ډکې وي، د مکې او مدینې نه بغېر به د ځمکې هېڅ برخه پاتې نه شي مګر دجال به یې له خپو نه لاندې کړي، د مکې او مدینې په هېڅ لاره به نه راځي مګر ملایک به پرې داسې حالت کې ناست وي چې توره به یې راویستلې وي تر دې چې د کاږجنې ځمکې سرو غونډیو سره به ښکته شي، دغه وخت به مدینه په خپلو هستوګنوالو درې ځله زلزله ونیسي، هېڅ منافق سړی او ښځه به پاتې نه شي مګر دجال ته به ووځي، له مدینې څخه به نفاق داسې ورک شي لکه بنۍ چې له اوسپنې څخه زنګ پورته کوي، دغه ورځ ته به (یوم الخلاص) وویل شي، ام شریک وویل: ای د الله رسوله! دغه وخت به عربان چېرته وي؟ هغه وویل: دغه ورځ به دوی ډېر لږ وي، او ډېر به یې په بیت المقدس کې وي، او امام به یې هم نېک سړی وي، د سهار لمونځ لپاره به یې امام مخکې شوی وي نابېره به پرې عیسی علیه السلام سهار راښکته شي، امام به پر شا بېرته راروان شي په دې خاطر چې عیسی علیه السلام مخکې شي او خلکو ته لمونځ ورکړي، عیسی علیه السلام به یې د اوږو ترمنځ لاس کیږدي او ورته به ووايي: مخکې شه او لمونځ وکړه، اقامت یې ستا لپاره شوی دی، امام به دغه لمونځ ورله وکړي، چې سلام وګرځوي عیسی علیه السلام به ووايي: دروازه خلاصه کړئ، دروازه به بېرته شي، له دروازې شاته به دجال د اویا زره یهودانو سره په داسې حالت کې وي چې تورې به ورسره وي او شنې جیلکې به پرې پرتې وي، کله چې عیسی علیه السلام دجال ته وګوري دجال به لکه اوبو کې د مالګې په څېر ویلې

شي او په شا به وتښتي، عيسی عليه السلام به ورته ووايي: زه درپسې يو ګوزار لرم چې هېڅکله رانه نه شې بچ کېدی، دباب لد ختيځ سره به يې راګېر کړي او مړ به يې کړي، الله به دغلته يهودانو ته شکست ورکړي، که يهودي له هر څه شا ته پټېږي مګر الله به دغه شي ته د خبرو توان ورکړي که ګټه وي که ونه، که ديوال وي او که حيوان سوا له غرقد نه چې د يهودانو ونه ده هغه به خبرې نه کوي، او نور به وايي: ای عبدالله مسلمانه! دلته يهودی دی راشه مړ يې کړه، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: د جال به څلوېښت کاله وي، کال به پکې د نيم کال په څېر وي، کال به لکه مياشت، مياشت به لکه هفته، پاتې ورځې به يې د سکروټې په څېر وي، د مدينې په يوې دروازه به په سرې سهار شي بلې ته چې رسيږي ماښام به وي، ورته ووېل شول: دالله رسوله! په دغو لنډو ورځو کې به مونږ لمونځ څنګه کو؟ هغه ووېل: وخت به يې داسې معلوموئ لکه په دې اوږدو ورځو کې چې يې معلوموئ او بيا به لمونځ کوئ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: عيسی عليه السلام به زما په امت کې عادل، امام او انصاف دار وي، صليب به مات کړي او خنزير به مړ کړي، او جزيه به ختمه کړي، زکات به د مال کثرت له وجې نه اخلې، ګډو اوښانو زکات پسې به څوک نه ليږدول کيږي، کينه او بغض به ختم شي، د هر زهريله شيانو زهر به بې اثره شي تر دې چې ماشوم به خپل لاس د مار په خوله کې ننباسي خو تکليف به ورته نه شي رسولی، ماشومې به زمری په منډو کړی وي، شرمخ به د ګډو بزو لکه سپی داسې وي، ځمکه به له امان څخه داسې ډکه شي لکه لوښی چې له اوبو ډکيږي، دين به يو وي له الله پرته به د بل چا عبادت پکې نه کيږي، جنګ به بيخي ختم شي، قريش به خپل واک بېرته تر لاسه کړي، ځمکه به لکه د سرو يا سپينو زرو لوښی (لګن) په څېر وي، د ادم عليه السلام د وخت په څېر به شينکی رازرغونوي تر دې چې ډېر نفر به د انګورو په يو زنګورکې مړيږي، او ډېر خلک به په يو انار راټول شي او پرې ماړه به شي، کامل غويا به په دومره او دومره روپو وي (ګران به وي)، اس به په يو څو درهمو باندې کيږي، صحابه کرامو ووېل: د الله رسوله اس به ولې ارزان وي؟ هغه ووېل: ځکه چې د جنګ لپاره به نه شي استعماليدی، غويا به ولې ګران بيعه وي؟ ځکه چې ټوله ځمکه به پرې يوه کولی شي، د دجال له راتګ وړاندې درې کلونه به قحطي وي، خلکو ته به پکې

ډېره سختي ورسيږي، په لومړي کال کې به الله پاک اسمان ته امر وکړي درېي برخې باران به بند کړي، ځمکې ته به امر وکړي دريمه برخه به يې بنده کړي، په دوهم ځل به اسمان ته امر وکړي دوه ثلثه باران به بند کړي او ځمکې ته به امر وکړي دوه ثلثه زرغونه به بنده کړي، بيا به الله په دريم ځل اسمان ته امر وکړي هېڅ قطره به نه راوروي او ځمکې ته به امر وکړي هېڅ زرغونه به نه کوي، هېڅ غوا بزه به پاتې نه شي مګر مړه به شي مګر هغه چې د الله خوښه وي، ورته وويل شول: دغه مهال به د خلکو زندګي څنګه وي؟هغه وويل: لااله الله، الله اکبر، سبحان الله، الحمدلله، دا به ورته د خوراک لپاره کفايت کوي، ابوعبدالله وايي: ما له ابوالحسن طنافسي نه واورېدل چې عبدالرحمن المحاربي ويل: دا حديث بايد استاد ته ورکړل شي چې په ښونځيو کې يې شاګردانو ته زده کړي.

## د عيسى عليه السلام د نزول بيان

۱۴۸ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: [وَالله، لَيَنْزِلَنَّ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَادِلًا، فَلَيَكْسِرَنَّ الصَّلِيبَ، وَلَيَقْتُلَنَّ الْخنْزِيرَ، وَلَيَضَعَنَّ الْجِزْيَةَ، وَلَتُتْرَكَنَّ الْقِلَاصُ فَلَا يُسْعَى عَلَيْهَا، وَلَتَذْهَبَنَّ الشَّحْنَاءُ وَالتَّبَاغُضُ وَالتَّحَاسُدُ، وَلَيَدْعُوَنَّ إِلَى الْمَالِ فَلَا يَقْبَلُهُ أَحَدٌ] (صحيح البخاري: ۳۴۴۸، صحيح مسلم: ۱۱۵، جامع الترمذي: ۲۲۳۳، سنن ابن ماجه: ۴۰۷۸، مسند احمد: ۱۰۴۰۴).

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: قسم په الله چې په تاسو کې به عيسى بن مريم ضرور د عادل او انصاف دار په صفت راښکته کيږي، صليب به ماتوي او خنزير به مړ کړي، جزيه به ختمه کړي او د اوښانو زکات پرېښودل شي څوک به پسې نه شي ليږدولی، او هرومرو به کينه بغض او حسد ختم شي، مال او دولت ته به خلک راغوښتلی شي او هېڅ څوک به يې نه قبلوي.

## عيسى عليه السلام به مقتدي وي

۱۴۹ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [كَيْفَ أَنْتُمْ إِذَا نَزَلَ ابْنُ مَرْيَمَ فِيكُمْ، وَإِمَامُكُمْ مِنْكُمْ] (صحيح البخاري: ۳۴۴۹، صحيح مسلم: ۱۵۵)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ستاسو به څه حالت وي چې ابن مريم عليه السلام درته راښکته شي په داسې حال کې چې امام به هم ستاسو له جملې څخه وي.

۱۵۰ وَفِي رِوَايَةٍ: [فَأَمَّكُمْ مِنْكُمْ] (صحيح مسلم: ۱۵۵].

په بل روايت کې دي: او ستاسو امامتي به له تاسو څخه يو نفر کوي.

## د عيسى عليه السلام نيکه حکمراني

۱۵۱ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَخْرُجُ الدَّجَالُ فَيَنْزَلَ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ فَيَقْتُلَه، ثُمَّ يَمْكُثَ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي الْأَرْضِ أَرْبَعِينَ سَنَةً إِمَامًا عَدْلًا، وَحَكَمًا مُقْسِطًا] (مسند احمد: ۲۴۴۶۷).

له عايشې رضي الله عنها نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: دجال به راووځي او مسيح عليه السلام به راکوز شي او مړ به يې کړي، بيا به عيسى عليه السلام په ځمکه کې څلويښت کاله داسې تير کړي چې عادل، حاکم او انصاف دار به وي.

۱۵۲ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [يَلْبَثُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ أَرْبَعِينَ سَنَةً، لَوْ قَالَ لِلْبَطْحَاءِ: سِيلِي عَسَلًا، لَسَالَتْ عَسَلًا] (الفتن لنعيم بن حماد: ۲/ ۵۸۰).

ابوهريرة رضي الله عنه وايي: عيسى بن مريم عليه السلام به په ځمکه کې

ځلوېښت کاله تېر کړي، که کاږجنې ځمکې ته ووايې چې شهد وبهوه نو شهد به وبهوي (بهېدل).

## د دجال د راتلو وخت

۱۵۳ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فِي خِفَّةٍ مِنَ الدِّينِ، وَإِدْبَارٍ مِنَ الْعِلْمِ، وَلَهُ أَرْبَعُونَ يَوْمًا يَسِيحُهَا، الْيَوْمُ مِنْهَا كَالسَّنَةِ، وَالْيَوْمُ كَالشَّهْرِ، وَالْيَوْمُ كَالْجُمُعَةِ، ثُمَّ سَائِرُ أَيَّامِهِ مِثْلُ أَيَّامِكُمْ، وَلَهُ حِمَارٌ يَرْكَبُهُ عَرْضُ مَا بَيْنَ أُذُنَيْهِ أَرْبَعُونَ ذِرَاعًا، يَأْتِي النَّاسَ فَيَقُولُ: أَنَا رَبُّكُمْ وَإِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ، مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ ك ف ر يَقْرَأُهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ كَاتِبٌ وَغَيْرُ كَاتِبٍ، يَمُرُّ بِكُلِّ مَاءٍ وَمَنْهَلٍ إِلَّا الْمَدِينَةَ وَمَكَّةَ حَرَّمَهُمَا اللَّهُ عَلَيْهِ، وَقَامَتِ الْمَلَائِكَةُ بِأَبْوَابِهِمَا] (المستدرک على الصحیحین: ۸٦۱۳)

له جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: دجال به په داسې حالت کې راشي چې خلک به ددين پرواګير نه وي، او علم به هم نه لري، دجال به ځلوېښت ورځې تېروي، يوه ورځ به يې لکه د کال په څېر، بله د هفتې په څېر او پاتې ورځې به يې ستاسو عادي ورځو په شان وي، هغه يو خر لري چې وربانديې سپور به وي، د غوږونو ترمنځ فاصله به يې ځلوېښت ګزه (څنګله) وي، خلکو ته به وايي چې زه مو رب يم، خو ګوره ستاسو رب معيوب نه دی، د سترګو ترمنځ يې کافر ليکل شوي دي چې تعليم يافته او غير تعليم يافته مسلمان به يې لوستلی شي، په هره لار او اوبو به وګرځي مګر مکې او مدينې ته به نه شي راتلی ځکه چې الله وربانديې دواړه حرامې کړي دي او په دروازو به يې ملايک هم ولاړ وي.

## د قيامت له سختۍ نه به مسلمان محفوظ وي

۱۵۴ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [إِنَّ لِلَّهِ رِيحًا يَبْعَثُهَا عَلَى رَأْسِ مِائَةِ سَنَةٍ تَقْبِضُ رُوحَ كُلِّ مُؤْمِنٍ] (المستدرک على الصحيحين: ٨٤١١).

عبدالله له خپل پلار بريده رضي الله عنه نه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د سلو کالو په سر کې به الله پاک خپل يو باد راوالوځوي او د هر مومن ساه به واخلي.

## د لمر راختو وروسته د دنيا بقاء!

١٥٥ وَلابْنِ أَبِي شَيْبَةَ عَنِ ابْنِ عَمْرٍو أَنَّهُ قَالَ لِرَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ: هَلْ تَعْرِفُ أَرْضًا قِبَلَكُمْ كَثِيرَ السِّبَاخِ يُقَالُ لَهَا كُوثَى، قَالَ: قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: مِنْهَا يَخْرُجُ الدَّجَّالُ، قَالَ: ثُمَّ قَالَ: إِنَّ لِلْأَشْرَارِ بَعْدَ الْأَخْيَارِ عِشْرِينَ وَمِائَةَ سَنَةٍ، لَا يَدْرِي أَحَدٌ مِنَ النَّاسِ مَتَى يَدْخُلُ أَوَّلُهَا] (مصنف بن أبي شيبة: ٣٧٥١١).

وَقَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ خَيْثَمَةَ، عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: يَبْقَى النَّاسُ بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا عِشْرِينَ وَمِائَةً] (الفتن لنعيم بن حماد: ١٨٤٩)

ابن ابي شيبه روايت کوی چې عبدالله بن عمرو بن العاص يو عراقي ته وويل: ايا ته په خپله منطقه کې د کوثا مکان په نوم ځای پيژني چې زرغونه نه کوي؟ وايي: ما ورته وويل: هو، هغه وويل: دجال به له دغه ځايه راوځي، بيا يې وويل: له غوره ترينو خلکو وروسته به بدترين خلک د يو سل او شل کالو په موده پاتي شي خو ددې معلومات چا ته نشته چې ددغې مودې لومړی کال به کله شروع کيږي.

بيا وايي: ما ته وکيع، هغه ته اسمعيل، هغه ته خيثمه، هغه له عبدالله بن عمرو نه روايت کوي چې ويل يې: مغرب څخه د لمر راختو وروسته به خلک يو سل او شل کاله پاتې وي.

١٥٦ وَقَالَ عَبْدُ بْنُ حَمِيدٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ سَمِعْتُ أَبَا خَيْثَمَةَ يُحَدِّثُ عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: يَبْقَى النَّاسُ بَعْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا عِشْرِيْنَ وَمِائَةَ سَنَةٍ.

عبد بن حمید له یزید بن هارون، هغه يې له اسمعیل بن ابي خالد او هغه يې له ابوخیثمة څخه روایت کوي چې ما له عبدالله بن عمرو څخه اورېدلي دي ویل يې: د مغرب څخه لمر راختو وروسته به خلک یوسل او شل کاله پاتې وي.

## عربان به بېرته بدپرست شي

١٥٧ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، يَقُولُ: [لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَعْبُدَ الْعَرَبُ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُهَا عِشْرِينَ وَمِائَةَ عَامًا، بَعْدَ نُزُولِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَبَعْدَ الدَّجَّالِ] (الفتن لنعيم بن حماد: ١٦٦٧)

عبدالله بن عمرو وايي: قیامت به تر هغه رانه شي تر څو عربان به یو سل او شل کاله د هغه څه عبادت وکړي چې پلارانو يې کړې دی، او دا د عیسی علیه السلام له نزول او د دجال له راتګ نه وروسته.

## په مدینه کې اوسېدل او له قیامت څخه وړاندې د مدینې اباديي

١٥٨ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [تَبْلُغُ الْمَسَاكِنُ إِهَابَ -أَوْ يَهَابَ-، قَالَ زُهَيْرٌ: قُلْتُ لِسُهَيْلٍ: فَكَمْ ذَلِكَ مِنَ الْمَدِينَةِ؟ قَالَ: كَذَا وَكَذَا مِيلًا] (صحيح مسلم: ٢٩٠٣)

له ابوهریرة رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د مدینې ابادي به تر اهاب یا یهاب ته ورسیږي، زهیر وايي ما سهیل ته وویل: دا له مدینې څخه څومره لرې سیمه ده؟ هغه وویل: دومره او دومره میله لرې سیمه ده.

## مدینه به محاصره شي

۱۵۹ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: [يُوشِكُ الْمُسْلِمُونَ أَنْ يُحَاصَرُوا إِلَى الْمَدِينَةِ، حَتَّى يَكُونَ أَبْعَدَ مَسَالِحِهِمْ سَلَاحِ] (سنن أبي داود: ۴۲۵۰)

له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: نزدې ده چې مدینه کې مسلمانان محاصره شي تر دې چې لرې سرحدي سيمه به يې سلاح (خيبر ته نزدې سيمه ده) وي.

## د مديني کنډواله کېدل د قيامت نښه ده

۱۶۰ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ يَقُولُ: [يَتْرُكُونَ الْمَدِينَةَ عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ، لَا يَغْشَاهَا إِلَّا الْعَوَافي -يُرِيدُ عَوَافِيَ السِّبَاعِ وَالطَّيْرِ- ثُمَّ يَخْرُجُ رَاعِيَانِ مِنْ مُزَيْنَةَ يُرِيدَانِ الْمَدِينَةَ، يَنْعِقَانِ بِغَنَمِهِمَا، فَيَجِدَانِهَا وَحْشًا، حَتَّى إِذَا بَلَغَا ثَنِيَّةَ الْوَدَاعِ خَرَّا عَلَى وُجُوهِهِمَا] (صحيح البخاري: ۱۸۷۴، صحيح مسلم: ۱۳۸۹)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي دي ويل يې: دوی به مدينه په ډېر ښه حالت (اباده اوودانه) پرېږدي، بيا به پکې ورينډګان او مارغان ووسېږي، بيا به له مزينه قبيلې څخه دوه شپونکي راووځي مديني ته به روان وي، چې کله په خپلو ګډو بزو اوازونه وکړي نو مدينه به د ورينډګانو ځای بیاموي، چې کله ثنية الوداع ته ورسيږي نو پر مخ به مړه راپریوځي.

## مدينه به کله کنډواله شي؟

۱۶۱ عَنْ جَابِرٍ رَضيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، عَلَى الْمِنْبَرِ

يَقُولُ: إِنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [يَخْرُجُ أَهْلُ الْمَدِينَةِ مِنْهَا ثُمَّ يَعُودُونَ إِلَيْهَا فَيَعْمُرُونَهَا حَتَّى تَمْتَلِئَ وَتُبْنَى، ثُمَّ يَخْرُجُونَ مِنْهَا فَلَا يَعُودُونَ إِلَيْهَا أَبَدًا] (تاريخ المدينة لابن شبة: ١/ ٣٤٧).

جابر رضي الله عنه وايي چي له عمر رضي الله عنه څخه يې واورېدل په ممبر يې ويل چي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه يې اورېدلي دي: له مديني څخه به يې هستوګن ووځي، بېرته به ورته راستانه شي، هم به مدينه ډکه شي او هم به ودانه شي، د بيا ځل لپاره به بيا ووځي خو هېڅکله به ورته بېرته رانه شي.

## مدينه کي به هم ايمان لو شي!

١٦٢ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: « وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَيَكُونَنَّ بِالْمَدِينَةِ مَلْحَمَةٌ يُقَالُ لَهَا: الْحَالِقَةُ، لَا أَقُولُ حَالِقَةَ الشَّعَرِ وَلَكِنْ حَالِقَةَ الدِّينِ، فَاخْرُجُوا مِنَ الْمَدِينَةِ وَلَوْ عَلَى قَدْرِ بَرِيدٍ] (تاريخ المدينة لابن شبة: ١/ ٢٨٠)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی فرمايي: زما دې په هغه ذات قسم وي چي زما نفس يې په لاس کي دی هرومرو به په مدينه کي خونړېزه معرکه کېږي او حالقه به ورته ويل کېږي، دا نه چي وېښتان به لري کوي، بلکي دين به له سرې څخه لرې کړي، دغه مهال له مديني ووځئ که څه هم د بريد په اندازه ولې نه وي

## چي دين ازمېښت شي قيامت به نږدې شي!

١٦٣ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ عَلَى الْقَبْرِ فَيَتَمَرَّغُ عَلَيْهِ، وَيَقُولُ: يَا لَيْتَنِي كُنْتُ مَكَانَ صَاحِبِ هَذَا الْقَبْرِ، وَلَيْسَ بِهِ الدِّينُ إِلَّا الْبَلَاءُ]

(صحيح البخاري: ٧١١٥، صحيح مسلم: ١٥٧، سنن ابن ماجه: ٤٠٣٧،

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: زما دې په هغه ذات قسم وي چي زما نفس يې په لاس کي دی تر هغه به

دنيا ورانه نه شي چې يو سړی به په قبر باندې تېرېږي، پرې وبه رغړي او وبه وايي: های کاشکې د دې مړي پر ځای زه وم، له دين نه بغېر به پرې بل امتحان نه وي.

## د کعبې نړېدل د قيامت نښه ده!

١٦٤ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ] (صحيح بخاري: ١٥٩١، صحيح مسلم: ٢٩٠٩، سنن النسائي: ٢٩٠٤)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: کعبه به له حبشو څخه داسې څوک ورانوي چې نرۍ پنډۍ به لري.

## د کعبې د ويجاړونکي نښې

[١٦٥ عَنِ ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [كَأَنِّي بِهِ أَسْوَدَ أَفْحَجَ، يَقْلَعُهَا حَجَرًا حَجَرًا] (صحيح البخاري: ١٥٩٥)

له ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: لکه زه چې اوس هم ورته ګورم، تور او پنډې يې يو له بل لرې دي، يوه يوه ډبره يې نړوي.

## د کعبې ويجاړونکي نورې نښې

١٦٦ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: [اسْتَكْثِرُوا مِنَ الطَّوَافِ بِهَذا الْبَيْتَ قبل أن يُحَالَ بَيْنَكُم وَبَيْنَه، وكَأَنِّي برجلٍ من الْحَبَشَةِ أَصْعَلَ، أَصْحَم، حَمِشَ السَّاقَيْنِ قاعد عَلَيها وهي تُهدِم] (أخبار مكة للأزرقي: ١ / ٢٧٦)

علي رضي الله عنه فرمايي: له دې کور (بيت الله) څخه ډېر ډېر طوافونه وکړئ

مخکې له دېنه چې ستاسو او د ده ترمنځ موانع واقع شي، زه اوس هم لکه یو حبشي ته چې ګورم په سر ورکوټی او واړه واړه غوږونه يې دي او نرۍ پونډۍ لري، پرې ناست دی او کعبه ورانوي.

## د کعبې د ویجاړولو پیل

١٦٧ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [يُبَايَعُ لِرَجُلٍ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ، وَأَوَّلُ مَنْ يَسْتَحِلُّ هَذَا الْبَيْتَ أَهْلُهُ، فَإِذَا اسْتَحَلُّوهُ فَلَا تَسْأَلْ عَنْ هَلَكَةِ الْعَرَبِ ثُمَّ يَجِيءُ الْحَبَشَةُ فَيُخَرِّبُونَهُ خَرَابًا لَا يَعْمُرُ بَعْدَهُ، وَهُمُ الَّذِينَ يَسْتَخْرِجُونَ كَنْزَهُ] (مسند ابي داود الطيالسي: ٢٤٩٤).

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: د رکن يماني او مقام ابراهيم ترمنځ به له يو سړي سره بيعت وشي، د کعبې لومړۍ بې احترامي به د دې ځای ميشت خلک کوي، خو چې بې احترامي يې وکړې نو د عربانو د هلاکت پوښتنه خو بيخي مه کوه، بيا به حبشيان راشي او کعبه به داسې خرابه کړي چې بېرته به ونه رغول شي، او همدوی به يې خزانه هم راوباسي.

## پر مدینه باندې اقتصادي بندیز د قیامت نښه ده

١٦٨ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [يُوشِكُ أَهْلُ الْعِرَاقِ أَنْ لَا يُجْبَى إِلَيْهِمْ قَفِيزٌ وَلَا دِرْهَمٌ، قُلْنَا: مِنْ أَيْنَ ذَاكَ؟ قَالَ: مِنْ قِبَلِ الْعَجَمِ، يَمْنَعُونَ ذَاكَ، ثُمَّ قَالَ: يُوشِكُ أَهْلُ الشَّأْمِ أَنْ لَا يُجْبَى إِلَيْهِمْ دِينَارٌ وَلَا مُدْيٌ، قُلْنَا: مِنْ أَيْنَ ذَاكَ؟ قَالَ: مِنْ قِبَلِ الرُّومِ، ثُمَّ سَكَتَ هُنَيَّةً، ثُمَّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَكُونُ فِي آخِرِ أُمَّتِي خَلِيفَةٌ يَحْثِي الْمَالَ حَثْيًا، لَا يَعُدُّهُ عَدَدًا» قَالَ قُلْتُ لِأَبِي نَضْرَةَ وَأَبِي الْعَلَاءِ: أَتَرَيَانِ أَنَّهُ عُمَرُ بْنُ عَبْدِالْعَزِيزِ فَقَالَا: لَا] (صحيح مسلم: ٢٩١٣)

جابر بن عبدالله رضي الله عنه فرمايي: نږدې ده چې عراقيانو ته يې قفيز (يو

قفیز ٤٤کیلو ګرامه دی) او درهم رانه شي، مونږ وویل: په څه وجه؟ هغه وویل: د عجمیانو له مخې چې منعه به یې کړي، بیا یې وویل: نزدې ده چې شامیانو ته دینار او مُد (یو مد ۸۹ نیم کلو ګرامه دی) رانه شي، مونږ وویل: ولې به نه راځي؟ هغه وویل: د رومیانو له وجې، بیا لږ خاموش شو، بیا یې وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: اخر وخت کې به زما په امت کې داسې خلیفه راشي چې مال به په لپو لپو ورکوي او بیخي به یې نه شماري، ما ابونضره او ابو العلاء ته وویل: تاسو څه وایئ چې دغه سړی عمر بن عبدالعزیز دی؟ هغوی وویل: نا، دا نه دی.

## نېک خلیفه خو د دنیا د زوال وخت

۱٦٩ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدرِيِّ وَجَابِرِ بْنِ عَبْدالله رَضيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اَللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ خَلِيفَةٌ يَقْسِمُ الْمَالَ وَلَا يَعُدُّهُ] (صحيح مسلم: ۲۹۱۴).

له ابوسعید خدري او جابر رضي الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: په اخره زمانه کې به یو خلیفه راشي او په خلکو به مال دولت داسې تقسیموي چې شمار به یې نه کوی.

## د مهدي په باره کې بیان

۱۷۰ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضيَ اللهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [يَكُونُ اخْتِلَافٌ عِنْدَ مَوْتِ خَلِيفَة، فَيَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَة هَارِبًا إِلَى مَكَّة، فَيَأْتِيه نَاسٌ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ فَيُخْرِجُونَهُ وَهُوَ كَارِهٌ، فَيُبَايِعُونَهُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ، وَيُبْعَثُ إِلَيْهِ بَعْثٌ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ، فَيُخْسَفُ بِهِمْ بِالْبَيْدَاءِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَة، فَإِذَا رَأَى النَّاسُ ذَلِكَ أَتَاهُ أَبْدَالُ الشَّامِ، وَعَصَائِبُ أَهْلِ الْعِرَاقِ، فَيُبَايِعُونَهُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ، ثُمَّ يَنْشَأُ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ أَخْوَالُهُ كَلْبٌ، فَيَبْعَثُ إِلَيْهِمْ

بَعْثًا، فَيَظْهَرُونَ عَلَيْهِمْ، وَذَلِكَ بَعْثُ كَلْبٍ، وَالْخَيْبَةُ لِمَنْ لَمْ يَشْهَدْ غَنِيمَةَ كَلْبٍ، فَيَقْسِمُ الْمَالَ، وَيَعْمَلُ فِي النَّاسِ بِسُنَّةِ نَبِيِّهِمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَيُلْقِي الْإِسْلَامُ بِجِرَانِهِ فِي الْأَرْضِ، فَيَلْبَثُ سَبْعَ سِنِينَ، ثُمَّ يُتَوَفَّى وَيُصَلِّي عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ] (سنن ابي داود: ۴۲۸۶)

له ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي دي: د يو خليفه مړينې سره به اختلاف منځ ته راشي، يو سړی به له مدينې څخه مکې ته وتښتي، د مکې ميشتوال به ورپسې راشي، که څه هم د هغه به نه وي خوښه خو خلک به يې له کوره په زوره راوباسي (امير به يې کړي) د مقام ابراهيم او رکن يماني ترمنځ به ورسره بيعت وکړي، له شام څخه به ورپسې پوځي ځواک راواستول شي نو د مکې او مدينې ترمنځ صحرا به پرې وشکيږي (خسف به پرې وشي) کله چې خلک دا وويني نو د شام اولياء، د عراق غوره خلک به راشي او د رکن او مقام ترمنځ به ورسره بيعت وکړي، بيا به له قريشو څخه يو سړی راووځي چې ماماګان به يې بنوکلب وي، دغه کلبي به د مهدي په ضد جنګي لښکر واستوي نو مهدويان به پرې غالب شي دغه به د کلبي جنګي لښکر وی، هغه به بدقسمته وي چې د بنوکلب غنيمتونه ترلاسه نه کړي، مهدي به غنيمت د خلکو ترمنځ تقسيم کړي او د خلکو ترمنځ به په نبوي سنت عمل درامد کوي، او په ځمکه کې به اسلام مستقيم او کلک ودريږي، اووه کاله به دغه حالت وي، بيا به مهدي وفات شي او خلک به پرې د جنازې لمونځ وکړي

## پر مدينه جنګي يرغل او د قيامت درشل

۱۷۱ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [يَجِيءُ جَيْشٌ مِنْ قِبَلِ الشَّامِ حَتَّى يَدْخُلَ الْمَدِينَةَ فَيَقْتُلُونَ الْمُقَاتِلَةَ، وَيَبْقُرُونَ بُطُونَ النِّسَاءِ، وَيَقُولُونَ لِلْحُبْلَى فِي الْبَطْنِ: اقْتُلُوا صُبَابَةَ السُّوءِ، فَإِذَا عَلَوَا الْبَيْدَاءَ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ خُسِفَ بِهِمْ، فَلَا يُدْرِكُ أَسْفَلُهُمْ أَعْلَاهُمْ، وَلَا أَعْلَاهُمْ أَسْفَلَهُمْ». قَالَ أَبُو الْمُهَزَّمِ: فَلَمَّا جَاءَ جَيْشُ حُبَيْشِ بْنِ دُلْجَةَ قُلْنَا: هُمْ، فَلَمْ يَكُونُوا هُمْ] (تاريخ المدينة لابن شبة: ۱ / ۲۷۹، ۳۰۹، حديث شمېر: ۵۸۰)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه سلم فرمايي: له شام څخه به جنګي لښکر راشي او مدينې ته به ننوځي، جنګيالو سره به يې جنګ وکړي، د ښځو خيټې به څيري کړي، اميدوارو ښځو ته به ووايي چې دا د بدو بچو ميندې مړې کړئ، کله چې د ذوالحليفه مقام ميرې ته راورسيږي خسف به پرې وشي، لاندې به يې باندې او باندې به يې لاندې راګېر نه کړي، ابوالمهزم وايي: کله چې د حبيش بن دلجه جنګي لښکر راغی مونږ وويل: دا خلک به هغوی وي خو هغوی نه ول.

## د مکې په بريدګرو به خسف وشي

۱۷۲ عَنْ عُبَيْدِالله بْنِ الْقِبْطِيَّة، قَالَ: دَخَلَ الْحَارِثُ بْنُ أَبِي رَبِيعَةَ وَعَبْدُالله بْنُ صَفْوَانَ وَأَنَا مَعَهُمَا، عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ، فَسَأَلَاهَا عَنِ الْجَيْشِ الَّذِي يُخْسَفُ بِه، وَكَانَ ذَلِكَ فِي أَيَّامِ ابْنِ الزُّبَيْرِ، فَقَالَتْ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: يَعُوذُ عَائِذٌ بِالْبَيْتِ، فَيُبْعَثُ إِلَيْه بَعْثٌ، فَإِذَا كَانُوا بِبَيْدَاءَ مِنَ الْأَرْضِ خُسِفَ بِهِمْ» فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ الله فَكَيْفَ بِمَنْ كَانَ كَارِهًا؟ قَالَ: «يُخْسَفُ بِهِ مَعَهُمْ، وَلَكِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى نِيَّتِه وَقَالَ أَبُو جَعْفَرٍ: هِيَ بَيْدَاءُ الْمَدِينَةِ] (صحيح مسلم: ۲۸۸۲)

عبيدالله بن القبطية وايي: حارث بن ابي ربيعه او عبدالله بن صفوان او زه ام سلمه رضي الله عنها ته ورغلو، هغوی دواړو ورڅخه د هغه لښکر اړوند وپوښتل چې خسف به پرې کيږي، هېره دې نه وي چې مونږ د عبدالله بن زبير د واک په مهال ورغلي ول، هغې وويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: په بيت الله پورې به يو پناه غوښتونکی پناه ونيسي، يو جنګي لښکر به پسې راروان وي خو چې بيداء (د مکې او مدينې ترمنځ سيمه ده) ته راورسيږي ځمکه به پرې ښکته لاړه شي، ما وويل: د الله رسوله! که څوک پرې راضي نه وي؟ هغه وويل: هغه به هم ورسره خسف ونيسي خو د قيامت په ورځ به په خپل نيت راپورته کيږي، ابوجعفر وايي: له دې څخه د مدينې بيداء مراد ده.

## د مهدي سخا

۱۷۳ عَنْ أَبِي سَعِيد الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [يَكُونُ فِي أُمَّتِي الْمَهْدِيُّ إِنْ قُصِرَ فَسَبْعٌ، وَإِلَّا فَتِسْعٌ، فَتَنْعَمُ فِيهِ أُمَّتِي نِعْمَةً، لَمْ يَنْعَمُوا مِثْلَهَا قَطُّ، تُؤْتَى أُكُلَهَا وَلَا تَدَّخِرُ مِنْهُمْ شَيْئًا، وَالْمَالُ يَوْمَئِذٍ كُدُوسٌ، فَيَقُومُ الرَّجُلُ، فَيَقُولُ: يَا مَهْدِيُّ أَعْطِنِي، فَيَقُولُ خُذْ] (سنن ابن ماجه: ۴۰۸۳، جامع الترمذي: ۲۲۳۲)

له ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: زما په امت کې به مهدي راځي، که ډېر وروسته شي نو اووه پيړۍ ورنه نهه پيړۍ وروسته به راشي، دغه مهال به زما امت په سو نعمتونو کې وي چې مخکې به پرې دغسې نعمتونه نه وي شوي، خوراک به کوي خو ذخير اندوزي به نه کوي، مال به هم ډېر زيات وي، يو سړی به ورته ووايي: ای مهدي ما ته مال راکړه، هغه به ورته ووايي: واخله.

## مهدي د نبوت د کورنۍ غړی دی

۱۷۴ عَنْ أَبِي سَعِيد الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [الْمَهْدِيُّ مِنِّي، أَجْلَى الْجَبْهَةِ، أَقْنَى الأَنْفِ، يَمْلَأُ الأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا، كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا وَظُلْمًا، يَمْلِكُ سَبْعَ سِنِينَ] (جامع الترمذي: ۲۲۳۲، سنن ابي داود: ۴۲۸۵، سنن ابن ماجه: ۴۰۸۳).

له ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: مهدي به زما له کورنۍ څخه وي، غټ تندی او (ښايسته) اوږده پوزه به يې وي، ځمکه به له عدل څخه داسې ډکه کړي لکه د ظلم او ستم نه چې ښکه ډکه ده، تر اووه کالو پورې به واک او اختيار لري.

## مهدي به د نبي صلى الله عليه وسلم همنامى وي

۱۷۵ عَنْ عَبْدِاللَّه بن مَسْعُود رَضيَ اللهُ عَنْهُ عَن النَّبيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ قَالَ: [لَوْ لَمْ يَبْقَ منَ الدُّنْيَا إِلَّا يَوْمٌ - قَالَ زَائدَةُ في حَديثه: «لَطوَّلَ اللَّهُ ذَلكَ الْيَوْمَ، حَتَّى يَبْعَثَ اللهُ فِيهِ رَجُلًا منِّي -أَوْ منْ أَهْلِ بَيْتِي- يُوَاطِئُ اسْمُهُ اسْمِي، وَاسْمُ أَبِيهِ اسْمُ أَبِي] (جامع الترمذي: ۲۲۳۱، سنن ابي داود: ۴۲۸۲)

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: كه د دنيا يوه ورځ هم پاتې شي نو الله به يې دومره اوږده كړي چې زما له كورنۍ څخه به داسې سړى راووباسي، نوم به يې زما د نوم په څېر او د پلار نوم به يې زما د پلار د نوم په څېر وي.

۱۷۶ عَنْ أَبِي سَعِيد الْخُدْرِيِّ رَضيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: خَشِينَا أَنْ يَكُونَ بَعْدَ نَبِيِّنَا حَدَثٌ فَسَأَلْنَا نَبِيَّ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنَّ في أُمَّتِي الْمَهْدِيَّ يَخْرُجُ يَعِيشُ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا أَوْ تِسْعًا، زَيْدٌ الشَّاكُّ، قَالَ: قُلْنَا: وَمَا ذَاكَ؟ قَالَ: سِنِينَ قَالَ: فَيَجِيءُ إِلَيْهِ رَجُلٌ فَيَقُولُ: يَا مَهْدِيُّ أَعْطِنِي أَعْطِنِي قَالَ: فَيَحْثِي لَهُ فِي ثَوْبِهِ مَا اسْتَطَاعَ أَنْ يَحْمِلَهُ] (جامع الترمذي: ۲۲۳۲، سنن ابن ماجه: ۴۰۸۳)

له ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دى چې مونږ وډار شولو چې له نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه وروسته نادودې راپورته نه شي مونږ ورڅخه وپوښتل هغه وويل: زما په امت كې به مهدي راوځي، پنځه يا اووه او يا نهه به ژوندى وي شك زيد كړى دى مونږ ووېل: پنځه يا اووه او يا نهه څه شى؟ هغه وويل: كلونه، يو سړى به راشي او ورته به ووايي چې اى مهدي ما ته دومره دومره (مال) راكړه، نو په څادر كې به ورته دومره شتمني په لپو واچوي چې هغه به يې وړلى شي.

## ايا مهدي خپله عيسى عليه السلام دى؟

۱۷۷ عَنْ أَنَس بْنِ مَالك رَضيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ، قَالَ: [لَا يَزْدَادُ الْأَمْرُ إِلَّا شِدَّةً، وَلَا الدُّنْيَا إِلَّا إِدْبَارًا، وَلَا النَّاسُ إِلَّا شُحًّا، وَلَا

تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا عَلَى شِرَارِ النَّاسِ، وَلَا الْمَهْدِيُّ إِلَّا عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ] (سنن ابن ماجه: ۴۰۳۹) الحديث ضعيف جدا

له انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: دين به لا پسې سخت شي، او دنيا لا پسې په شا روانه ده، او خلک به لا پسې بخيلان کيږي، او قيامت ورځ به له بدبختو پرته په بل چا نه راځي، او مهدي عيسی ابن مريم دی.

## مسيح بن مريم او مسيح الدجال

۱۷۸ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [وَأَرَانِي اللَّيْلَةَ عِنْدَ الكَعْبَةِ فِي المَنَامِ، فَإِذَا رَجُلٌ آدَمُ، كَأَحْسَنِ مَا يُرَى مِنْ أُدْمِ الرِّجَالِ تَضْرِبُ لِمَّتُهُ بَيْنَ مَنْكِبَيْهِ، رَجِلُ الشَّعَرِ، يَقْطُرُ رَأْسُهُ مَاءً، وَاضِعًا يَدَيْهِ عَلَى مَنْكِبَيْ رَجُلَيْنِ وَهُوَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ فَقَالُوا: هَذَا المَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ، ثُمَّ رَأَيْتُ رَجُلًا وَرَاءَهُ جَعْدًا قَطِطًا أَعْوَرَ العَيْنِ اليُمْنَى، كَأَشْبَهِ مَنْ رَأَيْتُ بِابْنِ قَطَنٍ، وَاضِعًا يَدَيْهِ عَلَى مَنْكِبَيْ رَجُلٍ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: المَسِيحُ الدَّجَّالُ [صحيح البخاري: ۳۴۴۰، صحيح مسلم: ۱۶۹).

له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: او د کعبې ترڅنګ راته په خوب کې وښودل شول چې په غنم رنګو کې ډېر ښايسته غنم رنګی يو سړی وي، د ولو ترمنځ يې لونګۍ وهلې وه، سر يې ګمنځ کړی و او اوبه ترې څڅېدې، د دوو سړيو په اوږو يې لاسونه ايښي و او له کعبې څخه يې طواف کو، ما وويل: دا څوک دی؟ هغوی وويل: دا مسيح بن مريم دی، بيا مې بل سړی ورڅخه وروسته وليد، کوړی وړی ويښتان يې ول او ښيخي د ابن قطن په شان و، د دوو سړيو په اوږو يې لاسونه ايښي و او له کعبې طواف کو، ما وويل: دا څوک دی؟ هغوی وويل: دا مسيح دجال دی.

# د دجال

# بیان

## د دجال پیدائشي صفتونه

۱۷۹ عَن ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [إِنَّ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ، جَعْدٌ، هِجَانٌ، أَقْمَرُ، كَأَنَّ رَأْسَهُ غُصْنَةُ شَجَرَة، أَشْبَهُ النَّاسِ بِعَبْدِالْعُزَّى بْنِ قَطَنٍ، فَإِمَّا هَلَكَ الْهُلَّكُ فَإِنَّهُ أَعْوَرُ، وَإِنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ] ( مصنف ابن أبي شيبه: ۲۸۵۲ ، مسند احمد: ۳۷۴۷۰ ) له ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د دجال ياداشت وکړ او ويې ويل: دجال په سترګه شيړا، لنډ پنډ، تک سپين دی، سر يې د جاخ وني په شان دی، د عبدالعزى بن قطن سره ډېر مشابهت لري، ناپوهه خلک به پرې هلاک شي خو تاسو په دې وپوهيږئ چې الله په سترګو معيوب نه دی.

## دجال به په حقيقي مسلمان باندې هېڅ توان نه لري

۱۸۰ عَنْ أَبِيْ هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [خَرَجْتُ إِلَيْكُمْ وَقَدْ بُيِّنَتْ لِي لَيْلَةُ الْقَدْرِ وَمَسِيحُ الضَّلَالَة، فَكَانَ تَلَاحَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ فِي الْمَسْجِد، فَذَهَبْتُ لأَحْجِزَ بَيْنَهُمَا، فَأُنْسِيتُهَا، وَسَأَشْدُو لَكُمْ مِنْهُمَا شَدْوًا، أَمَّا لَيْلَةُ الْقَدْرِ فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ فِي وِتْرٍ، وَأَمَّا مَسِيحُ الضَّلَالَة فَإِنَّهُ أَعْوَرُ الْعَيْنِ، أَجْلَى الْجَبْهَة، عَرِيضُ النَّحْرِ، فِيهِ انْدِفَاءٌ، مِثْلُ قَطَنِ بْنِ عَبْدِالْعُزَّى فَقَالَ الرَّجُلُ: يَضُرُّنِي يَا رَسُولَ اللَّهِ شَبَهُهُ؟، فَقَالَ: لَا، أَنْتَ مُسْلِمٌ، وَهُوَ كَافِرٌ] (مسند ابي داود الطيالسي: ۲٦۵۵).

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: تاسو ته په داسې حالت کې راووتم چې ليلة القدر او مسيح الضلاله راته ښودل شوي وو، په مسجد کې د دوو کسانو جنګ شو نو زه يې د خلاصون لپاره لاړم نو بېرته رانه هېر شول، خو بيان به يې درته وکړم، ليلة القدر خو د رمضان

په اخرنيو طاقو ورځو کې ولټوئ، او مسيح الضلالت په سترګه شيړا دی، په تندې ويښتان نه لري او پلنه مرۍ لري او يو طرف ته مايله ده، بيخي د قطن بن عبدالعزی سره مشابه دی، يو سړي ورته وويل: ايا ما ته څه تکليف رسولی شي؟ هغه وويل: نا، ته مسلمان او هغه کافر دی.

## د دجال لښکر

۱۸۱ عَنْ أَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [أَنَّ الدَّجَّالَ يَخْرُجُ مِنْ أَرْضٍ بِالْمَشْرِقِ يُقَالُ لَهَا خُرَاسَانُ يَتْبَعُهُ أَقْوَامٌ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ] (مسند احمد: ۱۲، سنن ابن ماجه: ۴۰۷۲، جامع الترمذي: ۲۲۳۷)

ابوبکر رضي الله عنه وايي چې مونږ ته رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د جال به له مشرق څخه د خراسان په نوم ځای نه راووځي، داسې خلک به ورپسې وي چې پوزې به يې د ټکيدلي ډال په شان وي.

## هر پيغمبر خپل امت له دجال نه ډارولی دی

۱۸۲ عَنْ سَفِينَةَ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: [أَلَا إِنَّهُ لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ قَبْلِي إِلَّا حَذَّرَ الدَّجَّالَ أُمَّتَهُ، وَهُوَ أَعْوَرُ عَيْنِهِ الْيُسْرَى، بِعَيْنِهِ الْيُمْنَى ظُفْرَةٌ غَلِيظَةٌ، مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ] (مسند احمد: ۲۱۹۲۹)

د رسول الله صلی الله عليه وسلم غلام سفينه وايي: مونږ ته رسول الله صلی الله عليه وسلم خطبه راکړه وېويل: زما نه مخکې هيڅ پيغمبر نه دی تېر شوی مګر خپل امت يې له دجال څخه ډارولی دی، هغه په کينه سترګه شيړا دی، او په ښی سترګه يې قوي پرده پرته ده، او د سترګو ترمنځ يې کافر ليکل شوي دي.

## د دجال ښکاره نښې نښانې

۱۸۳ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [إِنِّي قَدْ حَدَّثْتُكُمْ عَنِ الدَّجَّالِ حَتَّى خَشِيتُ أَنْ لَا تَعْقِلُوا، إِنَّ مَسِيحَ الدَّجَّالِ رَجُلٌ قَصِيرٌ، أَفْحَجُ، جَعْدٌ، أَعْوَرُ مَطْمُوسُ الْعَيْنِ، لَيْسَ بِنَاتِئَةٍ، وَلَا حَجْرَاءَ، فَإِنْ أُلْبِسَ عَلَيْكُمْ، فَاعْلَمُوا أَنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ] (سنن ابي داود: ۴۳۲۰) صحيح الباني

له عباده بن صامت رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ما د دجال باره کې تاسو ته دومره معلومات درکړل چې پر تاسو يې له التباس څخه وډاريدم، مسيح دجال لنډيند، ګرندى، کوړى وړى ويښتانو والا، شيړا دى او په سترګه څه نه ويني، نه يې سترګه پوره بقه راوتې ده او نه بيخي ورکه ده، که التباس دربانديې راشي نو پوهه شئ چې ستاسو رب په سترګه معيوب (شيړا) نه دى.

## نېک عملونه له دجال څخه د خلاصون لار ده

۱۸٤ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرَ الدَّجَّالَ: [وَأَنَّهُ مَتَى يَخْرُجُ يَزْعُمُ أَنَّهُ اللَّهُ، فَمَنْ آمَنَ بِهِ وَصَدَّقَهُ وَاتَّبَعَهُ، لَمْ يَنْفَعْهُ صَالِحٌ مِنْ عَمَلِهِ سَلَفَ، وَمَنْ كَفَرَ بِهِ وَكَذَّبَهُ لَمْ يُعَاقَبْ بِشَيْءٍ مِنْ عَمَلِهِ، وَقَالَ حَسَنٌ الْأَشْيَبُ: بِسَيِّئٍ مِنْ عَمَلِهِ سَلَفَ، وَإِنَّهُ سَيَظْهَرُ، أَوْ قَالَ: سَوْفَ يَظْهَرُ، عَلَى الْأَرْضِ كُلِّهَا، إِلَّا الْحَرَمَ، وَبَيْتَ الْمَقْدِسِ، وَإِنَّهُ يَحْصُرُ الْمُؤْمِنِينَ فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ] (مسند احمد: ۲۰۱۷۸).

له سمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي صلى الله عليه وسلم د دجال ياداشت وکړ چې هغه کله هم راووځي نو اټکلوي به چې ګنې الله دى، که څوک پرې ايمان ولري، او په دعوه کې يې تصديق کړي او پيروکاري يې وکړي، نو مخکني نېک عملونه به ورته ګټه ونه رسوي، او څوک چې پرې کفر وکړي او دروغجن ورته ووايي نو هغه ته به يې سابقه بد عملونه زيان ونه رسوي، هغه به ډېر زر په ټوله ځمکه راښکند شي خو حِرَم او بيت المقدس ته به نه شي تللى، خو بيت المقدس کې به مسلمانان محاصره کړي.

## یاجوج ماجوج دومره ډېر دي

۱۸۵ وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ فِيْ حَدِيْثِ النَّوَاسِ بْنِ سَمْعَانَ عِنْدَ ذِكْرِ يَأْجُوْجَ وَمَأْجُوْجَ: [وَيَسْتَوْقِدُ الْمُسْلِمُونَ مِنْ قِسِيِّهِمْ وَنُشَّابِهِمْ وَجِعَابِهِمْ سَبْعَ سِنِينَ] (جامع الترمذي: ٢٢٤٠)

ترمذي د نواس بن سمعان رضي الله عنه په حديث کې د ياجوج او ماجوج له ذکر سره زيات کړي دي: مسلمانان به يې له ليندو او غشو او چانټيو څخه اووه کاله اورونه بل کړي.

## فتنګر به هم د دجال په فتنه اخته شي

۱۸۶ عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذُكِرَ الدَّجَّالُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [لَفِتْنَةُ بَعْضِكُمْ أَخْوَفُ عِنْدِي مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ لَيْسَ مِنْ فِتْنَةٍ صَغِيرَةٍ، وَلَا كَبِيرَةٍ إِلَّا تَضَعُ لِفِتْنَةِ الدَّجَّالِ فَمَنْ نَجَا مِنْ فِتْنَةٍ مَا قَبْلَهَا نَجَا مِنْهَا، وَاللَّهُ لَا يَضُرُّ مُسْلِماً، مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ] (مسند البزار: ٢٨٠٧)

حذيفه رضي الله عنه وايي: د نبي صلی الله عليه وسلم په مجلس کې د دجال ذکر وشو نو هغه وويل: د دجال له فتنې نه زه ستاسو ترمنځ فتنې باندې ډېر ډارېږم، هيڅ وړه او غټه فتنه نشته مګر د دجال فتنې ته لاندې راځي، که څوک له دغو فتنو څخه نجات ومومي نو له دجال فتنې څخه به هم نجات ومومي، الله پاک هيڅ مسلمان ته ستړې نه جوړوي، د دجال سترګو ترمنځ کافر ليکل شوي دي

## د (ان شاء الله) د کلمې زور

۱۸۷ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

السَّدِّ قَالَ: [يَحْفِرُونَهُ كُلَّ يَوْمٍ، حَتَّى إِذَا كَادُوا يَخْرِقُونَهُ قَالَ الَّذِي عَلَيْهِمْ: ارْجِعُوا فَسَتَخْرِقُونَهُ غَدًا، فَيُعِيدُهُ اللَّهُ كَأَشَدِّ مَا كَانَ، حَتَّى إِذَا بَلَغَ مُدَّتَهُمْ وَأَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَهُمْ عَلَى النَّاسِ. قَالَ الَّذِي عَلَيْهِمْ: ارْجِعُوا فَسَتَخْرِقُونَهُ غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ وَاسْتَثْنَى، قَالَ: فَيَرْجِعُونَ فَيَجِدُونَهُ كَهَيْئَتِهِ حِينَ تَرَكُوهُ فَيَخْرِقُونَهُ، فَيَخْرُجُونَ عَلَى النَّاسِ، فَيَسْتَقُونَ الْمِيَاهَ، وَيَفِرُّ النَّاسُ مِنْهُمْ، فَيَرْمُونَ بِسِهَامِهِمْ فِي السَّمَاءِ فَتَرْجِعُ مُخَضَّبَةً بِالدِّمَاءِ، فَيَقُولُونَ: قَهَرْنَا مَنْ فِي الأَرْضِ وَعَلَوْنَا مَنْ فِي السَّمَاءِ، قَسْوَةً وَعُلُوًّا، فَيَبْعَثُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ نَغَفًا فِي أَقْفَائِهِمْ فَيَهْلِكُونَ، فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ دَوَابَّ الأَرْضِ تَسْمَنُ وَتَبْطَرُ وَتَشْكَرُ شَكَرًا مِنْ لُحُومِهِمْ] (جامع الترمذي: ۳۱۵۳، سنن ابن ماجه: ۴۰۸۰)

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د ياجوج ماجوج ديوال باره کې فرمايي: هر ورځ يې کندي، کله چې يې نړولو ته نزدې شي مشر يې ووايي: واپس شئ نور به سبا ونړوئ، نو الله پاک يې له مخکې څخه سبا له لا پسې مضبوط کړي، کله چې ورته بيا نزدې شي او الله يې پرخلکو د راويستلو اراده کړي وي مشر به يې ورته ووايي: واپس شئ نور به ان شاء الله سبا ونړوئ، نو ان شاء الله به ووايي، دوی به لا ړ شي په سبا چې کله راشي نو هومره به پاتې وي چې څومره يې نړولې وي نو مزيد به يې ونړوي، پر خلکو به ياجوج ماجوج راووځي، اوبه به وڅښي او خلک به ترې وتښتي، اسمان ته به غشي وولي بيرته به په وينو تک سره راولويږي، دوی به ووايي: د ځمکې والا و ته مو شکست ورکړ او په زوره جبر مو د اسمان والا و ته هم شکست ورکړ، نو الله پاک به يې په څټونو کې چينجي پيدا کړي نو هلاک به شي، په هغه ذات مې دې قسم وي چې د محمد نفس يې په لاس کې دی د ځمکې حيوانات به يې په غوښو باندې چاغ او وازدې ونيسي.

# د (دابې) متعلق تفصیلي بیان

## د دابې د راوتو ځای

۱۸۸ عَنْ عَبْدِاللَّه بْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيه، قَالَ: ذَهَبَ بِي رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ، إِلَى مَوْضِعٍ بِالْبَادِيَة قَرِيبٍ مِنْ مَكَّةَ، فَإِذَا أَرْضٌ يَابِسَةٌ حَوْلَهَا رَمْلٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: [تَخْرُجُ الدَّابَّةُ مِنْ هَذَا الْمَوْضِعِ، فَإِذَا فِتْرٌ فِي شِبْرٍ» قَالَ ابْنُ بُرَيْدَةَ: فَحَجَجْتُ بَعْدَ ذَلِكَ بِسِنِينَ، فَأَرَانَا عَصًا لَهُ فَإِذَا هُوَ بِعَصَايَ، هَذِه هَكَذَا، وَهَكَذَا] (سنن ابن ماجه: ۴۰۶۷، مسند احمد: ۲۳۰۲۳)

عبدالله له خپل پلار بريده رضي الله عنه نه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم زه د مکې لنډې مېرې ته بوتلم، وچه کرسه ځمکه وه چې شاوخوا يې شګې پرتې وې نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: دابه (حيوان) به له دې ځای څخه راوځي نو ددغه ځای اندازه يوه لويشت اورده او څه کم لويشت پلنه وه، ما دوه کاله وروسته بيا حج وکړ نو د هغه امسا يې راته پکې راوښوده چې زما د امسا په دومره دومره اندازه کې وه.

## (دابه) به کافر او مسلمان هم پېژني

۱۸۹ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ الله عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ، قَالَ: [تَخْرُجُ الدَّابَّةُ وَمَعَهَا خَاتَمُ سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ، وَعَصَا مُوسَى بْنِ عِمْرَانَ، عَلَيْهِمَا السَّلَامُ، فَتَجْلُو وَجْهَ الْمُؤْمِنِ بِالْعَصَا، وَتَخْطِمُ أَنْفَ الْكَافِرِ بِالْخَاتَمِ، حَتَّى أَنَّ أَهْلَ الْحِوَاءِ لَيَجْتَمِعُونَ، فَيَقُولُ: هَذَا يَا مُؤْمِنُ وَيَقُولُ هَذَا: يَا كَافِرُ] (جامع الترمذي: ۳۱۸۷، سنن ابن ماجه: ۴۰۶۶) ضعفه الباني

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: دابه (حيوان) به راووځي او د سليمان عليه السلام ګوتمه او د موسی

علیه السلام امسا به ورسره وي، د موسی علیه السلام په امسا به د مومن مخ روښانوي، په ګوتمه باندې د کافر په پوزه نښه ږدي، تر دې په اوبو باندې خلک راغونډ شي او یو بل ته به د (دا کافر دی، دا مسلمان دی) خبرې کوي.

## د دابې تخلیقي کیفیت

۱۹۰ عَنِ ابْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّهُ وَصَفَ الدَّابَّةَ فَقَالَ: رَأْسُهَا رَأْسُ ثَوْرٍ، وَعَيْنُهَا عَيْنُ خِنْزِيرٍ، وَأُذُنُهَا أُذُنُ فِيلٍ، وَقَرْنُهَا قَرْنُ أَيَّلٍ، وَعُنُقُهَا عُنُقُ نَعَامَةٍ، وَصَدْرُهَا صَدْرُ أَسَدٍ، وَلَوْنُهَا لَوْنُ نَمِرٍ، وَخَاصِرَتُهَا خَاصِرَةُ هِرٍّ، وَذَنَبُهَا ذَنَبُ كَبْشٍ، وَقَوَائِمُهَا قَوَائِمُ بَعِيرٍ، بَيْنَ كُلِّ مَفْصَلَيْنِ اثْنَا عَشَرَ ذِرَاعًا، تَخْرُجُ مَعَهَا عَصَا مُوسَى، وَخَاتَمُ سُلَيْمَانَ، فَلَا يَبْقَى مُؤْمِنٌ إِلَّا نَكَتَت فِي وَجْهِهِ بِعَصَا مُوسَى نُكْتَةً بَيْضَاءَ، فَتَفْشُو تِلْكَ النُّكْتَةُ حَتَّى يَبْيَضَّ لَهَا وَجْهُهُ، وَلَا يَبْقَى كَافِرٌ إِلَّا نَكَتَت فِي وَجْهِهِ نُكْتَةً سَوْدَاءَ بِخَاتَمِ سُلَيْمَانَ، فَتَفْشُو تِلْكَ النُّكْتَةُ حَتَّى يَسْوَدَّ لَهَا وَجْهُهُ، حَتَّى إِنَّ النَّاسَ يَتَبَايَعُونَ فِي الْأَسْوَاقِ: بِكَمْ ذَا يَا مُؤْمِنُ، بِكَمْ ذَا يَا كَافِرُ؟ وَحَتَّى إِنَّ أَهْلَ الْبَيْتِ يَجْلِسُونَ عَلَى مَائِدَتِهِمْ، فَيَعْرِفُونَ مُؤْمِنَهُمْ مِنْ كَافِرِهِمْ، ثُمَّ تَقُولُ لَهُمُ الدَّابَّةُ: يَا فُلَانُ، أَبْشِرْ، أَنْتَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَيَا فُلَانُ، أَنْتَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ. فَذَلِكَ قَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى: {وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ] (تفسير البغوي: ٣ / ٥١٦، تفسير ابن كثير: ٦ / ٢١٤).

ابن زبیر وایي چې د دابې سر یې د غویي، سترګې یې د خنزیر، غوږونه یې د فیل، ښکرونه یې د غرڅني سیرلي، څټ یې د شترمرغ، سینه یې د زمري، او رنګ یې د پړانګ، او تشي یې د پیشو، او لکۍ یې د ګډي، او خپې یې د اوښ دي، هر بند یې له بل څخه دولس ګزه (څنګله) لري دی، په داسې حالت کې به راووځي چې د موسی علیه السلام امسا او د سلیمان علیه السلام ګوتمه به ورسره وي، هیڅ مومن به پرې نه ږدي مګر په مخ به ورته د موسی علیه السلام په امسا نقطه کیږدي، دغه نقطه دومره غټه شي چې مخ یې تک سپین شي او هیڅ کافر به پاتې نه شي مګر د سلیمان علیه السلام په ګوتمه به ورته په مخ نښه کیږدي، دغه نښه به یې

په تهول مخ خوره شي او مخ به يې تک تور شي، تر دې چې خلک به په بازار کې په دې خبره نرخ کوي چې مومنه دا په څو دی او کافره دا په څو دی؟ په يو کور کې به په دستارخوان کورني غړي ناست وي او مومن او کافر به پکې پېژني، بيا به ورته دغه دابه وايي فلانيه! مبارک دې شه ته جنتي يې او فلانيه! ته دوزخي يې، دا د الله د دې قول معنا دی چې [او کله چې په دوی (د عذاب) خبره ثابته شي (او قيامت رانژدې شي، نو) مونږ به دوی ته له ځمکې نه يوه دابّه (ژوندی خوځنده) راوباسو، چې له دوی سره به خبرې کوي، چې بېشکه خلقو به زمونږ په ايتونو يقين نه کاوه]

## دابه به څنګه راڅرګنده شي؟

۱۹۱ عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدَّابَّةَ فَقَالَ: [لَهَا ثَلَاثُ خَرَجَاتٍ مِنَ الدَّهْرِ فَتَخْرُجُ فِي أَقْصَى الْبَادِيَةِ وَلَا يَدْخُلُ ذِكْرُهَا الْقَرْيَةَ يَعْنِي مَكَّةَ ثُمَّ تَكْمُنُ زَمَانًا طَوِيلًا، ثُمَّ تَخْرُجُ خَرْجَةً أُخْرَى دُونَ ذَلِكَ فَيَعْلُو ذِكْرُهَا فِي أَهْلِ الْبَادِيَةِ وَيَدْخُلُ ذِكْرُهَا الْقَرْيَةَ» يَعْنِي مَكَّةَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ثُمَّ بَيْنَمَا النَّاسُ فِي أَعْظَمِ الْمَسَاجِدِ عَلَى اللَّهِ حُرْمَةً خَيْرِهَا وَأَكْرَمِهَا الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ لَمْ يَرُعْهُمْ إِلَّا وَهِيَ تَرْغُو بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ تَنْفُضُ عَنْ رَأْسِهَا التُّرَابَ فَارْفَضَّ النَّاسُ مَعَهَا شَتَّى وَمَعًا، وَثَبَتَ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَعَرَفُوا أَنَّهُمْ لَنْ يُعْجِزُوا اللَّهَ فَبَدَأَتْ بِهِمْ فَجَلَّتْ وُجُوهَهُمْ حَتَّى تَجْعَلَهَا كَأَنَّهَا الْكَوْكَبُ الدُّرِّيُّ وَوَلَّتْ فِي الْأَرْضِ لَا يُدْرِكُهَا طَالِبٌ وَلَا يَنْجُو مِنْهَا هَارِبٌ حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَعَوَّذُ مِنْهَا بِالصَّلَاةِ فَتَأْتِيهِ مِنْ خَلْفِهِ فَتَقُولُ يَا فُلَانُ، الْآنَ تُصَلِّي فَيُقْبِلُ عَلَيْهَا فَتَسِمُهُ فِي وَجْهِهِ ثُمَّ تَنْطَلِقُ وَيَشْتَرِكُ النَّاسُ فِي الْأَمْوَالِ وَيَصْطَحِبُونَ فِي الْأَمْصَارِ يُعْرَفُ الْمُؤْمِنُ مِنَ الْكَافِرِ حَتَّى إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَقُولُ: يَا كَافِرُ اقْضِنِي حَقِّي وَحَتَّى إِنَّ الْكَافِرَ يَقُولُ: يَا مُؤْمِنُ اقْضِنِي حَقِّي] (مسند ابي داود الطيالسي: ١١٦٥)

له حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يوه وخت (دابه) ياده کړه نو وېويل: دابه به درې ځل راووځي، په لرې بانډو کې به راووځي

خو ترمکې به یې یاد او ذکر راونه رسیږي، بیا به تر ډېره پټه وي بیا مکې ته لږه نږدې راووځي په باندېو او په مکه کې به يې ذکر خپور شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: بیا به خلک په داسې غټ مسجد کې وي چې د الله په وړاندې حرمت لري، چې غوره او ښه یې مسجد حرام دی، دوی به نه ډاروي خو د مقام او رکن ترمنځ به اوازونه کوي او له سر څخه به خاورې شیندي، خلک به جلا شي، څه به له دابې سره او څه به ځانله، خو مومنان به په خپل دربځ کلک ودریږي او پوهه به شي چې دوی الله پاک نه شي عاجزه کولی، له دوی څخه به پېل واچوي او مخونه به یې دومره سپین کړي لکه وړانګین ستوری، بېرته به لاړه شي، نه به یې څوک راونیولی شي او نه به ترې څوک تښتېدلی شي، تر دې چې یو سړی به ترې په لمونځ پورې پناه یوسي خو دا به یې تر شا راشي او ورته به ووایي: ای فلانکی! ایا ته لا اوس لمونځ هم کوې؟ هغه به ورته مخ راوګرځوي په مخ به ورته نښه وکړي او بیا به لاړه شي، خلک به په مالونو (تجارتونو) کې سره شریک وي او ښارونو کې به سره ګډوډ وي، مومن به له کافر څخه پېژندلی شي، مومن به کافر ته وایي: ای کافره زما حق راکړه، او کافر به وایي: ای مومنه زما حق راکړه.

## دابه به څومره غټه وي؟

۱۹۲ عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ تَخْرُجُ الدَّابَّةُ مِنْ صَدْعٍ فِي الْكَعْبَةِ كَجَرْيِ الْفَرَسِ ثَلَاثَةَ أَيَّام لَا يَخْرُجُ ثُلُثُهَا] (تفسير القرطبي: ١٣ / ٢٣٧)

عطیه عوفي له ابن عمر نه نقلوي چې دابه به په کعبه کې له چاو څخه راوځي، درې ورځې به د اس په مزل تېزه راووځي خو بیا به یې یوه حصه هم نه وي راوتې.

## هغه خلک چې قیامت به پرې راشي

۱۹۳ عَنْ عَبْدُالرَّحْمَنِ بْنُ شِمَاسَةَ الْمَهْرِيُّ، قَالَ: كُنْتُ عِنْدَ مَسْلَمَةَ بْنِ مُخَلَّد، وَعِنْدَهُ عَبْدُاللهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، فَقَالَ عَبْدُاللهِ: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا عَلَى شِرَارِ

الْخَلْق، هُمْ شَرٌّ مِنْ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّة، لَا يَدْعُونَ اللهَ بِشَيْءٍ إِلَّا رَدَّهُ عَلَيْهِمْ، فَبَيْنَمَا هُمْ عَلَى ذَلِكَ أَقْبَلَ عُقْبَةُ بْنُ عَامِرٍ، فَقَالَ لَهُ مَسْلَمَةُ: يَا عُقْبَةُ، اسْمَعْ مَا يَقُولُ عَبْدُالله، فَقَالَ عُقْبَةُ: هُوَ أَعْلَمُ، وَأَمَّا أَنَا فَسَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «لَا تَزَالُ عِصَابَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى أَمْرِ الله، قَاهِرِينَ لِعَدُوِّهِمْ، لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ، حَتَّى تَأْتِيَهُمُ السَّاعَةُ وَهُمْ عَلَى ذَلِكَ»، فَقَالَ عَبْدُالله: أَجَلْ، «ثُمَّ يَبْعَثُ اللهُ رِيحًا كَرِيحِ الْمِسْكِ مَسُّهَا مَسُّ الْحَرِيرِ، فَلَا تَتْرُكُ نَفْسًا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنَ الْإِيمَانِ إِلَّا قَبَضَتْهُ، ثُمَّ يَبْقَى شِرَارُ النَّاسِ عَلَيْهِمْ تَقُومُ السَّاعَةُ] (صحيح مسلم: ١٩٢٤).

عبدالرحمن بن شماسه وايي زه له مسلمه بن مخلد سره وم او عبدالله بن عمرو بن العاص هم ناست و، نو عبدالله رضي الله عنه وويل: قيامت نه قائميږي مګر د الله په شرپسند قوم به قائميږي، دوی به د جاهليت د دور خلکو نه هم بدترين وي، دوی چې له الله هر څه غواړي مګر الله به يې ورکړي، دوی لا ناست و چې عقبه بن عامر رضي الله عنه راغی، مسلمه ورته وويل: وروره دې غوږ شه چې څه وايي؟ عقبه وويل: دغه ښه پوهيږي خو ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې ويل يې: زما له امت څخه به يوه ډله تر هغه له دښمن سره جنګ کوي چې قيامت به راشي او دوی ته به يې مخالفين هيڅ زيان نه شي رسولی، عبدالله وويل: بيا به الله د مسکو په څير خوشبودار باد راوالوځوي لکه سړی چې ورېښمو ته لاس وروړي، هيڅ داسې څوک به پرې نه ږدي چې د دانې قدر ايمان هم پکې وي مګر وفات به يې کړي، بيا به شرپسند خلک پاتې شي پر هغوی به قيامت قايم شي.

## حقيقي مجاهدين به له دجال سره جنګ وکړي

**١٩٤** عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ عَلَى مَنْ نَاوَأَهُمْ، حَتَّى يُقَاتِلَ آخِرُهُمُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ.وَكَانَ مُطَرِّفٌ يَقُولُ: هُمْ أَهْلُ الشَّامِ]

(سنن ابي داود: ٢۴٨۴، مسند احمد: ١٩٩٢٠)

له عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه

وسلم فرمايي: زما له امت څخه به یوه ډله داسې وي چې د حق لپاره به جنګیږي هغه څوک به ورته زيان نه شي رسولی چې دښمني ورسره لري، تر دې چې اخرنی نفر به يې له دجال سره هم جنګ وکړي. مطرف به ویل: دغه خلک د شام والا دي.

## د دنیا زندګي

۱۹۵ قَالَ البَيْهَقيْ وَرُوِيَ عَن ابْن عَبَّاس مِنْ طُرُق صِحَاح أَنَّهُ قَالَ: الدُّنْيَا سَبْعَةُ أَيَّام، كُلُّ يَوْم أَلْفُ سَنَةٍ وَبُعِثَ رَسُوْلُ اللهِ فِيْ آخِرهَا، وَصَحَّحَ أَبُوْجَعْفَرٍ هَذا الأَصْلَ وَعَضَّدَهُ بِآثَارٍ.

بیهقي وايي: له ابن عباس رضي الله عنه نه په صحيح سند سره روایت شوی دی چې هغه ویلي دي: دنیا اووه ورځې دي او هر ورځ يې زر کاله ده، او رسول الله صلی الله علیه وسلم يې په اخرنۍ ورځ کې رالیږدول شوی دی، ابوجعفر دې اصل ته صحیح ویلي دي او د قوت لپاره يې ورله نور اثار هم ذکر کړي دي.

۱۹۶ قَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ: [إِنَّمَا الدُّنْيَا جُمُعَةٌ مِنْ جُمَعِ الْآخِرَةِ] (الزهد لابن ابي الدنيا: ۱ / ۱۷۲، ذم الدنيا: ۱ / ۱۱۸)

سعيد بن جبير وايي: په يقين سره چې دنيا د اخرت له اوونيو څخه يوه اونی ده.

۱۹۷ عن ابن عباس قال: [قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم المدينة، ويهود تقول: إنما مدة الدنيا سبعة آلاف سنة، وإنما يعذب الناس في النار بكل ألف سنة من أيام الدنيا، يوما واحدا في النار من أيام الآخرة، فإنما هي سبعة أيام، ثم ينقطع العذاب. فأنزل الله عز وجل في ذلك من قولهم: (لن تمسنا النار) الآية] (تفسير الطبري: ۸۰ باب، ۲ /۲۷۸)

ابن عباس رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله مديني ته راغی یهودانو به ویل: دنیا به اووه زره کاله وي، په اور کې به خلکو ته د دنیا په ورځو زر کاله سزا ورکړل کیږي چې د اخرت یوه ورځ جوړیږي، څکه اخرت اووه

ورځې دی بیا به عذاب ختم شي، نو الله پاک يې اړوند دا قول نازل کړ: دوی وايي چې مونږ ته به اور راونه رسيږي مګر معلومې ورځې...

## اسلام دائمي دين دى

۱۹۸ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «لَنْ يَبْرَحَ هَذَا الدِّينُ قَائِمًا، يُقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ» (صحيح مسلم: ۱۹۲۲، مسند احمد: ۲۱۰۴۵)

له جابر بن سمرة رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: دا دين به تل ودان وي، د مسلمانانو يو ډله به پرې تر هغه جنګ کوي چې د قيامت ورځ راشي

## د حق لپاره مجاهدين به تل غالبه وي

۱۹۹ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ عَلَى مَنْ نَاوَأَهُمْ، حَتَّى يُقَاتِلَ آخِرُهُمُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ» (سنن ابي داود: ۲۴۸۴، مسند احمد: ۱۹۹۲۰)

له عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: زما له امت څخه به يوه ډله هميشه لپاره په حق باندې جنګيږي، او پر هغه چا به غالبه وي چې ورسره دښمني کوي، تر دې چې اخرنی نفر به يې د دجال سره هم جنګ وکړي.

والله اعلم، وصلى الله على نبينا محمد وعلى اله وصحبه وسلم.




10
2
6
4 JEWELS

IslamHouse.com

islamhouseps IslamHousePs IslamHousePs islamhouse.com/ps/

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM

contact us :Books@guidetoislam.com

GuidetoIslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com


المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

هاتف: ٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠+ فاكس: ٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦+ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧

ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH

P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

# د قیامت نښې نښانې

د کتاب په اړه: په نړۍ کې الله پاک خپل تقدیر او پرېکړې لري، انسان او پیرى یې پر نیکو او ناوړه عملونو ازمويي، زمونږ اړوند الله پاک په ګردو پرېکړو کې حکمتونو او رازونه لري چې ځینې يې مونږ پیژنو او ځینې نور یې نه مونږ پیژنو او نه به یې وپیژنو، هغه خپلو بندګانو ته په قران کریم او نبوي سنتونو کې روښانه کړي چې له فتنو څخه به نجات څنګه ترلاسه کولی شي؟ او په دې مونږ ډېر ښه ګواه یوو چې اسلام له فتنو څخه د خلاصون لارې ګودرې خلکو ته ښوولي دي، شیخ الاسلام محمد بن عبدالوهاب رحمه الله دغه فتنې راغونډې کړې دي او مومن ته یې د نبوي ارشاداتو له مخې د خلاصون لاره روښانه کړې ده چې څنګه ترې سالم او غانم وتلی شي؟ ستاسو تر مخې ژباړل شوی کتاب ټولو فتنو ته کامل او شامل دی، د ډېر اهمیت له مخې مو پښتو ته هم وژباړه، له الله څخه غواړو چې دغه زیا رمو په خپل دربار کې قبول کړي.




IslamHouse.com
مركز أصول
OsoulCenter
www.osoulcenter.com
Rabwah